



Ketabton.com


دا کتاب وه
افغان کتابتون
ته اوچت شوي دي


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان کتابتون

تاسو زموږ په اپلیکېشن کې د پښتو ژبې
ناولونه
ادبی کتابونه
شاعري کتابونه
سیاسي کتابونه
تاریخی کتابونه
د علم طب کتابونه
د انجنیري په اړه کتابونه
د ښوونځي کتابونه
مونوګرافونه
د ماشومانو لپاره کتابونه
د فلسفي کتابونه
او داسي نور ډیر کتابونه تر لاسه کولای شئ.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The

افغان کتابتون

زموږ اپلیکیښن د ګوګل پلي سټور

(Google Play Store)

سخه وه خپل موبایل ته را ډانلوډ کړي

په ګوګل پلي سټور کي


افغان کتابتون

یا

Afghan kitabtoon

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتاریخ په رڼاکي

د ډاکټر مبارک علي د پنځه څلویښتو تحقیقي او تاریخي
مقالو مجموعه











ژباړونکی: نوید آرین

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تاريخ په رڼاکي

د ډاکټر مبارک علي د پنځه څلوېښتو تحقيقي او تاريخي

مقالو مجموعه

ژباړونکی:

نويد آرين

PUBLISHED BY:
Sahaf Book Publishing Institution
Quetta
2009

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتاب د چاپ ټول حقوق
د صحاف نشراتي مؤسسې سره خوندي دي!

**د کتاب پېژندنه:**

******************************************************

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د تاريخ په رڼا کې |
| ليکوال | :: | ډاکټر مبارک علي |
| ژباړونکی | :: | نويد آرين |
| کمپوز | :: | مترجم |
| خپروونکی، اهتمام او د ټايټل طرحه | | ⇦ صحاف نشراتي مؤسسه- کوټه |

hamdullahsahaf@yahoo.com
فون:- ۰۸۱-۲۶۶۴۲۳۶

| | | |
|---|---|---|
| د چاپ شمېر | :: | (۱۰۰۰) زر ټوکه |
| د چاپ کال | :: | ۱۳۸۸ ال لومړی چاپ |

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرليکونه


| شمېره | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د ناشر خبري | ۷ |
| ۲. | د ژباړونکي سريزه | ۹ |
| ۳. | د مسلمانانو تاريخ | ۲۵ |
| ۴. | اسلام او پاچاهي | ۴۳ |
| ۵. | مسلمانان او نوښت | ۵۱ |
| ٦. | اوسنی کړکېچ او مسلمان هيوادونه | ٦۷ |
| ۷. | په اسلام کې دننه مبارزه | ۷۲ |
| ۸. | د مسلمانو ټولنو څېړنه | ۷۸ |
| ۹. | د هند مسلمانان | ۸۲ |
| ۱۰. | لوېديز وال او اسلام | ۱۰۴ |
| ۱۱. | صليبي جنګونه که د شرق او غرب تصادم | ۱۱۰ |
| ۱۲. | شرق او غرب | ۱۱۵ |
| ۱۳. | د نصرانيت د اوج زمانه | ۱۲٦ |
| ۱۴. | د کاتوليکانو مذهبي سخت دريزي | ۱۳۸ |
| ۱۵. | ياغيان او تاريخ | ۱۴۴ |
| ۱٦. | بيا رغښت | ۱۴۹ |
| ۱۷. | د اصلاح غورځنګ | ۱٦۲ |
| ۱۸. | روښان فکري | ۱۸۲ |
| ۱۹. | د فرانسې انقلاب | ۱۹۴ |
| ۲۰. | د انګلستان صنعتي انقلاب | ۲۰۷ |
| ۲۱. | کولمبوس قاتل، مجرم او که اتل؟ | ۲۲۷ |
| ۲۲. | امريکا تاريخ نه درلود | ۲۳٦ |


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳. د دیکتاتورانو لاربسود ناپلیون ........................ ۲۴۱
۲۴. نازي هټلر ........................ ۲۴۸
۲۵. تاریخ د ځان په ګټه ........................ ۲۵۴
۲۶. مؤرخ باید څه وکړي ........................ ۲۵۹
۲۷. رشتوني تاریخ ........................ ۲٦۱
۲۸. تاریخ او تېر مهال ........................ ۲٦۴
۲۹. د خلکو غمیزه ........................ ۲۷۴
۳۰. د سپېڅلو خلکو لمانځنه ........................ ۲۷۷
۳۱. جنګ او ټولنه ........................ ۲۸۹
۳۲. تمدني جرمونه ........................ ۲۹۸
۳۳. متمدن او وحشي ........................ ۳۰۲
۳۴. توکمیز توپیرونه ........................ ۳۰۷
۳۵. د ملتپالني نظریات ........................ ۳۱۷
۳٦. د سیاسي پوهې تکامل ........................ ۳۲۲
۳۷. ښځې په هندي ټولنه کې ........................ ۳۲۷
۳۸. ښځې په لرغوني مصر کې ........................ ۳۳٦
۳۹. ښځې په لرغوني یونان کې ........................ ۳۴۳
۴۰. راپرزېدنه او بیرته ژوند ........................ ۳۵۳
۴۱. د مزدورانو او یاغیانو وسلې ........................ ۳۵۸
۴۲. په هند کې بغاوتونه ........................ ۳٦۳
۴۳. ښوونیزې ادارې او د هغوی رول ........................ ۳٦۸
۴۴. تاریخ او کوچنیان ........................ ۳۷۱
۴۵. د مالکې تاریخ ........................ ۳۷۷
۴٦. د اوښکو تاریخ ........................ ۳۸۳
۴۷. د مرګ سزا ........................ ۳۸۹

❁❁❁

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناشر خبرې

دا د نامتو مؤرخ ډاکتر مبارک علي د مقالو دويمه ټولګه ده چې په پښتو ژبه ترجمه کېږي او صحاف نشراتي مؤسسه يې خپروي. ډاکتر مبارک علي پر تاريخي موضوعاتو څېړنې کوي. ګڼ ليکوال او مؤلفان له دې سره دلچسپي لري چې د تېرو زمانو د پېښو په باب ليکنې او څېړنې وکړي مګر د دوی ډېر لږ کسان په تاريخ کې تخصص لري او په دغه علم کې يې د نړۍ په لويو پوهنتونو کې زده کړې کړې دي. ډاکتر مبارک علي د دغو لږو کسانو د سر د قطار سړی دی.

تاريخ که سم وليکل شي، موږ د تېرو خلکو د ژوند کلونو په تجربو کې شريکوي او داسې څراغ په لاس کې راکوي چې د نن او سبا لاره ورباندې روښانه ليدلای شو.

د تاريخ سم ليکل په لازم مهارت او ژورې پوهې سربېره، له مؤرخ څخه بې طرفي غواړي. هغه مؤرخ چې له خاصو نظريو، فرقو، قامونو يا هيوادونو سره دلچسپي لري او د خپلو دغو ذاتي دلچسپيو او يا نفرتونو په رڼا کې تاريخ ليکي، هغه داسې څه نه شي ليکلای چې د لارې څراغ مو شي ډاکتر مبارک علي له هغو ماهرينو څخه دی چې خپلې څېړنې تر وسه وسه له خپل شخصي حب او بغضه ليرې ساتي. دی د واقعي عالم په توګه پېښو ته د خپلو احساساتو، عواطفو او جذباتو له مداخلې پرته ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخ یو ماهر که پر خپلو ذاتي تمایلاتو پښه کښېږدي او یوازي حقیقت ته وفادار پاته شي، بیا به هم تر هغو پوري د لوی مؤرخ مقام حاصل نه کړي چي د تېرو زمانو په پېښو کي پټي معناوي او د دغو معناوو تر منځ تسلسل و نه مومي. ډاکتر مبارک علي یو سترګور مؤرخ دی. دی مو یوازي له پېښو نه خبروي بلکي د پېښو ترمنځ تړون ته یې هم پام دی او د پېښو له حجابونو ور ها خوا د معنا ناوې هم را ښکاروي، ځکه نو په ډاډ سره ویلای شو چي دی لوی مؤرخ دی او د ده لیکني لوستونکي ته هغه څه ور زده کولای شي چي له تاریخه یې توقع لرو.

علاوه پر دغه امتیازونو د ډاکتر مبارک علي یو بل امتیاز دا دی چي په لږو لفظونو کي ډېري خبري راته کوي. د ده هره مقاله په حقیقت کي د یو کتاب خبرو خلاصه ده. که و وایو چي د دې کتاب په لوستلو سره به مو د لسګونو کتابونو د لوستلو په اندازه خبري زده کړي وي، نو مبالغه به مو نه وي کړې.

صحاف نشراتي اداره ویاړي چي په پښتو ژبه د تاریخ د دغه لوی عالم د مقالو دویم کتاب خپروي. دلته باید د کتاب د لایق او زیارکښ ژباړن ښاغلي نوید آرین یادونه او قدرونه هم وکړو چي که د ده زیار او لیاقت نه وای نو د دغه خورا ګټور کتاب دومره سمه او فصیحه ژباړه به مو مخي ته نه وه ایښې. والسلام

**د صحاف نشراتي مؤسسې اداره**

۱۳۸۸ل منی، کوټه.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړونکي سريزه

د تاريخ سره د انسان لېوالتيا له لرغوني زمانې څخه ده کله چې انسان لا د تهذيب او تمدن سره آشنايي نه وه پيدا کړې، په نيمه وحشي دور کې يې ژوند کاوه او په قبيلوي وېشونو کې ګير و، هغه وخت د مشرانو د برياوو د خوندي کولو احساس ورته وشو مشران او لويان هغه خلک وو چې د خپلې هوښيارتيا او پياوړتيا له کبله يې ځانګړې نوم ګټلی و، دا هغه زړه ور او غښتلي خلک وو چې خپلې قبيلې ته يې پر نورو قبايلو لوړتيا وربخښلې وه او د سياسي، ټولنيزو او اقتصادي ګټو څخه برخمن وو عامو وګړو ته مهمه وه چې د داسې خاصو خلکو وړتياوې په ياد ولري په دې وخت کې د اسطورو او اتلانو د کيسو پيل وشو د وخت په تېرېدو سره په اتلانو د سپېڅلتيا جامه واغوستل شوه آخر د معبودانو درجې ته ورسېدل منظومو جنګنامو، اسطورو او سندرو راتلونکي نسلونو ته د اتلانو د برم او وياړ ستري کارنامې بيانولې او د هغوی حيرانوونکي وړتياوې يې په ګوته کولې د منظومو جنګنامو په يادول آسانه کار و، خلکو په شوق او لېوالتيا سره په يادولې او سينه په سينه يې راتلونکي نسلونو ته نقلولې نن هم د پخوا په شان د نظم دغه صنف شتون لري.

د تاريخ پيل د نثر پر ځای د شعر په ژبه وشو لومړنيو داستان ويونکو مؤرخينو شاعرانه وړتياوې هم درلودې که څه هم هغوی د دې خبرې سره کومه مينه نه درلوده چې د هغوی داستان ګويي د تاريخ پر معيارونو پوره خيژي که نه، هغوی دې ته اهميت ورکاوه چې په خپله داستان ګويي سره اورېدونکي اغېزمن کړي د هغې زمانې داستان ګويي د اوسني تاريخ لومړنۍ بڼه ده او دا هغه صنف و، چې د هيچا ملکيت نه و، او د ټولو مشترک و، په جوړښت کې يې د ډېرو خلکو برخه وه ځکه هر چا کولای شوای چې پېښې په

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظومه بڼه راغونډې کړې په یاد یې کړې په خلکو یې واورې او پخپله هم خوند ورڅخه واخلي د هغه زمانې د لومړني منظوم ادب نظریه روښانه او معلومه وه او هغه دا وه کوم خلک چې زبردستي ور تیاوي لري هغوی د ستایلو او عبودیت وړ دي همدا لامل دی چې د هغه زمانې وګړو نومیالیان او اتلان د معبودیت پوړ ته ورسول د هغوی سره اړه لرونکي نورو توکو ته یې هم د معبودیت حق ور وباخښه.

وروسته چې په بابل او مصر کې لیکدود ایجاد شو زراعت د پرمختګ پړاوونه پی کړل ډله ییز وېش رامنځته شو په ټولنیز کالبوت کې بنسټیز بدلونونه راغلل د قبایلي او اساطیري اتلانو او نومیالیانو په مقابله کې د حکومت او مذهب ادارې په وجود راغلې نوي راتلونکي ادارې زاړه نظام ته ګوته ونیوله په دې اداره کې د قوت سرچینه پاچا او د هغه امیران وو په زاړه قبایلي نظام کې قبیلوي مشرانو ارزښت درلود مګر پاچا او امیرانو د خپلو صلاحیتونو او بهادرۍ په زور د قبیلوي مشرانو ارزښت ور کم کړ هغوی د مذهب د ادارې له لارې قوانین پلي کړل لرغوني اسطورې جنګنامې او د پخوانیو اتلانو منظومې برپاوې او د هغوی سره اړونده عقیدې یې د مذهب برخه وګرځولې د مذهب ادارې د لوستو خلکو ډله پیدا کړه لوستو خلکو ولسي ادب ولیکه په دې وخت کې لومړی ځل په نالوستې ډله کې د وروسته پاته والي احساس وده وکړه له دې څخه ناهیلي وزېږېدله دلته د حاکم او د محکوم تصور پیدا شو او په کلاسیکي تاریخ کې ټکرونه راوټوکېدل.

یوې خوا ته ولسونو زاړه سندریز ارزښتونه زمزمه کول بلې خوا ته د پاچاهانو په ستاینه کې نظمونه ولیکل شول او دا د تشریحي تاریخ لومړنی نمونې وې په دې وخت کې په شمالي افریقا کې فونیقیانو د لیکدود په خپرولو سره بیاني تاریخ پیل کړ چې په خپرېدلو سره په شاوخوا هیوادونو بابل، سوریه او یونان کې دود یز شو.

د یهودو کتاب "الایام" د تاریخ لیکنې لومړی مثال بلل کېدلای شي مګر سنه و کال نه لري په یونان کې زېږېدلي هیرودوتس ته د تاریخ بابا ویل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه په تاریخ کې ربط لیدل کېږي تر دې دمخه دغه شي وجود نه درلود یوازې پاشلې ټوټې وې چې هغه ته پرله پورې تاریخ نه شو ویلای هیرودوتس د خپلو پېشروانو په شان بېلې بېلې کیسې په خپل کتاب کې لیکلې د هغه په کتاب کې واقعاتي تسلسل وجود لري ځکه په مجموع کې د هغه کتاب د تاریخ کتاب بلل کېدلای شي که څه هم هغه د تاریخ اصطلاح نه کاروي مګر د تاریخ د لومړي نقش خطاب ورکول کېږي د هغه کتاب ته ډېر هیله مند کېدل په کار نه دي ځکه چې هیرودوتس د تاریخ د پروسې د قوانینو او اسبابو څخه مطلق ناخبره دی هیردوتس دا خبره هم مني چې امکان لري چې خارجي او خارق العاده قوتونه د انسانانو پر کړنو باندې اغېزمن شي د هغه تاریخ لیکنې علمي نیمګړتیاوې درلودې تر دې وروسته تهیوسي دایدس نومې مؤرخ جنګي تاریخ ولیکه دا د اماتور تاریخ لیکنې پیل و، هغه د هیرودوتس په پرتله روایتي داستان ګویي وغندله او دعوه یې وکړه چې کتاب یې له مبالغې څخه پاک دی هغه تشویش وښود چې څنګه چې د ده کتاب له دروغو او افسانو څخه پاک دی او پر حقایقو بنا دی ځکه امکان لري چې د خلکو لپاره د لېوالتیا سوب و نه ګرځي د تهیوسي دایدس په وینا د هغه کتاب د هغه خلکو لپاره ګټور ثابتېدلای شي چې غواړي له تېرمهاله په خبرېدو سره په راتلونکي مهال ځان پوه کړي تهیوسي دایدس فکر کاوه چې د انسان کړنې په راتلونکي وخت د پوهېدلو لپاره وڅېړي او هغه د عمل او تفکر په خپلمنځي اړیکو هم پوهېده تهیوسي دایدس د تاریخ لپاره قوانین و نه ټاکل د هغه زماني د اصولو پر خلاف یې د اتن او د سپارتا په جنګ کې د جګړه مارانو او معبودانو ستاینه د خلکو د خوښې پر بنسټ و نه کړه بلکې د تاریخي حقیقتونو پر بنسټ یې تاریخ ولیکه.

پولې بیس د هغه دور د تاریخي فکر لارښود بلل کېږي د هغه نظریات تر تیهوسي دایدس لا زیات روښان او جوت وو هغه د بیاني تاریخ پر ځای نظري، اصولي او تجربوي (Pragmatic) تاریخ پیل کړ چې له تاریخي حقایقو او د هغوی له فطري اسبابو څخه عبارت دی پولې بیس مهمه وبلله چې تاریخي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقایق دي د اسبابو په راوړلو سره بیان شي پولي بیس د دې پخواني اصول مخالف و، چې په تاریخ لیکنه کي معبودان او د هغوی اولادونه د ارزښت وړ دي د هغه په قول مؤرخ دي یوازي حقیقتونه روښانه کړي اسباب، اغیزي او پایلي دي وڅېړي په اسنادو کي دي انتقاد وکړي کیسې او پېښي دي د عقل په تله کي وتلي.

تر دې وروسته چي د عربو تاریخ لیکنه پیل شوه په واقعاتو کي یې د اسنادو روغتیا ته پاملرنه وکړه سنې او کال ته په ارزښت ورکولو سره یې په تاریخ کي واقعاتي ترتیب رامنځته کړ دې کار تاریخ لیکني ته نوی روح ور ننه ایست او تاریخ ته یې د علم درجه ورکړه د علومو په لاس ته راوړلو کي عرب د یونانیانو احسان منونکي دي چیري چي هغوی یوناني علوم فلسفه، منطق، طب، طبعیات او ریاضي عربي ژبي ته نقل کړل هلته یې د ډرامې او هنر تر څنګ یوناني او رومي تاریخونه له یوه مخه له پامه وغورځول تر دې اندازې چي د اړونده هیوادونو د تاریخي حوالو لپاره یې شامي ماخذاتو ته رجوع کوله له ابن خلدون پر ته نور ټول تاریخ بیاني تاریخ دی او د بیاني تاریخ په لړ کي یې د لرغوني عربي ټولني له ارزښتونو څخه کار اخیستی دی.

عرب مؤرخ عبدالرحمٰن ابن خلدون د سنجیده تاریخ لیکني خښته کښېښوده هغه د تاریخ د علم بنسټ ایښودونکی دی هغه په تاریخ د پوهېدلو لپاره ځیني قوانین پلي کړل او هغه د تکاملي پړاوونو کیفیتونه بیان کړل په دې کي شک نشته چي ابن خلدون یو لوی مؤرخ و، مګر د هغه فکر پر عربي تاریخ لیکني کومي ځانګړي اغیزي ونه شیندلې.

تر دې وروسته چي په اروپا کي د روښانفکرۍ غورځنګ راوټوکېد هلته په تاریخ لیکنه نوی روح ننووت د تاریخ پوهني په باب نوري څېړني وشوې او تاریخ پوهنه یې په یو لړ ښاخونو و وېشله دې کار تاریخ نور اغېزناک کړ وروسته یې اصول ورته وټاکل په دغه دور کي یې تاریخ یوه پیاوړې وسیله وګرځوله واکمنو د تاریخ قوه حس کړه او د یوې وسلې په توګه یې په خپل حق کي وکاروله تر څو په خپلو مرامونو کي سر ته ورسېږي د تاریخ پورتني

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروني ظالم او جابر واکمن خوندي کړل په وروسته پاته مسلمانو هیوادونو کي واکمني ډلي د ولسونو د ستونزو په هوارولو کي پاته راغلي وې هغوی د دغي ناکامۍ د پټولو لپاره له تاریخه کار واخیست او ثابته یې کړه چي د خلکو د ستونزو په نه هوارېدو کي د تقدیر لاس دی هغوی قسمت او تقدیر د خلکو د ستونزو مسوول وګرځول او پخپله بري الذمه شول خلک د ناهیلۍ ښکار شول د ټولنیز او ذهني وروسته پاته والي احساس نور ژور شو د وسلې په توګه د تاریخ کاروني په ثبوت ورسوله چي ډېري وېروونکي پایلي یې راوتلای شي او ټولني د تباهۍ کندي ته ور ټېل وهلای شي.

هر کله چي د تېرمهال له مخه څخه نقاب ایسته کېږي او د تاریخ رڼا پر لوېږي جوتېږي چي د پخوانیو ظالمانو او دیکتاتورانو تورو کارنامو پر ولسونو کوم کړاوونه تېر کړي دي تاریخ د عبرت پاڼه ده دې عبرتناک سبق ته په کتلو سره موږ کولای شو چي په راتلونکي مهال کي د ښو لاسته راوړنو لپاره ګټوري ازمویني وکړو تر څو راتلونکی مهال وځلوو د راتلونکي مهال لپاره ښه فکر او ښه کړنه هغه خوځوونکي توکي دي چي په ولسونو کي تمدني پرمختګ راولي چیري چي د تېرمهال سره بې کچي مینه نه وي او د سپېڅلتیا جامه ور وا نه غوستل شي ټولنه کولای شي چي راتلونکي مهال ته د ویاړمنو ارزښتونو په لرلو سره ور ننوزي په بله ښه که ولسونه دې ته اړ کړل شي چي یوازي تېرمهال دي د خپلو سوچونو محور وګرځوي او له هغه څخه دي مطلق بغاوت او سرغړونه نه کوي هلته ټولنیز افکار سلب شي وروسته پاته والی یقیني شي او سپېڅلی تېرمهال د غاړي طوق وګرځي په داسي وخت کي دې بار پورته کولو ته تقدیر او ازل ویل کېږي په کومو قومونو کي چي ازلي نوشتې ته ارزښت ورکول کېږي هلته اوسمهال ته په تشویش سره او راتلونکي مهال ته په ترهېدلو سره کتل کېږي په داسي ټولنو کي ابا پرستۍ (اجداد پرستي) او مُرده پرستۍ د تېرمهال د ارزښتونو او افسانو په بڼه د وګړو پر عقلونو غېږ راګرځولې وي په داسي اوضاع کي مؤرخ ډېره لویه وجیبه پر غاړه لري ولي چي هغه د ټولني یو روښانفکره او باسواده غړی وي د هغه ویښ دماغ د ټولنیزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالاتو جاج اخیستلای شي او هغه د پاخه شعور په زور په ټولنه کي راتلونکي بدلونونه محسوسولای شي هغه نه یوازي پېښي ثبتوي بلکي د پېښو جاج اخلي او پر نتیجو یې غور و فکر کوي د ټولنیز زوال او وروسته پاته والي په وخت کي د مؤرخ لویه وجیبه وي چي هغه خپل مثبت رول ولوبوي د خلکو د ذهنونو په بدلولو کي مرسته ورسره وکړي هغه خلکو ته صحیح او راست سمت ور ښودلای شي راست سمت هغه ټولنیز یووالی راولي چي د ټولنیز پرمختګ لومړۍ زینه ده کله چي د ډلو ټپلو او هجومونو فکري سفر په یوه سمت کي پیل شي او د حقایقو پر بنسټ د مثبتو بدلونونو منلو ته غاړه کښېږدي هغوی د یوې منظمي ټولني پر لور ګامونه اوچت کړي او د تکاملي دورو څخه په تدریجي توګه په تېرېدو سره د یوه ملت کېدو په قالب کي ولوېږي د قومونو د ټولنیزو لارو چارو په ټاکلو کي د عمل اشتراک تل د ارزښت وړ پاته شوی دی تل خلک د ګډو عادتونو پر بنسټ یو ځای کېږي او د افکارو راکړه ورکړه کوي له دې څخه فکري یووالی راځي چي د یو موټي ملت په جوړولو کي ډېر ارزښتمن رول لوبولای شي.

په تاریخ لیکنه کي پوښتني ډېر ارزښت لري کله چي یو مؤرخ پوښتنه کوي نو د ځواب ویلو یا لاس ته راوړلو لپاره اړ وي چي ژوره څېړنه وکړي څېړنه او پلټنه د ځواب ویلو لامل ګرځي د تاریخ لیکني په ډګر کي پوښتني او د هغوی ځوابونه د غور او فکر نوي لاري پرانیزي لاندیني پوښتني د تاریخ د څانګي ډېري ارزښتناکي پوښتني دي په دې کتاب کي د داسي پوښتنو د ځواب ویلو هڅه شوې ده.

پوښتني دا دي:

– کله چي اروپایانو د مسلمانانو د تاریخ جاج واخیست د کومو تعصباتو ښکار شول او تر شا یې کوم لاملونه وو...؟

– په اسلام کي د پاچاهۍ اداره ولي او څنګه پر پښو ودرېدله...؟

– ولي مسلمانان تر اوږدې مودې پوري د پخوانیو افکارو سره نښتي وو او د زماني د نوښتګرو افکارو سره یې ملګري و نه کړای شوای...؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اوس دور د دهشتناکو بحرانونو د مقابلې لپاره په مسلمانو هیوادونو کې د کومو کومو تدابیرو د خپلولو ورتیاوې لیدل کیږي...؟
- آیا په اسلام کې د روښانفکرۍ ګنجایش شته...؟
- آیا په مسلمانانو کې د ساینسي او فکري پرمختګ لپاره کوم منظم غورځنګ پیلېدلای شي...؟
- آیا د نامسلمانو هیوادونو لرکې مسلمانان کولای شي چې په هغه هیوادونو کې له ویاړه ډک ژوند وکړي...؟
- په لوېدیز کې چې د مسلمانانو په هکله کوم رایه لیدل کیږي آیا هغه پر ځای او د پام ګیرنې وړ ده...؟
- آیا صلیبي جګړې ربښتیاهم د مذهبي لېوتوب زیږنده وې...؟
- ولې د شرق او غرب په افکارو او نظریاتو کې ټکرونه شته ولې له دواړو خواوو د تهذیبي ټکر او نښتې خبرې کیږي...؟
- آیا رښتیاهم تاریخ ثابتوي چې غرب پر شرق برتري لري...؟
- آیا دا رښتیا دي چې د ذهني او اقتصادي وروسته پاته والي سره سره خپلسري او دیکتاتوري حکومتونه د ټل لپاره د شرق په برخه دي...؟
- آیا عیسویت اوج ته تر رسېدو وروسته د اروپا په ټولنیز پرمختګ کې مرسته وکړه...؟
- آیا د اروپا په رېناسانس کې د عیسویت لاس و...؟
- د کاتولیکو چارواکو مذهبي تنګ نظرۍ د اروپا په تاریخ کې کومې اغېزې وشیندلې...؟
- یاغیانو د تاریخ له لارې تر موره پورې کوم پیغامونه رارسولي دي...؟
- آیا دا فکر پر ځای دی چې رېناسانس له یونان او روم څخه راوزیږېد...؟
- آیا د اصلاح غورځنګ په اروپا کې اصلاحي کارونه ترسره کړل...؟
- آیا د روښانفکرۍ غورځنګ له مذهبه د بېزارۍ په پایله کې بریالی شو...؟
- آیا د فرانسې د انقلاب تر شا د ولس شعور پر کار لوېدلی و...؟
- د انګلستان صنعتي انقلاب په کومو شرایطو کې راغی...؟

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



– آیا کولمبوس اتل او ستر انسان و...؟
– آیا د امریکا تاریخ د سپین پوستو تر ورتلو وروسته پیلېږي...؟
– آیا ناپلیون نن هم د ښه شهرت او د تقلید وړ واکمن دی...؟
– هټلر کوم مقاصد درلودل آیا هغه د المانیانو خواخوږی و...؟
– آیا په تېرمهال کي له تاریخه په خپله ګټه کار اخستل شوی دی...؟
– مؤرخ باید تاریخ د کومو قوانینو او اصولو په رڼا کي ولیکي...؟
– رښتونی تاریخ څه ته وایي...؟
– د ولسونو او وګړو تراژیدي څه ده....؟
– له ځیني انسانانو څخه د کومو مرامونو د ترلاسه کولو لپاره ستر انسانان جوړ شول...؟
– آیا رښتیا هم جنګونه بریالی ټولني ژوندی ساتي او په تاریخ کي د سونګ د موادو لپاره د اور کار کوي...؟
– ځانونو ته د مهذب خطاب کوونکو د تاریخ په اوږدو کي کوم جنایتونه کړي دي...؟
– ولي زورورو خپل کمزوري دښمنان وحشیان او تروریستان اعلان کړل...؟
– توکمیزو توپیرونو کومي پایلي راوړي...؟
– ملتپالني قومونو ته کومي ګټي ورسولې...؟
– سیاسي فکر څنګه رشد وکړ...؟
– ښځو په تېرمهال کي کوم رنځونه او ویرونه وګالل او څنګه د خوني توپانو څخه په راتېرېدو سره تر نن مهاله راورسېدلې...؟
– په راپېرزېدو او بیرته ژوند کي کوم تړون شته...؟
– د تاریخ په درجه بندۍ کي د څېزونو د تاریخ څه ارزښت دی...؟
– آیا زیږ قوانین د جرمونو په بیخ کښلو کي مرسته کولای شي...؟
– آیا د پورتنیو پوښتنو او د هغوی له ځوابونو څخه کوم عبرت اخیستل کېدلای شي؟
د تاریخ په رڼا کي موږ ولیدل چي د متقابلو نظریاتو او مذاهبو منونکو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه په خپلو مرامونو کې د بریالیتوب لپاره له مکر او فریبه کار واخیست او څنګه یې ولسونه په خپل ناوړه رول سره وغولول او کله چې یوه ډله پر بلې ډلې بریالۍ شوه څنګه یې د اېل شوي ډلې سره ناوړه چلند وکړ سپین ږیري او ضعیفان یې و وژل، ځوانان یې مریان کړل، د ښځو پت یې واخیست او د کوچنیانو سره یې جنسي تېری وکړ، د هغوی مالکیتونه او جایدادونه یې وسوځول، کورونه یې ور ونړول، ونې یې ور و ریبلې، کتابونه یې ور لمبه لمبه کړل، له قبرو څخه یې مړي راوکښل، اور یې ور واچاوه لکه څنګه چې عباسیانو د چوکۍ تر نیولو وروسته د اموي واکمنو هډوکي له قبرو څخه راوکښل وې سوځل تاتاریانو پر عباسي خلافت تر بریا موندلو وروسته د بغداد ښار لوټې لوټې کړ په لکو ارزښتمن کتابونه یې وسوځول چې پاته شول هغه یې په رود کې وبهول تر دې اندازې چې د رود اوبه توري شوې دغه راز کله چې انګرېزان په هند کې بریالي شول هغوی د پارسي ژبې حکومتي حیثیت ته بېخي د پای ټکی کښېښود انګرېزي یې د هند حکومتي ژبه اعلان کړه وروسته انګرېزانو په هند کې د مسلمانانو سیاسي پاته والي ته په خپله نظریه سره وکتل "اسلام" یې د مسلمانانو د زوال مسوول وباله او دعوه یې وکړه چې د مسلمانانو د پرمختګ په لاره کې تر ټولو لوی خنډ د مسلمانانو مذهب او د هغوی د ژوند کولو تر وخت تېره او پخوانۍ طریقه ده.

د تاریخ له مطالعې څخه په ګوته کېږي چې بریالي قومونه تل د اېل شویو او کمزورو دښمنانو په هکله د سپکاوي روحیات لري کله چې انګرېزانو پر افغانستان یوځي تېری وکړ افغانانو د خپل فطرت له مخې سخت مزاحمت وکړ انګرېزانو د افغانانو جرأت نه خوښېده هغوی یې د تهذیب او تمدن سره د نااشنا غرنیو وحشیانو په نامه ونومول له دې څخه جوتېږي چې دښمن هیڅکله په ښه نامه سره نه یادېږي تل هڅه شوې ده چې اېل شوی دښمن وروسته پاته ثابت کړي تر څو تېری جواز ومومي کله چې د منځنۍ آسیا مسلمانانو د هند پر نیمه وچه تېری وکړ د خپل تېري او تجاوز د جواز لپاره یې دلیل وړاندې کړ چې د هند خاوره کفري سلطنتونو لاندې کړې وه هغوی دعوه وکړه چې د هند خاوره

نیسي تر څو هلته اسلام خپور کړي او د کفر تیارې وځپي، د هغوی دغه دعوه ناسمه او بې
اوسنیو تاریخي څېړنو ثابته کړې ده چې د هغوی غوښتل چې د هند د خاورې له
ځایه وه د هغوی اصل مرام نور و، هغوی داسې هم شوي دي
بېرازۍ او ثروتمندۍ څخه اقتصادي ګټې پوره کړي
چې یو قوم پر بل قوم بریالی شي هغه د سیمې د وګړو د جنګولو لپاره ډول ډول
مکرونه او فرېبونه پر کار اچوي تر څو خلک سره اخته شي او قبضه ګر واکمن
په ډاډ سره خپله طرحه پر مخ بوزي انګرېزانو چې د هند نیمه وچه ونیوله ویې
ولیدل چې په هند کې دوه لوی قومونه لکه هندو او مسلمان ژوند کوي
انګرېزانو له مسلمانانو څخه حکومت نیولی و، او مسلمانانو په لرغوني تېرمهال
کې له هندوانو څخه، د انګرېزانو لپاره د مسلمانانو څخه د غچ اخیستنې دا یو
طلایي نوبت و، هغوی هندوان د مسلمانانو پر ضد وپارول چې لرکیو مسلمانانو
زر کاله حکومت وړباندې کړی دی په لکو هندوان په زوره د مذهب الیشولو
ته اړ کړي دي او ډول ډول فشارونه یې راوړي دي...

بل پلو ته انګرېزانو مسلمانان و وېرول چې هندوان ډېر دي زړونه یې درته
ډک دي په هند کې د هندوانو واکمن کېدل ستاسې تباهي ده انګرېزانو د جنګولو
پالیسۍ هند د فساد او بې امنیتۍ ښکار کړ په لکو انسانان و وژل شول د ډلبندۍ
په سېلاب کې په هندوانو او مسلمانانو کې پر یو بل د اعتماد او باور مهیني
اړیکي لاهو شوې خلک له یوه او بله بد ګمانه شول انګرېزانو له دې نوبت څخه
ګټه واخیسته او د هند خاوره یې پر درو برخو و وېشله دغه راز د یوموټي
هندوستان قوه کمزورې شوه ګټه یې نړیوال استعمار ته ورسېدله تر ټولو
زیات مسلمانان زیانمن شول انګرېزانو هغوی پر درو برخو او په بېلو بېلو
جغرافیو کې و وېشل او د هغوی قوت یې ور ټوټې ټوټې کړ.

په دې نژدې تېرمهال کې کله چې په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله
د حکومت تر نسکورېدو وروسته کورنۍ جګړه پیل شوه هم دښمنانو د افغانانو
په منځ کې د کرکې او بدګمانۍ تخمونه وکرل یو پلو ته یې د افغانانو په منځو
کې د ژبې پر بنسټ د بې باورۍ ولولې راوپارولې بل پلو ته یې د مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقيدې پر بنسټ سره وجنګول چې په پايله کې يې افغانستان د تاريخ د بدترين کړکېچ ښکار شو او هيواد د بدبختۍ ژوري کندي ته ور ټېل شو.

برياليي قومونه هيڅکله مات شوي قومونو ته نژدې نه ورځي کله چې مسلمانانو هند ونيو هغوی له هندوانو ليري اوسېدل که څه هم هغوی په هند کې تلپاته استوګنه کوله مګر د هندي رسمونو او رواجو له خپلولو څخه يې په سختۍ سره پرهېز کاوه کله چې انګرېزان په هند کې بريالي شول هغوی هم د سيمه ييزو هنديانو سره اختلاط نه خوښاوه او له ځايي وګړو څخه يې ليري خپلي ابادۍ جوړي کړې او هلته اوسېدل دغه راز کله چې يو بريالی قوم پر بل قوم غلبه پيدا کړي او دعوه وکړي چې ځکه بريالی شو چې په نژادي لحاظ سره اصيل دی په داسي شرايطو کي اېل شوی قوم هم ځان پاته نه راولي هغه هم خپله دفاع کوي تر ماته خوړلو وروسته چې يې اسلام د مسلمانانو د ناکامۍ ذمه واره وباله نو د مسلمانانو موقف دا و، چې اروپايي اقوامو د بريا تر شا د اسلام لاس دی هغوی استدلال کاوه چې نصرانيانو له اسلام څخه ډېر څه زده کړل ځکه کامياب شول.

انسان د تعصب او دښمنۍ روحيات او احساسات له ځانګړي چاپېريال، ښووني او روزني څخه زده کوي که نه وي دا خبره تر لمر سپينه او روښانه ده چې انسان و زېږي د سپيني پاڼي په شان وي وروسته تر دې ځيني انسانان د حالاتو او واقعاتو له کبله د ستر قوت څښتنان شي او پاچاهۍ ته ورسېږي چې په هغوی کي ځيني د خدايي دعوه وکړي د مصر د فرعونانو مثالونه زموږ په وړاندي دي چې د خدايي دعوې يې وکړې او خلک يې اړ ايستلي وو چې د هغوی مجسمې جوړي کړي او عبادت يې وکړي په تاريخ کي داسي ډېر پېښ شوي دي چې يوه انسان د بل انسان په پښو کي سر ايښی دی سجده يې ورته کړې ده او خپل اولادونه يې د خپل معبود د بت په پښو کي په خپلو لاسو حلال کړي دي او خپله ماينه يې په خپله رضا او خوښه خپل شهوت پرست او جنسي وږي معبود ته ور سپارلې ده تر څو هغه خوند ورڅخه واخلي په تاريخ کي ډېر داسي خلک تېر شوي دي چې يکتنها د ميليونو انسانانو د مالونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د قسمتونو ځښتنان وو په زړو ښځي يې د جنسي لوبي د له منځه وړلو لپاره په خپل حرم کې ساتلي وې مګر بيا يې هم جنسي تنده نه خړوبېدله تر دې اندازې چې د خپلو محرماتو سره يې هم جنسي اړيکي تښلولي دي لکه څنګه چې د مصر فرعونانو د خپلو مېندو، خويندو او لوڼو سره هم د واده کولو په نامه جنسي اړيکي ټينګولې د هغوی په نزد د پاچا د کورنۍ ښځي سپېڅلي وې عامو وګړو ته يې ښځي اجازه نه وه چې ودونه ورسره وکړي له همدې کبله هغوی د شاهي کورنۍ د ښځو سره پخپله ودونه کول.

يوې خوا ته که ظالمو واکمنو خلک اړ کړي دي چې په خدايي يې ومني بلې خوا ته يې د جنګي جنون او زرپرستۍ له کبله پر کمزوري خلکو جنګونه وتپل په لکو انسانان يې ووژل د ککريو څلي يې واوړل دا هر څه يې لا د زياتې پياوړتيا د تر لاسه کولو لپاره وکړل تر څو خپل پوځي برم په دښمنانو وپېژني او د غنيمت مالونه لاس ته راوړي د تاريخ په رڼا کې موږ ليدلي دي چې د لويو او نړيوالو جنګونو تر شا هم دغه روحيه پر کار لوېدلې وه هټلر څنګه نړيواله جګړه پيل کړه چې هغه غوښتل د مقابلو اروپايي هيوادونو په شان المان هم خپل پوځي قوت وښيي او د نورو سپين پوستو اقوامو سره المان هم په سيالۍ کې کم را نه شي په دې لړ کې يې د آرين نژاد د برترۍ لپاره دلايل راوړل او د خپل دغه نظر لپاره يې په لکو انسانان د جنګ په لمبو کې وسوځول نژدې نيمه نړۍ يې د جنګ ډګر ته ور ښکېل کړه په دغه پروسه کې يوازې هټلر لوبغاړی نه و، بلکې نورو اروپايي هيوادونو هم په خوښي سره دغه خونړي لوبه ترسره کړه د امريکا متحده ايالات چې د جنګ له ډګره ډېر ليري پروت هيواد و، هغه هم د خپلې جنګي پياوړتيا د ښودلو لپاره جګړې ته ور ودانګل او پر جاپان باندې يې د دوو اټم بمونو په غورځولو سره جګړه پای ته ورسوله جګړه ماړو دې ته نه کتل چې جنګونه د تباهۍ لامل ګرځي مور او پلار پکښې مري اولادونه پکښې يتيمان کېږي کورنۍ پکښې پايماله کېږي په ټولنه کې درزونه رامنځته کېږي وګړي په وير اخته کېږي هيلې يې لاهو کېږي او د تاريخ څنګه کرکه رامنځته کېږي بلې خوا ته د اوسنيو مسلمانو هيوادونو هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بدبختي ده چې هلته بې کفایته او عیاش واکمن په قدرت کې دي چې په مغزو کې فهم او تدبر نه لري د ولسونو د ستونزو هواری يې تر وس تېره خبره ده.

په زیاتره مسلمانو هیوادونو کې دیکتاتوري او خپلسري حکومتونه دي د هغو تر ټولو لویه هڅه دا ده چې څنګه خپلې چوکۍ خوندي کړي تر څو تر اوږدې مودې پورې حکومت وکړای شي په مسلمانو هیوادونو کې حکومتونه په داسې شرایطو کې جوړېږي چې هلته یوازې جګړه مار، د قدرت وږي، نااهله او بې کفایته شخص واک ته رسېږي لکه څنګه چې نامتو شاعر عبدالباري جهاني په شعر کې وايي:

**جهاني تمه د مردۍ د لېونتوب کیسه ده**
**په هر ولات کې چې شاغلي وي ناولي خلک**

څوک چې په ناقانونه توګه د قدرت واګې په لاس کې واخلي تر اوږدې مودې پورې پر هیواد مسلط شي د هغه ټل دا کوښښ وي چې یوازې خپلې چوکۍ ته وفادار و اوسېږي نه ولس ته. په نامشروع توګه واک ته رسېدونکي هیڅکله د ولس خواخوږي نه شي کېدلای بلکې هغه د ولس څخه ترهېدلي وي او د همدې ویرې پر بنسټ هغه د نړیوالو ځواکونو ګوډاګی کېږي تر څو د هغوی په سرپرستي کې ځان خوندي کړي او د هغو په ملاتړ سره تر اوږدې مودې پورې د هیواد پر وسایلو غېږ راګرځوي نن زموږ په وړاندې د دې ژوندي مثالونه شته موږ وینو چې ډېر مسلمان واکمن د پوځي کودتاګانو له لارې واک ته رسېدلي دي او ډېرو ته د بابا په میراث کې ولسونه او هیوادونه رسېدلي دي نژدې ټول په زور او جبر سره مسلط دي هر راز جمهوري او اخلاقي ارزښتونه يې تر پښو لاندې کړي دي مثبت بدلون هغه وخت پیلېدلای شي چې د ښې ښوونې او روزنې په برکت په ولسونو کې د خپلو حقوقو د پېژندلو پوخ شعور پیدا شي تر دې وروسته د جابرو او مستبدو واکمنو څخه خلاصون شونی دی.

د تاریخي ظلمونو په ترڅ کې باید و ویل شي جابرو او مستبدو واکمنو د خپلو شومو پلانو د پلي کولو لپاره د سپېڅلي صلیبي جنګ په نامه د نابالغو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


د صليبي جنګونو کوچنيانو لښکر جوړ کړ تر څو يې د دښمنانو سره وجنګوي د بيت مشر تابه د عيسويت د بيرغ د اوچتولو دعوه درلوده هسې خو هغوى د بيت المقدس د خپلواکه کولو لپاره سپيڅلی جنګ نښلولی و، مګر د پردې تر شا يې نور مالي او اقتصادي مقصدونه درلودل تاريخ موږ ته رانښيي چې څنګه يې د مذهب د خپراوي په نامه د بل مذهب پر خلکو تېری وکړ او هغوى يې د مذهب بدلولو ته اړ کړل يوې خوا ته دې لېونتوب او تروريستي کړنو خلک له مذهبه څخه بېګانه او بېزاره کړل بلې خوا ته د مذهبي چارواکو بې لاريو او درغليو خلک نور بد ګمانه کړل چارواکو له خلکو څخه د پيسو په اخيستلو سره د خلکو ګناهونه ور بخښل د پيسو د راټولولو سره يې دومره مينه پيدا شوه چې د خوردو او تبرکاتو په نامه يې د مړو تر هډوکو پورې وپلورل.

د تاريخ يو اهميت دا هم دی چې کوم قومونو تاريخ نه درلود هغو هم د تاريخ اهميت حس کړ او د تېر مهال سره يې خپلې اړيکې کشف کړې د افريقايي او امريکايي هيوادونو مثالونه زموږ په وړاندې دي په دې لړ کې د تاريخي شتمنۍ د نيستۍ له کبله د امريکا متحدو اياالتو د راتلونکي مهال سره خپلې اړيکې ټينګې کړې پرمختللې امريکا ته په کتلو سره جوتېږي چې کوم قومونه پر خپلو اوږو باندې د تېر مهال بار نه لري د هغوى اوږې سپکې وي او د هغو قومونو په نسبت د پرمختګ ډېر چانسونه لري چې د تېر مهال تر بار لاندې وي امريکايانو خو تر دې اندازې ويل چې موږ د تېر مهال څخه بېزاره يو او موږ به مړو ته هيڅکله اجازه ور نه کړو چې هغوى پر موږ حکومت وکړي موږ به خپل اوسمهال تېرمهال ته قرباني نه کړو تېرمهال د خارق العاده افسانوي اتلانو دی او اوسمهال د باشعورو ولسونو دی.

ولسونو ته د خپل اهميت احساس شوی دی هغوى د هيچا د برترۍ منلو ته غاړه نه ږدي هغوى ته روښانه شوې ده چې د نړۍ ټول انسانان يو شان دي هيڅوک پر بل چا افضل نه دی.

که څه هم د پوستکي د رنګ پر بنسټ تعصبونه شوي دي په تېرمهال کې سپين پوستو ځانونه تر نورو لوړ احساسول ان تر دې چې د سپين پوستو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هکله ویل کېدل چې د غلامۍ لپاره پیدا شوي دي که څه هم د هغوی مذهب دوی ته د دې اجازه نه ورکوله چې توکمیز لوړوالی ثابت کړي سپین پوستو د ضرورت له کبله د توکمیز لوړوالي فکرونه درلودل هغوی د مستعمرو تر جوړولو وروسته هلته د شاړو مځکو د ابادولو لپاره غلامانو ته ضرورت درلود له همدې کبله هغوی له افریقا څخه په لوی شمېر سره توړپوستي د غلامانو په توګه مستعمرو ته وارد کړل د غلامۍ د ادارې د پایښت لپاره او پر خپلو تېریو د پردې د اچولو لپاره هغوی توکمیزه لوړتیا روا وبلله په دې لړ کې داسي اکاډمیک پوهان هم رامنځته شول چې د توکمیزي لوړتیا لپاره یې دلایل راوړل هغوی دا خبره هېره کړه چې د پرمختګ او متمدن کېدو لپاره مناسب چاپېریال مهم دی چې هغه رامنځته شي بیا هیڅ ناشونې نه ده چې قومونه دي د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي پرمختګ پړاوونه پې نه کړي پرمختګ د مناسب چاپېریال سره تړلی دی څوک چې په مناسب چاپېریال کې موجود نه وي هغه به وروسته پاته وي.

د توکمیز تعصب افکارو د ملت پالني ولولې راوپارولې د نړۍ ډېرو ملتونو د ملتپالني په احساساتو کې تر ډوبېدو وروسته خونړۍ جګړې سره کړې دي او په لکوونو کړي یې تر تېغ ایستلي دي د ملتپالني پر احساساتو یوازې سیاسي پوهه بریالۍ کېدلای شي که حقایق په سوچه زړه سره ومنل شي هیڅ وجه نه ده چې ملتپالنه دي د کر کې لامل وګرځي.

که څه هم په نړۍ کې یې ډېر جنګونه د ملتپالني د احساساتو له کبله کړي دي مګر هلته هم د پردې تر شا نور لاملونه او مقصدونه وو په داسې جنګونو کې د نارینوو تر څنګ ښځې او کوچنیان هم اغېزمن شول د ښځو څخه یې پت واخیست پر کوچنیانو یې جنسي تېري وکړل بلې خوا ته د تاریخ څخه دا څرګ هم لګېږي چې په تېرمهال کې یې ښځو ته په کوم نظر سره کتل په هندي ټولنه کې یې ښځه د مېړه تر مرګ وروسته ژوندۍ ورسره سوځله د مېړه په میراث کې یې برخه نه درلوده که به د مېړه تر مرګ وروسته ژوندۍ پاته شوه د بل واده حق یې نه درلود او پاته عمر یې په کونډتون کې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېراوه ښځه یې په کوچنیوالي کې د پلار، په ځواني کې د مېړه او په سپین سرتوب کې د زوی ملکیت بلله د هغې په هکله فکر کېده چې په ژوند کې کور نه لرې یوازې قبر د هغې حقیقي کور و، له ډېر پخوا څخه داسې فکر کېدی چې ښځه په ژوند کې درې ځله وژل کېږي لومړی ځل چې ودېږي د پلار کور پرېږدي او د مېړه کور ته تلپاته هجرت کوي، دویم ځل چې اولاد زېږوي او درېیم ځل چې کونډه کېږي ښځه یې تش د کوچنیانو د زېږولو وسیله بلله د ښځو پلورل او پیرودل عام و، لکه څنګه چې نن هم ځیني خلک د ولور په نامه د لور او خور خرڅول عیب نه ګڼي په ډېرو ټولنو کې د ښځو په هکله رایې تغیر موندلی دی اوس هلته ډېر ناوړه دودونه له منځه تللي دي یا مرګي حاله دي مګر داسې وروسته پاته ټولني هم شته چې هلته پورته راغلي نژدې ټول ناوړه دودونه پر خپل ځای پاته دي بلکي ویاړ هم ورباندې کېږي.

د ټولنو د پرمختګ د کولو له لاملونو څخه یو لامل د ښځو بې قدري هم وه د کومې ټولني نیم وګړي چې فلج او له فعالیته لوېدلي وي هلته ښځه په ټولنه کې د عزت وړ مقام نه لري هغه ټولنه به څنګه پرمختګ وکړي.

تاریخي بې انصافیو ته په کتلو سره نن د ښځو د حقوقو خبره کېږي په ښځو کې د خپلو حقوقو شعور راټوکېدلی دی په دې هکله یې خپل ږغ پورته کړی دی راتلونکی تاریخ به شاهد وي چې د دې په ایسته به د ټولني په پرمختګ کې د ښځو هم پوره ونډه وي او هغوی به هم د نارینوو په شان په ټولنه کې د قدر وړ ځای ته ورسېږي.

**نوید آرین کوټه، پښتونخوا**

۲۹/ ۴/ ۲۰۰۸م

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسلمانانو تاریخ

که په لنډه توګه د تاریخ پېژندنه وشي و به ویل شي چي تاریخ د تېرمهال د پېښو د پراخ شعور نوم دی او د تاریخ پروسه د یوې داسي لړۍ نوم دی چي د زمانو په تېرېدو سره له پر له پسې بدلونونو څخه راتېره شوې ده کله چي یو مؤرخ د تاریخ پروسه څېړي او په یو لړ پېرونو یې وېشي د هغه مهم مرام دا وي چي د بدلون د پروسې په روح او مغز ځان پوه کړي او په پایله کي چي یې پر ولسونو څه اغېزې وشیندلې د هغو جاج واخیستل شي له کومه راهیسي چي تاریخ لیکونکو تاریخ په سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري څانګو وېشی همدغسي په تاریخ کي د پېرونو سرلیکونه هم ورسره بدلېدل هر مؤرخ غواړي د خپلو مرامونو په پام کي نیولو سره زمانو ته نوی نوم او اصطلاحاتو ته نوې تشریح ورکړي او څنګه چي د وخت په تېرېدو سره نوي معلومات لاس ته راوړل کېدل د تاریخ په علمي پراختیا کي زیاتوب راتلی او د یو لړ زمانو، نومونو او اصطلاحاتو تغیر موند په دې لړ کي موږ غواړو د اسلامي دورې په تاریخ لیکنه کي چي د سرلیکونو په نومونو او اصطلاحاتو په کارونو کي کوم بدلونونه راغلل د هغو جاج واخلو په لومړني پېر کي چي کوم تاریخونه ولیکل شول عربو تاریخ لیکونکو هغه د "الایام" په نامه ونومول تر دغي اصطلاح لاندي د عربو خپلمنځي ټبریزي جګړې، ټبریز تاریخ او د هغو دودونه بیانېدل چاچي د دې کار مسوولیت پر غاړه درلود هغه ته یې راوي یا اخباري ویل.

د لرغوني یمن ټولنه په تهذیبي توګه پرمختللې وه هلته تر اسلام دمخه د حکومت اداري په خپله لومړۍ بڼه موجودي وې او ځیني داسي روایتونه وو چي د نالیکلي یعني یاداښتي تاریخ په توګه موجود وو دغه روایتونه په لومړۍ پېړۍ کي مؤرخینو ولیکل او وروسته یې د عربي تاریخ مهمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وګرځول تر اسلام دمخه د عربو په تاریخ کې مهم اړخ نسب و، او د نسب له لارې د عربو هرې قبیلې د خپل پلار او نیکه نومونه په یاد ساتل د نسب د اهمیت له کبله په هره قبیله کې راویان او نسب ایکونکي موجود وو هغوی به کورنۍ شجرې په یادولې او د قبیلې پېښې به یې یاداښتولې دغه لړۍ د اسلام تر لومړني دور پورې روانه وه.

د تاریخ توری له "ورخ" څخه راوتلی دی چې د میاشتې ټاکلو ته وایي دغه توری د تېرمهال د پېښو د بیانولو په معنۍ د اسلام تر راتګ دوه نیم سوه کاله وروسته وکارول شو تر دې دمخه یې د تاریخ توری د سپوږمیزو میاشتو لپاره کاراوه له دې څخه د تاریخ دا مفهوم شو چې د یوې پېښې وخت وټاکي او د کرونولوژۍ په ترتیب سره یې بیان کړي.

په دویمه هجري پېړۍ کې د تاریخ توری د داسې کتابونو لپاره ولیکل شو چې په هغه کې یې وخت ټاکلی و، او د کومې پېښې وخت چې یې نه و، په نښه کړی هغه یې تاریخ نه باله ژوند لیکونه د تاریخ لومړني کتابونه وو چې په هغو کې د یوه مشهور شخص د زوکړې او مړینې تاریخونه لیکل مهم بلل کېدل.

په لرغوني عربو کې یې د تېرمهال د معلوماتو د راټولو لپاره د خبر توری کاراوه چې د هغه له لارې یې مهمې پېښې بیانولې او بیانوونکی یې راوی یا اخباري بلل کېدی عموماً هرې قبیلې خپل راوي یا اخباري درلود چې د خپلې قبیلې په هکله معلومات یې په یادولو سره خوندي کول د اسلام په لومړني دور کې یې د پېښو د بیانولو له دغې طریقې څخه کار اخیست چې خبر یې ورته ویل دغه ډول په اخباري پېښو کې یې د یوه غښتلي او وړتیا لرونکي شخص په هکله معلومات په لنډه توګه بیانول له اخباري مؤرخینو څخه اعوانه بن الحکم (مړینه ۷۶۴م) ابو منحنف (مړینه ۷۷۴م) سیف بن عمر (مړینه ۷۹۶م) او المدایني (مړینه ۸۳۱م) ډېر مشهور شوي دي المدایني یو کتاب د هغو قریشوښځو په هکله هم لیکلی دی چې ډېر مېړونه یې درلودل.

تر اسلام وروسته اخباري تاریخ د یوې قبیلې پر ځای د ټول امت تاریخ وبلل شو چې په هغه کې معاصري مذهبي کشالې، سیاسي کړکېچونه او نظریاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکرونه موضوع ګرځول شوې وه د بني امیه په وخت کې اخباریانو د اړونده ځواکونو له لوري د واک پر سر د جګړو تر اغېزو لاندې د عربو لرغوني تاریخي مواد راټول کړل په دې وخت کې هغوی پر عجمي قومونو د عربي کلتور او تمدن د لوړتیا د ثابتولو لپاره ډېر کار وکړ.

له (۷۵۰م) څخه مخکې لیکل شوي عربي تاریخي کتابونه له منځه تللي دي او په لومړي تاریخ لیکونکو کې درې نومونه شته لکه عروة‌الزبیر (مړینه ۷۱۱م) محمدبن سالم بن شهاب الزهري (مړینه ۷۴۰م) او موسیٰ بن عقبه (مړینه ۷۵۸م) مګر د دغو لیکوالانو کتابونه په خپله حقیقي بڼه نه دي پاته بلکې تر دې وروسته چې د تاریخ سره مینه پیدا شوه د هغه شاګردانو او مینه والو کتابونه ولیکل او خپاره یې کړل کله چې په عباسي دور کې د تاریخ د لیکلو لړۍ پیل شوه د امیه دور تاریخي کتابونه له منځه تللي وو داسې فکر کېږي چې یا عباسیانو دغه کتابونه له منځه یووړل یا په دومره لږ شمېر سره لیکل شوي وو چې د وخت په تېرېدو سره استهلاک او ورک شول.

کله چې عرب له خپلې سیمې و وتل د پوځي او سیاسي پیاوړتیا له کبله یې شاوخوا او ګاونډي هیوادونه ونیول له نویو تجربو سره مخامخ شول، عرب د سیاسي واک په تر لاسه کولو سره د پخوا په شان د یوې کوچنۍ سیمې څښتان پاته نه شول په ولکه کې یې پراخې سیمې او لوی ښارونه راغلل د راویانو او خبر لیکونکو بوختیاوې زیاتې شوې واقعاتې پانګه غنې شوه اړتیا پیدا شوه چې د تاریخ لیکنې اسلوب دې واوړي بیا تاریخ د "وقایع" نوم خپل کړ او لیکونکی یې "وقایع نویس" یعنې پېښې لیکونکی وبلل شو او یوه داسې تګلاره یې خپله کړه چې د هر کال مهمې پېښې دې د ترتیب په خوندي ساتلو سره راټولې شي تر دې وروسته چې په تاریخ لیکنه کې کوم نوی پړاو راغی هغه دا و، چې د هر لسو کالو تاریخ دې په یوه څپرکي (باب) کې ولیکل شي مؤرخینو د وقایع لیکنې دې ډول ته د "طبقات" نوم ورکړ.

لکه څنګه چې د اسلامي تاریخ لیکنې موضوعات د زمانې په تېرېدو سره پراخېدل دغه راز د موضوعاتو څخه یوه موضوع "سیرت" دی چې د اسلام

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پیغمبر محمد ﷺ د ژوند حالات ورڅخه مرادېږي مؤرخينو د سیرت په نامه د تاریخونو په لیکلو سره هڅه وکړه چي د اسلام د پیغمبر محمد ﷺ د ژوند زمانه بهترینه نمونه وبولي او د راتلونکي نسلونو لپاره یې معیار وګرځوي په داسي سیرتونو کي د اسلام پر بریاوو او غزاګانو په تفصیل سره بحث شوی دی دغه راز یوه بله موضوع ده چي "علم الانساب" یې بولي مؤرخينو تر دې سرلیک لاندي د سترو انسانانو، مهمو خلکو او قومونو د ژوند حالات په تفصیل سره بیان کړل او هڅه یې وکړه چي وګړو ته د داسي خلکو د سترواليو او بریاوو په هکله معلومات ورکړي په دې دور کي مسلمانو مؤرخينو د هغه قومونو او هیوادونو تاریخونه هم ولیکل چي د مسلمانانو څخه یې په سیاسي او پوځي لحاظ ماته خوړلې وه او خاوره یې مسلمانانو نیولې وه.

د واکمنو کورنیو په نامه هم تاریخونه لیکل شوي دي د بېلګي په توګه د عباسیانو تاریخ، د طاهریانو تاریخ، د سامانیانو تاریخ، د غوریانو تاریخ او د غزنویانو تاریخ...

د اسلامي تاریخ لیکني په اصطلاحاتو کي هغه وخت بدلون راغی کله چي لوېدیز ښکېلاک د اسلام او د اسلامي تاریخ د کتلو او څېړلو سره لېوالتیا وښودله کله چي هغو د تاریخ په لیکلو پیل وکړ نوي اصطلاحات یې رامنځته کړل د بېلګي په توګه هغو "د عربو تاریخ" یا د مسلمانانو تاریخ د هسټري آف ساراسینز (Saracens) په نامه ونوماوه نه یوازي دا چي تر دې سرلیک لاندي یې د عربو تاریخ په خپله نظریه سره ولیکه بلکي هغو د ترکانو او نورو مسلمانو قومونو تاریخ هم د هغه سرلیک برخه وګرځاوه تې پي هیوز په خپل کتاب "د اسلام قاموس" کي د دې اصطلاح د کاروني په هکله یو لړ دلایل راوړي د بېلګي په توګه هغه دغه توری یعني ساراسینز د شرق یا ختیز څخه راوتلی انګېري یعني د ختیز هغه خاوره چي له هغې خوا لمر سر وهي یا دا چي دغه توری ښایي له صحرا(۱) (رېګستان) څخه راوتلی وي څنګه چي عرب د رېګي

---

(۱) ښایي دغه توری (Saracens) د دري ژبي "صحرا نشین" ته ورته توری وي چي معنی یې د رېګي سیمي او سېدونکي ده. ژباړن

سیمې اوسېدونکي وو هغوی ته دغه نوم ورکړل شو یا دا چې دغه توری د سارا ښځه راوتلی دی چې د ابراهیم (ع) د یوې مېرمنې نوم دی.

مسلمانان د ساراسینز تر نامه وروسته د "مورو"(۱) په نامه هم نومول شوي دي په ځانګړې توګه هغه مسلمانان چې اندلس یې ونیو او خپله واکمني یې پیل کړه د اسلام د قاموس نومي کتاب د وینا له مخې دغه اصطلاح له ماورې ښځه راوتلې ده چې د شمالي افریقا اوسنی هیواد مراکش ورڅخه مراد دی.

د تاریخ لیکنې په نومونو او یو لړ اصطلاحاتو کې بدلونونه هغه وخت راغلل کله چې د لوېدیزو هیوادو په پوهنتونونو کې د ختیز پوهنې څانګې جوړې شوې اروپایانو د خپلو فکرونو او غوښتنو پر بنسټ نوې اصطلاحات وکارول په لومړي سر کې د پوهنتونونو داسې څانګې د عیسویت ملاتړو اشغال کړې وې د هغو مرام د مسلمانانو د تاریخ په هکله لا زیات معلومات لاس ته راوړل وو، تر څو هغوی د عیسویت په خپرولو کې ورڅخه مرسته واخلي او کله چې لوېدیز ښکېلاکې پېر پیل شو له دې کبله چې په زیاترو مسلمانو هیوادو کې لوېدیزو هیوادونو سیاسي واک تر لاسه کړی و، ځکه د خپل مذهب د خپراوې تر څنګ سوداګریز او سیاسي مرامونه هم د عیسویت د خپروونکو موخه وګرځېدل د خپل واک د پایښت لپاره عیسویانو اړتیا لیدله چې د نیول شوي هیوادونو او ولسونو د مذهب په هکله معلومات لاس ته راوړي په داسې حال کې چې د مسلمانانو پر کلتور او مذهب لوېدیزوالو په سوداګریز او سیاسي نظر سره پراخې څېړنې رواني کړې وې هلته په اروپا کې داسې عالمان هم وو چې هغوی په ربښتیا سره غوښتل د خپلې پوهې کړۍ پراخه کړي او ختیز علوم د علمیت په ربښتینو معیارونو سره وڅېړي په داسې پوهانو کې د هغه خلکو نومونه راځي چې هغوی خپل ټول ژوند د اسلام او اسلامي تاریخ په

---

(۱) د پخوانیو اروپایي مؤرخینو او هسپانویانو له خوا دغه نوم د شمالي افریقا هغه بربر او عرب ټبرونو ته ورکړل شوی دی چې هغوی اندلس نیولی و او د پېړیو پېړیو لپاره یې هلته سیاسي واک ټینګ کړی و، د دغې اصطلاح څرک د شمالي افریقا د اوسنیو دوو هیوادونو په نومونو کې اوس هم لیدل کېږي لکه موریطانیه او مراکو یا مراکش. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړلو کي تېر کړ د هغو د دې څېړنو په پایله کې پر اسلام او د هغه پر تاریخ ډېر د ارزښت وړ کار وشو او نه یوازي دا چې د تحقیق نوي لاري یې پرانیستلې بلکي په تاریخ د پوهېدلو لپاره یې د ډېرو ستونزو په هوارولو کي له مور سره زښته مرسته کړې ده.

په نولسمه پېړۍ کي ډېرو لوېدیزوالو مؤرخینو د اسلام د تاریخ لپاره د "محمدن"(۱) اصطلاح وکاروله تر دې وروسته یې د "اسلامي تاریخ" نوم ورکړ هغه و، چې دغه دواړه اصطلاحات د یو شمېر باسوادو او روښانفکرو مسلمانانو له خوا وغندل شول مسلمانانو د محمدي د اصطلاح پر خلاف دا دلیل وړاندي کړ چې دوی ته دي د عیسویانو په سترګه نه کتل کېږي عیسویان ځانونه د عیسیٰ (ع) (کریست) د منونکو په حیث کریستانان بولي مګر مسلمانان د اسلام منونکي دي او مسلمانان دي محمدیان نه دي د اسلامي تاریخ پر اصطلاح یې ځکه نیوکه وکړه چې د مسلمانانو په نظر سره که څه هم د اسلام د پیغمبر محمد ﷺ او د هغه د څلورو یارانو زمانه اسلامي وه او اسلامي تاریخ ورته ویل کېږي مګر تر دې وروسته د پاچاهۍ اداره رامنځته شوه د ټولني کالبوت الیش شو د فیوډالي اداري ټینګښت وموند په داسي شرایطو کي ټولنه پر اسلامي والي پاته نه شوه ځکه هغه ته د اسلامي تاریخ پر ځای د "مسلمانانو تاریخ" ویل مناسب دی.

د عربي ژبي پر بنسټ د شلمي پېړۍ په نیمایي کي په عربو کي د ملتپالۍ ولولې راوپارېدې مذهب په دې کي هیڅ رول و نه لوباوه د ګډې ژبي پر بنسټ مسلمانان او عیسویان دواړه سره یو شول او ځانونه یې یو ملت وبلل په دغه وخت کي اسلامي او د مسلمانانو تاریخ ته د عربو د تاریخ نوم ورکړل شو عیسوي عربو په ځانګړې توګه په عربي ملتپالنه او عربي تاریخ لیکنه کي ډېر مهم رول ولوباوه دغه کار د دوی په ګټه و، ځکه چې مذهب دلته هیڅ رول نه درلود او د یوې معتدلي نظریې له رویه دوی هم د عربي تاریخ منل شوې

---

(۱) یعني د محمد یا محمدي. (Muhammadan)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د قدر وړ برخه ګرځېده په دې لړ کې د فلپ حتي کتاب "د عربو تاريخ" د يادولو وړ دی تر دې وروسته نورو عيسوي عربو لکه البرت حوراني او يو لړ نورو هم د عربو د تاريخ د ډېرو اړخونو په روښانولو کې د څېړنو له لارې خپل مهم رول ولوباوه او په عربو کې د ښه نامه څښتنان شول.

تر دې وروسته په منځني ختيز کې يو لړ عربي دولتونه رامنځته شول ورسره سم په تاريخ ليکنه کې نوښت راغی مصريانو عراقيانو او اردنيانو د سيمه ييزو حقيقتونو په رڼا کې د خپلو تاريخونو لړۍ له لرغوني زمانې څخه را ونښلوله او تر اوسنۍ زمانې پورې يې راورسوله په داسې کولو سره دوی خپلو سيمه ييزو نظرياتو ته د تاريخ له لارې وده ورکړه او د تاريخ د علم د پياوړتيا له لارې يې خپلو نظرياتو ته روايښت ور وباخښه مصريانو د مصر لرغونی تاريخ د نوي تاريخه سره ونښلاوه او يوه داسې لړۍ يې جوړه کړه چې د مذهب په راتګ سره هم نه شلېږي او دوام پيدا کوي د بېلګې په توګه د مصر خلک د فرعونانو په لرغوني مدنيت وياړ کوي او استدلال کوي چې لرغوني مصر چې نړۍ ته د مدنيت کوم ځلانده او روښانه ميراث ور پرې ايښی دی هغه بېګانه نه دی زموږ خپل دی او موږ به هيڅکله هغه له خپله ځانه بېل نه کړو دغه راز عراقيان په آشوري او بابلي مدنيتونو وياړ کوي او د خپل ملي تاريخ نه شلېدونکې برخه يې بولي.

چا چې د لرغوني مدنيتونو آثار راوسپړل د خپل تاريخ تش ځايونه يې په ډک کړل هغوی په رشتوني نيت سره د هغو آثارو ننګه هم وکړه او د راتلونکي زمانو لپاره يې خوندي هم کړل.

دا ملتپالني هغه پياوړي ولولې وې چې تاريخ ليکني ته يې نوي فکرونه او نوي اړخونه ور په ګوته کړل اوس عرب نه يوازې دا چې د عربو په تاريخ وياړمن دي بلکې هغوی د خپلو هيوادونو په جغرافيه کې دننه هم تاريخ پلټي او له هغه سره خپلې اړيکې ټينګوي او په اوس دور کې دوی د عربو په توګه هم پېژندل کېږي او د عراقيانو، لبنانيانو، اردنيانو، يمنيانو او مصريانو په توګه هم.

دا خو د منځني ختيز د ولسونو رويه ده چې د تاريخ په هکله يې لري د هند

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لویه وچه کې وضع یو څه بل شان ده دلته دوه ډوله نظرونه په کوټه کېږي چې یو د هندوانو او بل د مسلمانانو دی یعنې دلته تاریخ ته د مذهبونو په رڼا کې کتل کېږي او د اهمیت په کمولو یا زیاتولو کې یې مذهبي عقیده (ګروهه) ډېر مهم رول لري.

باید و ویل شي چې کله برتانوي استعمار په هند کې واکمن و، هغه په کال ۱۸۶۱م کې د هند د لرغوني آثارو د ودې او پلټنې اداره جوړه کړه چې له لومړنیو ماهرینو څخه یې "الیګزنډر کنګهم"، "جان مارشال" او "مارتیمر هیلر" وو هغو لومړنیو کیندنو د هند د خلکو د لرغونپوهنې شعور زیات کړ لکه څنګه چې د لرغوني هند په هکله کتابي مواد نشته د هند د لرغوني آثارو محکمه وجیبه لري چې د کیندنو په راسپړلو او د موادو په لاس ته راوړلو سره د هند د لرغوني تاریخ تش ځایونه ډک کړي کله چې د مذهب د توپیر له کبله د پخواني تاریخ سره لېوالتیا نه وي هلته د لرغونو آثارو اداره یوازې او یوازې د هغو آثارو راسپړلو ته زړه ښه کوي چې د دوی د هجرت د دور سره اړه لري نن که د "مهرګړ"، "موهنجودارو"، "هرپا" او "ګندهارا" لرغوني آثار خوندي دي د هغو ساتنه د لرغوني آثارو نړیواله اداره کوي که نه وي بې غوره تولنې تل د داسې آثارو په ورکېدو خوشاله وي ځکه چې د دوی په وینا دغه آثار د کفري دور آثار بلل کېږي او د دوی د تاریخ سره هیڅ اړه نه لري کله چې د لرغونو آثارو اداره پخوانۍ کنډوالې کشف کړي دا نه وایي چې دلته په فلاني نامه د لرغوني زماني ښار ودان و، او د فلاني هندو راجا پلازمېنه وه تل په داسې مواردو کې تر لږو کیندنو وروسته کار ودرول شي ولې چې د حکومت د پالیسۍ سره سمې نتیجې لاس ته نه راځي او په دې هکله د پښتو یو متل دی چې وایي:

"غوټه ورکه خوله پر پټه"

په اوس دور کې چې د "اسلامي تاریخ" اصطلاح کارول کېږي مطلب یې لومړنی اسلامي دور وي یا هغه لرغوني دور چې په هغه کې عربو ډېر مهم رول ولوباوه د نورو مسلمانو هیوادونو تاریخ د هغوی په نومونو سره وي یا د هغوی په ملي او ژبني پېژندنې سره دی لکه عثماني، ترک، صفوي، افغان و هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راز اسلام ته د سیمه ییز کلتور په رڼا کې هم کتل کېږي لکه ایراني اسلام، هندي اسلام، اندونیزي اسلام یا افریقایي اسلام.(۱)

په نولسمه او شلمه پېړۍ کې په ټوله نړۍ کې پوهانو او څېړونکو د اسلام د مذهب سره او د مسلمانانو د تاریخ سره لېوالتیا وښودله زړې نسخې او مسودې یې رابرسېره کړې تر اصلاح او سمون وروسته یې خپرې کړې په پایله کې یې ډېره لویه علمي او تاریخي پانګه تر خپرېدو وروسته شخصي او ټولنیزو کتابتونونو ته په رسېدو سره د یو لړ پوهانو او څېړونکو لاسونو ته ورغله او تر شا د ډېري لویې زیرمې په درلودلو سره د مؤرخینو لپاره دا خبره شونې شوه چې تاریخ دې له نوي سره ولیکي دې نوښت ډېري تاریخي فرضیې رد کړې د بېلګې په توګه د تاریخي حقایقو له رویه دا خبره لغوه وبلل شوه چې اسلام د توري په زور خپور شوی دی د نورو علومو لکه لرغونپوهنې، ټولنپوهنې او ارواپوهنې په زده کولو سره د تاریخ په پروسه پوهېدنه اسانه شوه د ټولنو ساختمان او د هغوی د پرمختګ، له نوي اړخونو څخه جاج واخیستل شو د پورتنیو علومو په مرسته چې تاریخ ولیکل شو ډېر ښکلی او له هیلې څخه ډک انځور رامنځته شو د تاریخ کړۍ پراخه شوه له سیاست څخه ټولنیزو اړخونو ته راغی دغه راز تاریخ یو نوی ژوند تر لاسه کړ او ګټوروالی یې څو ځله زیات شو.

د استعماري نظام په جاج اخیستلو سره مسلمانان هم د تاریخ په ارزښت پوه شول استعمار چیانو تاریخ مسخ کړی و، او د خپلو ښکېلاکګرو غوښتنو پر بنسټ یې داسې انځور کړی و، چې په هغه کې مسلمانانو د ارزښت وړ ځای نه درلود تر استعماري نظام وروسته په مسلمانو هیوادونو کې نوي سیاسي نظامونه راغلل مګر د ولسونو په ګټه نه وو هلته رښتوني جمهوریتونه نه وو په

---

(۱) دلته له سیمه ییز اسلام څخه مرام دا دی چې اسلام په هره سیمه کې له سیمه ییزو دودونو او رواجونو سره په داسې ترکیب کې یو ځای شوی دی چې له بلې سیمې سره یې توپیر رامنځته شوی دی یعنې په هره سیمه او هر هېواد کې د هغه ځای ټول عنعنات د مذهب په راتګ او خپرېدو سره له منځه نه دي تللي بلکې ډېرو عنعناتو د مذهب په دایره کې ځان ژوندی ساتلی دی د دې ښه مثالونه ایران او سعودي عربستان دي چې په دواړو هېوادونو کې د اسلام دوې بېلې بېلې نمونې بلل کېږي. ژباړن

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتره هیوادونو کې د پاچاهۍ او ټولواکۍ کمبله هواره شوې وه په ځینو هیوادونو کې پوځي جنرالان او دیکتاتوران واک ته رسېدلي وو په داسې حالاتو کې چې کوم تاریخونه لیکل کېږي هغه به هرومرو پاچاهۍ او دیکتاتورۍ ته روایښت ور بخښي او ملاتړ به یې کوي یوې خوا ته لوېدیز مدنیت و، چې زړو دودونو او ورستو رسمونو ته یې یو جدي ګواښ متوجه کړی و، بلې خوا ته وروسته پاته والی، ناهیلي او سیاسي غلامي وه په غبرګون کې یې مسلمان مؤرخین او پوهان راپورته شول او د تاریخ په جوړولو کې یې تر ټولو ډېر ارزښت تېر مهال ته ورکړ هغوی له پردې او مخالف اوسمهال څخه مخ واړاوه د تېر مهال زرین او ځلاند یادونه یې راژوندي کړل تر څو د مسلمانانو د زرین تېر مهال د پیاوړتیا په مرسته د اوس مهال ستونزې او کشالې هواري کړي او د کمترۍ د کوم ژور احساس چې دوی ښکار شوي دي هغه له ځانه وشړي د تېر مهال د رغاوني په برخه کې مسلمانان په شدت سره د تېر مهال د زرین دور په لټه کې شول.

د پلټنې په بهیر کې ځینو مسلمانو مؤرخینو د زرین دور ریښې د څلورو خلیفه ګانو په دور کې وموندلې ځینو دغه ریښې د اندلس په عربي دولت کې راوسپړلې داسې مؤرخین هم وو چې فکر یې کاوه د بغداد په عباسي خلافت کې مسلمانان په علم او هنر کې د کمال اوج ته رسېدلي وو په ټوله نړۍ کې مسلمانان د ویاړمن کلتور او مدنیت څښتنان وو دغه راز مسلمانو مؤرخینو استدلال کوی چې مسلمانان چې هر ځای او د نړۍ په هر ګوټ کې وو امن خوښوونکي او امن راوستونکي وو هغوی تل د عیسویانو او یهودو سره انصاف کوی ساینس او تخنیک یې پر مخ بوت ښکلی او زړه راکښونکی تهذیب یې وزېږاوه او دوی په وازه خوله دعوه وکړه چې د مسلمانانو تهذیب پر لوېدیز ژوري اغېزې وشیندلې او دا د مسلمانانو د علمي او پوهنیزو چوپړونو پایله وه چې په اروپا کې د بیا رغښت (ریناسانس) غورځنګ پیل شو اروپایانو له اسلامه ډېر څه زده کړل ځکه نه دی په کار چې په دې هکله دې د اسلام مهم رول له پامه وغورځول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله لړۍ د اسلام او عیسویت تر منځ د پرله پسې ټکرونو او نښتو ده د دواړو مذاهبو منونکي هغه وخت سره مخ په مخ شول کله چې عربو هغه سیمې چې د عیسوي مذهب منونکي وې ونیولې دوی فلسطین (اسرائیل) سوریه، عراق، شمالي افریقا او اندلس تر خپله ولکه لاندې راوستل د دغو برياوو له کبله عیسویانو د خپل پیغمبر عیسیٰ[۴] مورنۍ ټاټوبي بايلو دا هغه غمیزه وه چې د عیسویانو په زړونو کې د تل لپاره مېشت شوه پېړۍ پېړۍ د دوی په زړونو کې دا غوښتنه په شدت سره موجوده وه چې کله به خپله سپېڅلې خاوره لاس ته راوړي په يوولسمه پېړۍ کې د اروپا ولسونه د "جهاد" (مذهبي جنګ) او صليبي جګړو په نامه خونړيو محاربو ته راوبلل شول د جګړې د ملاتړ د ترلاسه کولو په ترڅ کې خلکو ته ويل شول چې پر تاسې لازمه ده چې کفار (مسلمانان) د خپلې سپېڅلې خاورې څخه وشړئ او خپل معبدونه د اغيارو له شتون څخه پاک کړئ.

صليبيانو د تبليغاتو په اثر ډېر ملاتړي پيدا کړل او تر دوو پېړيو پورې يې بيت المقدس او د فلسطين نور ښارونه تر خپله ولکه لاندې راوستل او خپل حاکميت يې ورباندې ټينګ او وټپی، د مسلمانانو دولتونو په دې منځ کې د کوچنيو خپلواکو دولتونو په بڼه مقاومت کاوه آخر پای په ۱۱۸۷م کال مسلمانانو عيسوي دولتونه له منځه يووړل او بيت المقدس يې د هغوی له منګولو څخه راوکيښ په خپله ولکه کې يې راووست صليبيان د واک په ورکولو سره پر شا شول مګر د ماتې خوړلو تنها که يې تر اوسه په زړونو کې نه ده چاودلې د مسلمانانو هم د صليبي جنګونو يادونه هېر نه دي تر اوسه پورې صليبي جنګونه د کرکې او نفرت سمبولونه ګرځېدلي دي او يو پر بل د بې عتمادۍ د زهرو په شان د مسلمانانو او عيسويانو په وينه کې غورځنګونه وهي.

که څه هم لوېديزوالو مؤرخينو د څېړنو له رويه ثابته کړې ده چې د صليبي جګړو لاملونه اقتصادي وو مګر بيا هم مذهبي جنون لړ شوی نه دی او له دواړو خواوو څخه هڅې کېږي چې مذهبي کرکې راوپارول شي عيسوي بنسټپالان خپلو هغه اتلانو ستاينه کوي چې د بيت المقدس تر نيولو وروسته يې په زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانان وژلي وو او بلي خوا ته د صلاح الدین ایوبي هغه رول ستایل کیږي چي د بیت المقدس تر نیولو وروسته یې هلته امنیت تأمین کړی و، مسلمانو مؤرخینو عیسویان ظالمان جابران کرکه کوونکي او ځان خوښوونکي وبلل او مسلمانان یې رحم کوونکي مینه کوونکي او د پراخ نیت څښتنان وبلل.

مسلمانانو په دیارلسمه میلادي پیړۍ کي ډېره سخته صدمه ولیدله کله چي د ګوبي د ریګستان له مغولستان څخه د خدای د قهر او غضب په بڼه د وحشي او غیر متمدنو مغولو یو ستر لښکر راووت د مسلمانانو حکومتونه یې ړنګ کړل ښارونه یې تر چورولو وروسته وسوځل او د خلکو د ککریو په اوړلو سره یې منارونه او څلي جګ کړل د مسلمانانو هغه مدنیت یې چي له د پیړیو پیړیو تر زیار وروسته لاس ته راغلی وو له خاورو سره یو شی کړ.

هلته په اروپا کي عیسویانو د ښه فرصت په موندلو سره هڅي وکړې چي د وحشي مغولو سره اړیکي ټینګي کړي تر څو د خپلو ازلي دښمنانو مسلمانانو څخه پخوانی غچ واخلي مګر هغه وخت د عیسویانو ټول زیارونه اوبو یوړل کله چي مصریانو مغولو ته ماته ورکړه د هغو پرمختګ یې په ټپه ودراوه او د وخت په تېرېدو سره مغول ټولواکان یو په بل پسې مسلمانان شول دغه راز د مغولو په کفرستان اسلام خپور شو او مغول د اسلام ساتونکي شول.

د صلیبي جګړو او عیسوي نړۍ په مخالفت کي ځیني مسلمان مؤرخین دې خبري ته ګوته نیسي چي په اوس دور کي په فلسطین کي د اسرائیل په نامه د یوه یهودي دولت پر پښو درول د هماغه زر کاله پخوانیو صلیبي جګړو لړۍ ده مګر دغه مؤرخین فکر کوي چي لکه څنګه چي صلیبیانو پر فلسطین خپل حاکمیت ته تش دوې پېړۍ دوام ورکړای شوای او وروسته یې حکومت د مسلمانانو په لاس ړنګ شو دغه راز اسرائیل هم تلپاته هیوادنه دی او هر کله چي یې لوېدیزوال له ملاتړ څخه لاس واخلي اسرائیل به ړنګیږي.

د اوس دور په اروپا کي د اسلام په هکله د متعصبو عیسویانو په زړونو کي ښخ تعصبات او نفرتونه د تېر مهال او د تاریخ د ترخو یادونو په آب حیات اوبیږي.

د اسلامي تاریخ یوه بله موضوع د یوه مذهب څخه بل مذهب ته د اوښتلو

ده له یوې زمانې څخه په عیسویانو کې دې فرضیې شهرت درلود چې اسلام هغه دین دی چې د توري په زور په خلکو او ولسونو منل شوی دی او مسلمانو واکمنو له جبر او ځواک څخه په کار اخیستلو د اسلام د تبلیغ په پرده کې اېل شوي ولسونه اړ کړل چې هغوی مسلمانان شي او اسلام ته د یوه دین او د یوه سیاسي نظام په حیث غاړه کېښېږدي.

تر ډېرو څېړنو وروسته اوس مؤرخینو د یو لړ دلایلو په راوړلو سره دغه فرضیه رد کړې ده او ویلي یې دي چې اسلام د پوځي پیاوړتیا له لارې نه دی خپور شوی بلکې د سیاسي ټولنیزو او اقتصادي لاملونو د زبردست فشار له کبله خلک په تدریج سره د اسلام خوا ته راغلل "ایرا لاپیدوس" نومي مؤرخ په خپل کتاب "د مسلمانو ټولنو مطالعه" کې دې خبرې ته اشاره کړې ده چې په دیارلسمه مېلادي پېړۍ کې چې کوم هیوادونه عربو تر خپله سیاسي ولکه لاندې راوستل د هغو ډېر کې مسلمانان نه وو او هغوی په یوه زمانه کې نه دي مسلمانان شوي بلکې ډېر کرار او په یوه اوږده موده کې د دوی د مسلمانېدو پروسه پای ته رسېدلې ده دا پروسه هغه وخت پیل شوه چې عربو بریالیو هلته نوي نظریات ورسول چې په نتیجه کې د هغوی ټولنیزې او مذهبي ادارې(۱) کمزوري شوې کله چې سیاسي واک د مسلمانانو لاس ته ولوېد کلیسا او د عیسویت ادارې د حکومت له سرپرستۍ څخه لاسونه پرېولل هغه و، چې په سترتوب او اغېزمن والي کې کمښت راغی په داسې اوضاع کې چې د کلیسا واکمنه اداره په سیاسي توګه له پښو لوېدلې وه خلکو د مذهب الیشولو ته مخه کړه د دې ښې بېلګې په پارس او اوسني عراق کې ولیدل شوې چې هلته فیوډالي نظام له منځه ولاړ او د خلکو ملاتړ کوونکې ادارې ړنګې یا محوه شوې خلکو په دې نیت چې د اسلامي دولت په سرپرستۍ کې په راتلو سره د اسلامي ټولنې برخه وګرځي خپل پخوانی مذهب پرېښود او اسلام یې ومانه.

(۱) له دې حقیقته څخه سر نه شو غړولای چې د هرې نوې ادارې په پرتله زړه اداره په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې خپلې ساتنې او پایښت ته اړتیا لري یعنې د نوښت په پرتله زړښت ځان نه شي ټینګولای او په مقابل کې یې محوه کېږي یا ماته ورڅخه منې دلته هم د عیسویت زړې ادارې د اسلام نویو او تازه افکارو ته ځواب و نه ویه او ماته یې ومنله. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي عربو او ترکانو هیوادونه او ښارونه ونیول د هغه ځای د لوړ قشر خلک مسلمانان نه شول او لږ.کي مسلمانو واکمنو پر ډېر کیو خپل تسلط برپایه وساته د هغوی په کلتور کي یې ځایونه منحل نه کړل پر ځای یې خپل کلتور ژوندی وساته کله چي د اېل شوي هیواد د واکمنانو له ټولې څخه خلک مسلمانان شول هغوی خپل کلتور د نویو ورغلیو بریالیو واکمنو په کلتور ور ګډ کړ د دې ښې بېلګي د اندونیزیا او افریقا هیوادونه دي چیري چي د اېل شویو او بریالیو تر منځ توپیر له منځه ولاړ او په کلتوري لحاظ سره یو شول مګر په هند کي بریالۍ مسلماني ټولې خپل کلتور بېل وساته او د هند په کلتور یې ځانونه ګډ نه کړل د دې ښه بېلګه د هند مغولي امپراتوري ده.(۱)

مؤرخینو د ډېرو ستونزو تر څنګ دې ته هم ګوته ونیوله چي د خلکو د مذهب د الیشولو په پایله کي کومي کشالې رامنځته شوې د لومړنیو بریاوو په پایله کي چي د منځنۍ آسیا وګړي مسلمانان شول د دوی لپاره تر ټولو لویه لانجه دا وه چي باید څنګه د عربو په ټولنه کي ځانونه ور ګډ کړي او د هغې ټولني یوه برخه وګرځي عربو د لرغوني افغانستان او پارس وګړي د موالیانو(۲) په نومونو سره ونومول په موالي کېدو سره دوی د عربو د یوې ځانګړي غړي بلل کېدل مګر بیا هم د عربو په پرتله د دوی ټولنیز ارزښت لږ و، د عربو سیالان نه بلل کېدل د عربو په پرتله نورو قومونو هیله درلوده چي تر مسلمانېدو وروسته به د دوی ټولنیزه مرتبه لوړه شي او د سیالۍ په میدان کي به په یوه نظر ورته وکتل شي مګر په ربښتیا سره داسي نه وو او له هغوی سره د برابرۍ سلوک نه کېده د داسي ولسونو لپاره د عجم یعني ګونګیانو اصطلاح کارول کېدله(۳)

---

(۱) مغولو په هند کي خپله ژبه او خپل عنعنات له ځانه سره تینګ ساتلي وو هغو په ترکي ژبه خبري کولې او د دربار ژبه یې پارسي وه وروسته یې د پارسي عربي او د هندو یو لړ نورو ژبو له ګډون څخه یوه بله ژبه جوړه کړه چي ریخته او اردو معلی یې بلله او په دغه ژبه یې تکلم کاوه. ژباړن

(۲) موالیان عربو فاتحینو هغو مسلمانانو ته ویل چي پلرونه او نیکه ګان به یې د دوی په وسیله مسلمانان شوي وو. بله اصطلاح یې: موالیان یعني د مسلمانانو غلامانو خپلواک اولادونه. ژباړن

(۳) یعني پر ته له عربو نور ولسونه د فصیحي ژبي څښتنان نه دي د عربو دغه نظر یوازي د یوه ولس په هکله نه و، بلکي د ټولو غیر عربو لپاره عام و. ژباړن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول تصور یوازي په عربو کي موجود نه و، یونانیانو هم نور اقوام بوربریان یعني وحشیان بلل هندوانو ملیچ یعني بهرنیان بلل او یهودو جنټایل یعني غیر یهود بلل او په حقارت ورته قایل وو.

دې کار په نوي مسلمان شویو قومونو کي کلک غبرګون را وزېږاوه په موالیانو کي د ملتپالني غورځنګ راویښ شو دغه غورځنګ د شعوبیه په نامه وپېژندل شو په ټولنه کي د مساوي حقوقو لپاره مبارزه کوونکو د هر هغه خوځښت ملاتړ وکړ چي د وخت د حاکمانو پر ضد و، آخر د امویانو پر ضد عباسیان واک ته ورسېدل د عباسیانو په بریالیتوب کي له عربو پرته نورو قومونو ډېر لوی لاس درلود هغه و، چي نژادي توپیر له منځه ولاړ او په عباسي واکمنۍ کي دوی ته هم مساوي حق ورکړل شو او د دوی ژبو هم د عربي تر څنګه رشد وموند که څه هم په شمالي افریقا کي عرب په سیاسي توګه دومره بریالي شول چي ژبي یې د هغه سیمي ژبي له منځه یووړې او یوازینۍ ژبه پاته شوه مګر په ختیزو اسلامي هیوادونو کي داسي نه وو هلته مسلمانانو د خپلو ژبو ساتنه وکړه د عربو د تسلط پر ضد یې د ارزښت وړ مبارزې وکړې او له عربو څخه یې سیاسي خپلواکي تر لاسه کړه.

په څوارلسمه مېلادي پېړۍ کي نژدې د نړۍ ټولو مسلمانو ټولنو درې نخښې خپلي کړې وې لکه:

(۱) دربار (۲) شاهي ماڼۍ (۳) د ښار کلا، یا:

(۱) مسجد (۲) خانقاه (۳) زیارت.

پورتنۍ درې سره نخښې د مسلمانانو سیاسي مذهبي او روحاني اړیکي ښیي موږ وینو چي مسلمانو واکمنو څنګه مسلمان ملایان د حکومت او دربار سره وتړل هغو ته یې معاشونه ور وټاکل ملایانو د دربار سره د تړل کېدو په اغېز خپلواکي بایلوده سیاست او مذهب سره بېل شول که څه هم د خانقاه صوفیان له سیاسته لیري ګرځېدل مګر د دوی مصارف حکومتونو کول ځکه دوی هم د حکومت لپاره خطر نه ګرځېدل همدا لامل و، چي په مسلمانو ټولنو کي د ټولواکو او زورواکو پاچاهانو ځواک لا زیات پیاوړی شو او پښې یې ټینګي شوې.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندي مسلمانانو له پخوا څخه د هند د لرغوني تاریخ سره هیڅ لېوالتیا نه ده ښودلې او د هند تر اسلام پخوانی تاریخ یې پردی بللی دی او د دې پر ځای یې د بغداد د عباسیانو او د اندلس د عربو دوره زرینه دوره وبلله په دې لړ کې په هند کې یو لړ مسلمانانو لکه شبلي نعماني، عبدالحلیم شرر، عبدالرزاق کانپوري، سید سلېمان ندوي او امیرعلي پر اسلامي تاریخ کتابونه ولیکل د خپل نظر دفاع یې وکړه او د محمد بن قاسم، طارق بن زیاد، موسیٰ بن نُصَیر، محمود غزنوي، شهاب الدین غوري او یوسف بن تاشفین کارنامې او بریاوې یې روښانه کړې یعني د هند د مسلمانانو زیاتره اتلان د هند د سیمي اوسېدونکي نه وو بهرنیان وو په هند کې د مسلمانانو د اتلانو قحط الرجال رامنځته شو د هند مسلمانان د هند له لرغوني تاریخه بېل شول که په دې هکله موږ فکر وکړو چې ولې د هند مسلمانانو د هند له سیمي سره رشتوني اړیکې جوړې نه کړې او ولې یې خپلې هیلې له بهرنیو سره وتړلې ښایي د دې لامل دا وي چې د هند مسلمانان پخپله هم د هند اوسېدونکي نه وو بهرنیان وو د یرغلګرو په توګه یې هند اشغال کړی و، او په حقیقت سره د هند د استثمارولو لپاره هلته ورغلي وو څوک چې په داسي ذهن سره ژوند کوي د هغو په زړونو کي د سیمه ییز تاریخ سره د زړه سواندی کومي ولولولې نه راپارېږي همدا لامل دی چې د هند مسلمانانو خپل تاریخ هند ته د دوی له ورتګه راپیل کړ او د دوی تاریخ یوازي یو څو پېړی شا ته ولاړ او د هند د لرغوني تاریخ او ما قبل الاسلام تاریخ سره یې کومي اړیکي ټینګي نه کړې او هغه یې یوازي د کفارو د تاریخ په بللو سره له پامه وغورځاوه.

د بې غوره ټولنو واکوالان تل د هندي مسلمانانو د ذهنیت ښکارندویي کوي هغوی لرغونی تاریخ د پاملرني وړ نه بولي او د پخوانیو آثارو له سپړني څخه سترګې اړوي که څه هم په لرغوني زمانه کي د هندوس وادۍ د یوه ستر مدنیت ځانګو وه او په شلمه پېړۍ کي سپړنو د هندوس د وادۍ "موهنجودارو" ښار رابرسېره کړ مګر په دې کي حکومت کومه لېوالتیا و نه ښودله او پر ځای یې دې ته اهمیت ورکړ چې څنګه د مسلمانانو په راتګ سره د سند ناوه باب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاسلام (مهران الذهب) شوه د "دېبل" ظالم واکمن هندو "راجاداهیر" د مجاهد ځوان محمد بن قاسم له لاسه ماته وخوړله او د مهران په سیمه کي اسلامي کلتور د سیمه ییز کلتور ځای ونیو دغه راز د پنجاب په سیمه کي د "هرپا" کیندني هم د حکومت د خوښي او پام وړ و نه ګرځېدې پر ځای یې دې ته اهمیت ورکړل شو چي څنګه محمود غزنوي د لاهور هندو واکمنو "جې پال" او "پریتوي راج" ته ماته ورکړه او د هند لویې وچي ته یې د مسلمانانو د ورتګ لاره هواره کړه دغه راز د ګندهارا لرغونی تهذیب هم د حکومت د تنګ نظری ښکار شوی دی.

کوم حکومتونه چي د خپلي سیمي له تاریخه سره اړیکي نه ټینګوي او خپل تاریخ د یرغلګرو په بریدونو کي ولټوي د یرغلګرو ستروالی ثابت کړي د هغو کارنامې د ځان کارنامې وبولي د هغو له نومونو څخه سیاسي او تاریخي ګټه پورته کړي لکه دا چي دلته د ابدالي، غوري او غزنوي نومونه کارول کېږي یا دا چي د دې سیمي د خلکو ذهنیت دا رنګه جوړ کړل شوی دی چي په دوی کي ډېر خلک د خپلو نومونو سره بخاري، غزنوي، ګردېزي، غوري، بدخشاني، مدني، قریشي، اصفهاني، تبریزي، شیرازي او چغتایي زیاتوي دا ځکه چي په هند کي د مسلمانانو پر مېشتېدني ډېري پېړۍ واوښتې مګر تر اوسه پوري د هغه ځای د ځینو مسلمانانو د ذهنونو څخه د خپل پلارني ټاټوبي سره نسبي اړیکي نه دي شلېدلي او داسي القاب د خپلو نومو برخه ګرځوي چي په هغو سره د دوی د لرغونی ټاټوبی په ذهنونو کي تازه کېږي او له دې څخه دا روحیه هم جوتېږي چي څوک چي د پردیو په یرغلونو او تاړاکونو ویاړ وکړي او د ښکېلاکګرو د تېري د جواز لپاره یو لړ دلیلونه راوړي د هغو تاریخ څومره پیکه او شوم وي.

یو څو کاله مخکي په ټېکسیلا کي د یوناني سکندر (سکندر مقدوني) یا د دوی په وینا د "سکندر اعظم" په یاد کي د یادګار په توګه د یوه کتابتون د جوړېدو پخلي وشو چي موخه یې د یوناني سکندر د ستروالي او برم اعتراف کول و، تاسي پام وکړئ ښایي دا به د نړۍ یوازیني هیواد وي چي د غندلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ځای، یرغلګرو او ښکېلاکګرو ته ښه راغلاست وایي او د هغو د تاړاکونو او وژنو په یاد کي یادګارونه جوړوي.

(په دې لړ کي باید و ویل شي چي د هند د لویي وچي د مسلمانانو او د افغانانو په ذهنیتونو کي ډېر توپیر دی په افغانستان کي پردیو یرغلګرو ته د غاصبانو او تېري کوونکو په سترګه کتل کېږي یوناني سکندر، چنګېز خان، ګوډ تېمور، مغولي، صفوي، افشاري او قاجاري (غجر) ښکېلاکګرو ته هیڅکله افغانانو هر کلی نه دی ویلی او نه یې د دوی په یاد کي یادګارونه ودان کړي دي.

تاسي پام وکړئ چي افغانانو هیڅکله د هند د لویي وچي د مسلمانانو په رنګه نه دي کړي چي خپل اتلان له خپلي سیمي څخه بهر ولټوي بلکي د افغانانو اتلان د دوی له خپلي سیمي څخه راټوکېدلي دي او بله خبره دا چي افغانانو له خپل لرغوني تاریخ سره چي تر اسلام پخوانی دی اړیکي نه دي شلولي بلکي اړیکي یې ورسره ټینګي کړي دي نن افغانان د ګندهارا او آریانا په ویاړونو او تهذیبونو نازېږي او خپل لرغونی تاریخ پنځه زره کاله شا ته بیایي هغوی یوازي پر هغه تاریخ بسنه نه کوي چي تر اسلام را وروسته دی بلکي هغوی غواړي چي تر اسلام پخواني ویاړونه او افتخارات هم د ځان کړي د دې ښې بېلګي د استاد علي احمد کهزاد "د افغانستان پخوانی تاریخ" د میر غلام محمد غبار "افغانستان در مسیر تاریخ" د عبد الحی حبیبي "د افغانستان لنډ تاریخ" د عبدالرزاق پالوال "د پښتنو نوی پخوای تاریخ" د میر محمد صدیق فرهنګ "افغانستان در پنج قرن اخیر" او یو لړ نور کتابونه دي چي په هغو کي افغاني مؤرخینو څېړنه کړې ده چي د خپل هیواد لرغونی تاریخ روښانه کړي او په نړۍ کي یې د نورو سیالو ولسونو په وړاندي وځلوي). ژباړن

## مأخذونه:

۱- تاریخ کی آواز
لیکوال ډاکتر مبارک علي
چاپ ۲۰۰۵م لاهور
فکشن هاوس، لاهور
(اسلامی تاریخ نویسی ایک جائزه)

۲- تاریخ شناسی
لیکوال ډاکتر مبارک علي
چاپ ۲۰۰۲م لاهور
فکشن هاوس، لاهور
(مسلمانوں کی تاریخ نویسی)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام او پاچاهي

په اسلامي تاريخ کي دغه پوښتنه له پخوا څخه راروانه ده چي آيا په اسلام کي پاچاهي جواز لري؟ په تاريخ کي دغه پوښتنه ځکه اهميت لري چي اسلامي تاريخ د واکمنو کورنيو د حکومتونو څخه ډک دی که پاچاهان له اسلامي تاريخ څخه و ايستل شي نو به د تاريخ کړی ډېره تنګه شي او دا خبره هم د اهميت وړ ده چي اسلامي تاريخ بايد کوم دور ته و ويل شي آيا يوازي د اسلام د پيغمبر محمد[ص] او د هغه د څلورو خليفه ګانو دور رشتوني اسلامي تاريخ و، او وروسته چي کوم بدلونونه راغلل هغه تش د مسلمانانو تاريخ و.

د يوې ډلي رايه دا ده چي اسلام خپل بنسټيز کلتور تر هغه وخته پوري پر خپل حال پاته وساته تر څو چي په عربو کي قبيلوي جمهوريت و، په هغه وخت کي يو کليوال او صحرايي عرب کولای شواي چي د وخت د خليفه څخه پوښتنه وکړي چي تا له دوو ټوکرانو ځان ته کالي څنګه جوړ کړل حال دا چي ستا استحقاق يو ټوکر دی.

کله چي د پوځي برياوو لړۍ ونښلېده ايران، عراق، سوريه او مصر تر ولکه لاندي راغلل د مسلمانانو په حکومتي کالبوت کي بازنطيني او ساساني اثرات ور ننوتل د عربو سياسي نظريات يې ور بدل کړل تر يوه حده د دغو نظرياتو د مخنيوي هڅي وشوې د بېلګي په توګه کله چي دويم خليفه عمر[رض] خبر شو چي عمر بن عاص په فسطاط کي يو مسجد جوړ کړی دی په محراب کي يې يو جګ منبر ايښی دی پر هغه خيژي خطبه وايي او وعظ کوي د اسلام دويم خليفه د هغه منبر د ماتولو امر وکړ هيڅا اجازه نه درلوده چي تر نورو مسلمانانو دي لوړ ودرېږي کله چي معاويه[رض] د سورېې د والي په حيث د خپل برم د جواز په ترڅ کي و ويل چي د دې پر ته خلک د ده امر منلو ته غاړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېړدي عمر رض خاموش شو او بېغ يې و نه کړ.

ځيني خلک نيوکه کوي چي بازنطيني او ساساني اغېزو د مسلمانو واکمنو جمهوري رول په ديکتاتوری بدل کړ هغوی له دې حقيقته ولي سترګي غړوي چي دوه تهذيبونه سره يوځای شي پايله يې يو داسي ګډ کلتور رامنځته کېږي چي د دواړو تهذيبونو ځانګړني پکښې وي د عربو په برياوو سره په ډېر لوی شمېر سره پارسيان، عراقيان، سورياوان او مصريان مسلمان شول او د هغوی کلتوري ارزښتونه د اسلامي ټولني برخه وګرځېدل.

تر دې وروسته واکمنو عربو ډلو بازنطيني او ساساني شاهي ارزښتونه خپل کړل او ځانونه يې له نورو څخه بېل کړل که څه هم اموي واکمنو عربي کلتور پاته ساتلی و، مګر هغوی هم د حکومت کولو ساسانی او بازنطينی نخښې نښانې خپلي کړي وې او هغه وخت اوضاع په بشپړه توګه واوښتله کله چي د پارسيانو په مرسته عباسيانو واک تر لاسه کړ په دغه وخت کي شاهي دربار د ساساني دربار نمونه وګرځېده.

يو ځلي چي د پاچاهی اداره پر پښو درېده بيا يې ړنګول شونی نه و، د دې لپاره مذهبي ډلي نه ځواک درلود او نه يې واک، او نه يې غوښتنه درلوده چي د مخالفت بېغ دي پورته کړي البته د پاچاهی د اداری د مشروعيت لپاره دلايل راوړل شول او د هغه ګټوروالی ثابت شو دغه راز په ټولنه کي د پاچاهي اداري شرعي او قانوني حيثيت تر لاسه کړ.

په پخوانيو ټولنو کي د پاچاهی د اداري ټول واک د پاچا په شخصيت کي راغونډ شوی و، پر دې بسنه و نه شوه مذهبي چاري هم پاچا ته وسپارل شوې هغه سپېڅلی وبلل شو او داسي حيرانوونکي کارنامې ورته منسوبي شوې چي د بشر تر واک وتلي وې په نتيجه کي يې پاچا د الوهيت درجې ته ورسېد او د خدايي دعوه يې وکړه بيا يې د خپلي سپېڅلتيا د پاته ساتلو او لا زيات ځواک تر لاسه کولو لپاره وکړي دې ته راوبلل چي د ده عبادت وکړي او د ده د خولې څخه راوتلې هره خبره د الٰهي قوانينو په حيث پر ځان ومني.

رابه شو دې خبري ته چي په مسلمانه ټولنه کي د پاچاهی د اداري تر راتګ

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه د هغه سیمو اهمیت څه و، چې مسلمانانو نیولي وې او د نړۍ په لویو تهذیبونو کې د پاچاهۍ د ادارې تکامل تر کومو شرایطو لاندې وشو په دې هکله باید و ویل شي چې تر اوسه موږ پر دې بحثونه کړي دي چې څنګه د دوو تهذیبونو تر منځ ټکرونه رامنځته کېږي د بېلګې په توګه د پارس او یونان تر منځ جنګونه یا د اسلامي او نصراني تهذیبونو تر منځ ټکرونه وو مګر اوس پر دې خبره هم خبرې کېږي چې د دوو تهذیبونو د ټکر په نتیجه کې کوم ډول ګډ کلتور رامنځته شو او د ټکر په نتیجه کې دواړو تهذیبونو له یو بل څخه څه زده کړل.

په دې نظر سره چې تاریخ ته وکتل شي مقدوني سکندر د پارس او یونان سره لیري کوونکی نه بلکې سره نژدې کوونکی دی د هغه د پوځي بریالیتوبونو په پای کې لوېدیز او ختیز سره لیري نه شول سره نژدې شول او له یو بل څخه یې زده کړې وکړې نو باید تهذیبونو ته د ټکر په اړخ و نه کتل شي دې ته وکتل شي چې څنګه ګډ کلتور راوټوکېد او د بېلو بېلو تهذیبونو خلک یې سره رانژدې کړل.

ولې د پاچاهۍ اداره پر پښو و درېده او په بشري ټولنو کې تر ټولوستره اداره وګرځېده لامل یې دا و، کله چې سیاسي قوت پکښې راغونډ شو د پاچاهۍ اداره دیکتاتوره اداره شوه او دا یې وینا وه چې هر هغه شی ومنه چې د سیاسي ځواک څښتن وي او یا یې نماینده ګي کوي.

د پاچاهۍ اداره پر یوه حال نه ده پاته شوې په هر تهذیب او سیمه کې یې بېل رول لوبولی دی د بېلګې په توګه مقدوني سکندر ته که د پاچا په توګه وکتل شي هغه په نیول شویو سیمو کې په بېلو بېلو نومونو وپېژندل شو مصریانو هغه ته خپل ټول واک وسپاره او هغه یې په خدایي ومانه پارسیانو د ستر پاچا او ټولواک په حیث ومانه مګر د خدایي درجه یې ور نه کړه یونانیانو په خدایي ومانه مګر د هغه ټولواکي یې و نه منله په خپل هیواد مقدونیه کې نه هغه د خدای په توګه ومنل شو او نه یې ټولواکي خلکو ته د منلو وړ وه البته نیم قانوني واکمن یې وباله د دې پورتنیو بېلګو څخه جوتېږي چې په یو لړ هیوادونو

(c) Pahlavon.com: The Digital Library



او په څنګ کې يې د څواک او تهذيبونو کې د پاچاهۍ د اداري تکامل بېل بېل و. او واک نخښې نښانې هم په بېلو بېلو وختونو کې په بېله بېله بڼه رامنځته شوې د بېلګې په توګه "تاج" د پاچاهۍ يوه اړينه نخښه وګرځېده او په لومړي سر کې هغو قومندانانو ته ور پر سر کېده چې د جنګونو څخه بريالي راتلل عباسي خلفاوو دغه دود جاري وساته خپلو قومندانانو ته يې د هغو د چوپړ په اعتراف کې تاج ور پر سر کاوه مګر پخپله يې تاج شاهي نخښه و نه ګرځاوه که څه هم عباسيانو ته د پارس له نخښو څخه تاج هم ور رسېدلی وو چې ساساني پاچا پر سر کاوه او دغه تاج ډېر درووند و، او د خونې تر پوښښ لاندې راځړېده مګر عباسي خليفه ګانو د پاچاهۍ نخښه و نه ګرځاوه.

په اروپا کې پاچاهانو تاج د يوې شاهي نخښې په توګه پر سر کړ که څه هم کليسا دغه کار نه خوښاوه او د کفر له نخښو نښانيو څخه يې بالله وروسته د تاج پر سر کول دوديز شو په کارولينجن حکومت (۸۰۰-۹۱۲م) کې د تاج د پر سر کولو دود په کليسا کې پر ځای شو پاپ او نورو مذهبي مشرانو ګډون پکښې وکړ د تاج د پر سر کولو دود سپېڅلې بڼه خپله کړه پر دې پېښه د خير او برکت لپاره په کليسا کې دعاګانې هم ويل کېدلې د بېلګې په توګه په ۸۶۹م کې چې د "چارلس دي بالډ" لپاره کومې دعاګانې و ويل شوې په ۱۸۲۵م کې د فرانسې د پاچا "لسم چارلس" د تاج پر سر کولو د مراسمو پر وخت هم هغه دعاګانې و ويل شوې او د تاج په پر سر کولو سره پاچا په مذهبي او سياسي توګه مشروع ګڼل کېده.

د پاچاهۍ دويمه نخښه لکړه وه بابلي پاچاهانو سايوان او د مچانو د شړلو لپاره پيک هم درلود دغه نخښې ساسانيانو هم خپلې کړې او د مصر فاطمي خليفه ګانو او مملوکو پاچاهانو په دربار کې يې هم دوديزه بڼه خپله کړه.

د تخت رواج په هند او منځنۍ آسيا کې دود و، پاچاهان په دربار کې تر اميرانو پر لوړ ځای کښېنستل پاچاهان د نورو خلکو څخه ليري وو هر شي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو له رسېدنې څخه لیرې وي په خلکو کې د هغه وجود له رازونو څخه ډک وي او حیرانوونکی وي او تل حیرانوونکي شیزونه په خلکو کې وېره او وهم پیدا کوي همدا لامل و، چې ساساني واکمنو د خپلو امیرانو او ولس څخه لیریوالی ساته بلکې د پردې تر شا کښېنستل دغه پرده امویانو او عباسیانو هم خپله کړه په لیرې اوسېدو کې دا ګټه وه چې پاچا د سلطنت په نظم کې پخپله نه معلومېده د هغه نمایندګان مخته وو که د سلطنت په نظم کې کومه خرابي رامنځته کېده مسوولیت یې پر نمایندګانو راته پر پاچا نه، دغه راز پاچاهان د هر راز خرابیو څخه خوندي پاتېدل.

د اروپا په ځینو هیوادونو کې د پاچا په هکله داسې ویل کېدل چې پاچاهان پر بدنونو د پاچاهۍ د نخښو په لرلو سره د پاچاهۍ حق لرونکي ګرځي او د درواغو دعوه لرونکو څخه یې بېلوالی راځي د همداسې بدني ځانګړتیاوو له کبله د فرانسې او انګلیستان خلکو باور درلود چې د پاچا په لاس ور وړلو سره ناروغان له رنځه څخه روغتیا مومي په څوارلسمه مېلادي پېړۍ کې په انګلیستان کې دا دود و، چې د تاج پر سر کولو د مراسمو پر وخت یې د پاچا بدن په تېلو غوړاوه وروسته دغه دود د اورپا په نورو هیوادونو کې هم پلی شو او دا عقیده وګرځېده چې دغه تېل پېغلې مریمې له جنته د پاچاهانو لپاره را استولي وو.

پاچا د نورو خلکو څخه ډېر لوړ بلل کېده د دې روایت د اثبات لپاره ډول ډول کیسې او عقیدې جوړې شوې له هغو څخه یوه عقیده دا وه چې پاچاهان د لمر سره اړه لري د پخواني عراق پاچاهانو ځانونه د لمر زامن بلل دغه راز خلکو د دوی عبادت کاوه او سجدې یې ورته کولې د جاپان پاچاهانو هم ځانونه د لمر اولادونه بلل.

د پورتنیو روایتونو او کیسو په جوړېدو سره پاچاهانو الهي بڼه خپله کړه او سپېڅلي ورګرځېدل او د رعیت لپاره لازمه شوه چې عبادت او اطاعت یې وکړي په یوناني روایتونو کې افلاطون و ویل چې پاچا باید سپېڅلی او الهي حیثیت ولري همدا لامل و، چې سکندر مقدوني ځان د خدای اولاد وباله جولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



سزار هم د هغه پر پله ولاړ د همدې روايت پر بنسټ د رومي شاهانو عبادت کېدل پيل شو او د عبادتونو او لمانځنو لپاره درمسالونه جوړ شول کله چي پاچا سپېڅلی شو د هغه سره تړلي ټول ارزښتونه سپېڅلي شول د بېلګي په توګه هغه ته سجده کول لاس او پښې يې ور مچول کالي يې مچول او داسي نور...

هغه وخت چي د روم امپراتور قسطنطين (Constantine) مسيحيت ومانه هغه هم دغه رسمونه جاري وساتل تر څو د پاچا د امرونو څخه په سر غړولو سره څوک بغاوت و نه کړي او د ده پر ضد په سازش کي ګډون و نه کړي ولي چي يوې خوا ته يې سپېڅلی حيثيت درلود بلي خوا ته د ځواک ښښتن و، روزي ورکوونکی او د ژوند او مرګ ښښتن و، ځکه بايد د هغه له امرونو څخه سر و نه غړول شي د پاچا امر نه منل مذهبي جرم وګرځېد د پاچا د حيثيت د الهي کېدو له کبله ځواک نور ټينګښت وموند او د هغه ذمه وګرځېده چي په خلکو کي نظم وساتي او په ټولنه کي امنيت ټينګ کړي.

د نړيوالي پاچاهۍ د تصور په بحث کي "فرايډ" دې خبري ته اشاره وکړه چي کله يو پاچا په سياسي توګه ځواک تر لاسه کړ هغه قبايلي مشران تر خپله ولکه لاندي راوستل او د يوه دولت په جوړلو سره يې د شهنشاهيت بنسټ کښېښود په دې پړاو کي دا تصور را پيدا شو چي څنګه چي هره قبيله خپل اتل لري او څنګه چي يو پاچا وي دغه راز دي خداى هم يو وي تر څو ټول سره متحد کړي هغه و، چي د يوه خداى او يوه پاچا د نړيوال سلطنت يا شهنشاهيت بنسټ يې کښېښود او په مسيحيت کي هڅه وشوه چي کليسا او دولت دي مسيحيان سره متحد کړي په اروپا کي پاپ د روحانيت د جنډې پورته کوونکی و، او پاچا سياسي واک برم درلود په وروسته پېړيو کي پاپ د پاچاهۍ ټولي نخښي او برم په خپل ځان کي راغونډ کړ او پاچاهان يې تر خپل اغېز لاندي راوستل په عيسويت کي دغه توپير و، چي په روم کي کليسا تر پاچا زياته پياوړې شوه مګر بازنطيني کليسا د پاچا په ولکه کي پاته شوه او د روم غوندي برم يې تر لاسه نه کړ.

امويانو او عباسيانو خپلي پلازميني دمشق او بغداد ته ولېږدولې او د عربي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونو څخه ليري شوې هغو ساماني او بازنطيني ارزښتونه خپل کړه خلافت يې په ټولواکۍ اليش کړ ورسره يې د پاچاهۍ نخښې نښانې او دودونه هم خپل کړل که څه هم امويانو او عباسيانو تاج د شاهي نخښې په توګه خپل نه کړ يوازې عباسي خليفه المعتصم بالله (واکمهال: ۸۳۳- ۸۴۲م) يو تاج پر سر کړی و، چې يوه دانه الماس پکښې ټک وهل شوی و، که نه وي هغوی تاج يوازې پوځي جنرالانو ته د هغوی د چوپړ له کبله په انعام کې ورکاوه د مصر فاطمي خليفه ګانو د تاج پر ځای لنګوټه ترله د تاج د پر سر کولو دود په رسمي توګه آل بويه (واکمهال: ۹۳۲- ۱۰۶۲م) پيل کړ.

خليفه ګانو ځانونه د نورو خلکو څخه د بېل ساتلو دود د امير معاويه په زمانه کې پيل کړ چې د هغوی لپاره په مسجد کې مقصوره جوړه شوه چيري چې هغه يوازي لمونځ کاوه د پردې پيل هم په دغه زمانه کې وشو.

کله چې د پاچاهۍ او ملوکيت نظام پر پښو ودرېد مسلمانو مفکرينو د هغه د جواز لپاره ډول ډول دليلونه راوړل تر ټولو مهم او لوی دليل دا و، چې خلک جاهلان، جنګره او بدخويه وي د هغوی د پر لار کولو لپاره او په ټولنه کې د امنيت د ټينګولو لپاره د پاچا وجود مهم دی په دې لړ کې داسي کتابونه وليکل شول چې په هغو کې د پاچاهانو د لارښووني لپاره يو شمېر نصيحتونه وو آريايي(۱) پاچاهان د مسلمانو پاچاهانو لپاره نمونه وګرځېدل د هغوی د بهادرۍ او حکومت کولو له کيسو څخه ډک کتابونه مسلمانو پاچاهانو لوستل د بېلګې په توګه د قابوس "قابوسنامه" او د نظام الملک "سياستنامه" چې د يادولو وړ دي د همداسي کتابونو په برکت پاچاهان د خدای سيوری وبلل شول او د پاچا لپاره مهمه وګرځېده چې له نورو خلکو دي ځانونه ليري کړي تر څو د هغوی دبدبه ښکاره شي په ټولنه کې انصاف راولي ولې چې يوازې د انصاف له لارې پاچا پر خلکو خپل حکومت کولای شي.

که څه هم پاچاهانو هغه ټولې نخښې نښانې خپلې کړې چې د عربي کلتور

---

(۱) آريايي څخه مطلب د آريانا (اوسنی افغانستان) او پارس (اوسنی ايران) پاچاهان دي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه مخالفي وې مګر مسلمانو مفکرینو نه یوازي د پاچاهۍ اداري ته بلکي د هغې سره تړلو ټولو ارزښتونو ته د وخت د اړتیا له کبله اسلامي بڼه ورکړه او جواز یې ور وباخښه تر دې اندازې چې الماوردي په "احکام سلطانیه" نومي کتاب کې د یوه غاصب واکمن حیثیت قانوني ومانه ولې چې هغه زورور دی او ولس کمزوری ځکه د هغه څخه سر غړول ځان په ناورین اخته کول دي.

د پاچاهۍ اداره چې په مسلمانو هیوادونو او ټولنو کې له کومو شرایطو څخه تېره شوې ده د هغه څخه دا پایله راوزي چې د زماني د اړتیاوو او د وخت د غوښتنو پر بنسټ اداري او دودونه اوړي په یوه بڼه تل نه پاتېږي بلکي د هغوی د فشار له کبله مذهبي ارزښتونه او ګروهي هم بدلون مومي.

په نن دور کي په زیاتره هیوادونو کي د پاچاهۍ اداري نسکوري شوي دي ځای یې جمهوریت نیولی دی اوس یو ځلي بیا اړتیا لیدل کېږي چې د وخت د غوښتنو سره سم دي د نوي نظامونو د منلو لپاره زاړه فکرونه وغورځول شي او نوي افکارو ته دي لاره ورکړل شي.

**مأخذ:**

تاریخ اور تحقیق
لیکوال ډاکټر مبارک علي
چاپ ۲۰۰۵م لاهور
فکشن هاوس. لاهور
(اسلام اور بادشاہت)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسلمانان او نوښت

کله چې د اسلام په هکله په مسلمانانو کې د نوښت خبره کېږي داسې انګېرل کېږي چې ښايي په ټولنه کې لوړېدیز ارزښتونه راوستل کېږي له همدې کبله زښت غبرګون ښودل کېږي چې د ټولنې اروپايي کول زموږ ارزښتونه له منځه وړي او زموږ د ځانګړي کلتور د له منځه وړلو توطیه ده ځکه هلې ځلې پيل شي تر څو د نوښت د پروسې د مقابلې لپاره سيمه ييز ارزښتونه او اداري راژوندۍ کړل شي.

د نوښت له پروسې څخه مسلمانان په شک اخته دي دوی ډېره اوږده موده د اروپايي هيوادونو د مستعمرو په توګه ژوند کړی دی اروپايانو چې په مسلمانو ټولنو کې خپلو ارزښتونو ته وده ورکوله هلته يې د مسلمانانو پر ارزښتونو او پر سيمه ييز کلتور کلک ګزارونه وکړل همدا وجه ده چې نن مسلمانان د نوښت له پروسې څخه بد وړي دوی وېرېږي چې هسې نه يو ځلي بيا موږ د اروپايانو مستعمرې وګرځو.

د نوښت په توګه په ساينس او تخنيک کې ستر بدلون را روان دی زموږ له کلتوره بېخي بېل ټولنيز او اخلاقي ارزښتونه هم رامنځته شوي دي پر ضد يې په مذهبي ډلو کې زښت غبرګون شته زاړه پالي يې هم د خپل کلتور لپاره زيانمن بولي او مخالفت ورسره ښيي.

په داسې پړاو کې موږ په مسلمانو هيوادونو کې د نوښت پر ضد او د هغه په ملاتړ کې درې ډوله خلک وينو لکه بنسټپالان دويم منځلاري او درېيم د لوړېدیز پلويان. بنسټپالان وايي "د نوښت مخه دې ونيول شي او پر ځای دې يې سيمه ييز ارزښتونه راژوندي شي او د تېر مهال غوندې برم دې ترلاسه شي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځلاري وايي "نوي ارزښتونو ته دي اسلامي جامه واغوستل شي وروسته دي هغه خپل کړل شي" درېيمه ډله چې د لوېديز پلويان دي هغه وايي "اسلام دي له سياسته بېل شي ځکه چې د نوښت او پرمختګ په لاره کې خنډ دی تر دې وروسته دي د لوېديز ارزښتونه پلي شي او د ټولني سياسي او ټولنيز نظام دي پر هغو لارو روان شي".

په ډېرو مسلمانو هيوادونو کې د استعماري نظام تر ړنګېدو وروسته هڅه وشوه چې د لوېديزو او سيمه ييزو ادارو په يو ځای کولو سره دي يو نوی نظام رامنځته کړي په دې پړاو کې يو پرمختګ خوښوونکې نظريه وړاندې شوه په هغه کې هڅه وشوه چې يو لړ نظامونه لکه جمهوريت، ټولنپوهنه، ملتپالنه او پانګوالي د اسلام په چوکاټ کې تر اچولو وروسته د منلو وړ وګرځول شي مګر دغه ټوله اصلاحي ګامونه د پوځي، شاهي او ديکتاتوري حکومتونو له لوري واخيستل شول او غوښتل يې چې خپل حکومت ته دوام ورکړي چې په پايله کې يې هيڅ ګټه ونه کړه د خلکو ټولنيز او اقتصادي حيثيت ښه نه شو پای يې دا شو چې خلکو د داسې اصلاحاتو سره هيڅ لېوالتيا و نه ښودله په کلکه سره رد شول او خلکو له داسې کارونو څخه دا شعور تر لاسه کړ چې نوښت يوازې واکمنو ډلو ته ګټه رسوي ولسونو او وګړو ته هيڅ ګټه نه کوي د هغوی په زړونو کې د لوېديز او د نوښت پر ضد ولولې راوپارېدلې او د يا راڅرونډي کولو د غورځنګونو ملاتړي شول.

د نوښت پروسه موږ پر دوو برخو وېشو د ساينس او تخنيک پروسه او د سياسي ټولنيز او اقتصادي نظرياتو او خيالاتو پروسه په دې لړ کې مهمه او ځانګړې خبره دا ده چې د ساينس او تخنيک په هکله چې کوم لومړني خيالونه وو هغه بدل شول او د هغوی د نه منلو پر ځای يې منلو ته غاړه کښېښودله يو وخت داسې و، چې د هر نوي تخنيک او ايجاد سره مخالفت ښودل کېده او هغه يې د اسلام سره ضد باله د بېلګې په توګه کامره، برېښنا ټليفون، راډيو، ټلويزيون، ټايپ ماشين او يو لړ درمل مګر وروسته چې د پورتنيو شيزونو ګټمنوالي په ثبوت ورسېد او جوته شوه چې د ټولني په ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي نو يې ومنل همدا لامل دی په نن دور کې چې کوم نوي تخنيکونه رامنځته شوي دي لکه ويډيو، سي ډي، ډي وي ډي، موبايل د هغوی هيڅ مخالفت نه ليدل کېږي او نه يې د نه استعمال په هکله کومه مذهبي فتوا ليدل کېږي او ټولو ته د منلو وړ ښيزونه ګرځېدلي دي او تر کومه ځايه چې د ساينس او تخنيک د نوښت په پروسه اړه لري د مسلمانانو په ټولنه کې هغه منل شوې ده نن په سعودي عربستان کې زاړه پالي په هيواد کې نوی تخنيک د نوښت په نامه خپلوي همدغه کار د ايران شاه هم په خپل وخت کې کړی و، هغه هم د خپلې ټولنې د سياسي او ټولنيزو حالاتو د بدلولو لپاره غوښتل د ساينس او تخنيک له لارې نوښت راولي او موږ وليدل چې دواړې ټولنې د خرابو حالاتو سره مخامخ شوې په ايران کې د شاه حکومت پای ته ورسېد پر ځای يې بنسټپالان راغلل او سعودي عربستان د بدلون له پروسې څخه تېر نه شو او د يوې کنګل شوې ټولنې په توګه پاته شو د ساينس او تخنيک په دور کې هغه يوه داسې ټولنه ده چې هلته نه کوم کلتور شته او نه د ژوند رنګيني.

هغه مسلمانان چې د نوښت د پروسې نه منونکي دي د هغوی ستونزه دا ده چې که يې رد کړي بايد بل نظام وړاندې کړي هغوی د دې اسان هوارې راباسي چې سياسي ټولنيزي او اقتصادي ادارې د اسلام سره همرنګه کوي د مثال په توګه پارلمان ته د شورا، رايې ته د اجماع او ولسمشر ته د خليفه يا امير نوم ور کوي او اسلامي جامه ور اغوندي او کله د ځينو اصلاحاتو لپاره د اسلامي توری هم کاروي لکه اسلامي اقتصاد، اسلامي بانکي نظام، اسلامي روحيات او داسې نور... تر اوسه دوی يو داسې پر له پوري نظام نه دی وړاندې کړی چې د اوس دور د غوښتنو سره سمون وخوري.

که يوې خوا ته مسلمانه ټولنه د نوښت د خپلولو څخه سرغړونه کوي بلې خوا ته اروپايي پوهانو هم دې پروسې ته زيان رسولی دی "باسم طبي" په خپل کتاب د "نوي اسلام کړکيچ" کې چې په ۱۹۸۸م کې خپور شوی دی پر غربي پوهانو د نيوکې په ترڅ کې ليکي "دوی ټول نوي ارزښتونه او قدرونه اروپايي بللي دي خپله غېږ يې پر راګرځولې ده او کله چې نور هيوادونه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښتونه خپلوي اروپايان دي ته د خپل مدنيت بريا وايي کله چي دعوه وشي چي اروپايي او غربي تهذيب تر ټولو لوړ او عالي دی په غبرګون کي مسلمانان راپورته کيږي او وايي موږ ولي پردی کلتور او تهذيب پر ځان ومنو موږ په تېر مهال کي تر دې ښه تهذيب درلود" هر نوي ارزښت ته غربي جامه ور اغوستل د نورو تهذيبونو ارزښت ور کموي او د وياړ روحيه يې ور کمزوره کوي.

اوس پوښتنه دا ده چي په داسي اوضاع کي مسلمانان څه وکړي څنګه د نوي عصر غوښتنو ته ځواب و وايي څنګه له وروسته پاته والي څخه ووزي او څنګه د غربي پوهانو د اخطارونو ځواب و وايي "فواد عجمي" په خپل کتاب "د عربو خطرناکه وضعه"(۱) کي ليکي "د نړۍ قومونو خپل وروسته پاته والي ته په کتلو سره هڅه وکړه چي له لوېديز څخه زده کړه وکړي او د هغوی پر نمونه د پرمختګ هلي ځلي وکړي مګر چي ناهيلي شول بير ته خپلي وروسته پاته نړۍ ته راستانه شول په خپلو ارزښتونو او ادارو کي يې ځانونه خوندي کړل د هغو خلکو پر ضد يې ځانونه پياوړي کړل چي د دوی په هکله پرېکړي کوي او ټولنه د بې نظمۍ ښکار کړې ده.

مسلمان هيوادونه اوس په هغه پړاو کي شتون لري چي څنګه بايد له بې نظمۍ څخه ووزي په ځانګړې توګه په داسي وخت کي چي د اسلام څخه د سياسي وسلې کار اخيستل کيږي د مسلمانو هيوادونو مفکرينو او پوهانو لره مهمه ده چي هغه ارزښتونه له منځه يوسي چي ټولنه يې د بې نظمۍ ښکار کړې ده تر څو چي د بدلون پروسې ته هر کلی و نه ويل شي تر هغه وخته نه شو کولای چي د ساينس او تخنيک څخه اغېزمن شوي ټولنيز، اقتصادي او سياسي نظريات ومنو.

آيا مسلمانان منځلارۍ ته رابلل کېدلای شي د دې پوښتني په ترڅ کي بايد و ويل شي چي په اوس وخت کي نړۍ پر دوه ډوله هيوادونو وېشل شوې ده لکه صنعتي هيوادونه او غيرصنعتي هيوادونه په دواړه ډوله هيوادونو کي بېل کلتور تکامل کړی دی غربي هيوادونه د صنعتي کلتور نمايندګي کوي.

---

(۱) The Arab Predicament.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د همدې صنعتي کلتور په برکت یې په ټولنه کي سیاسي، ټولنیز او اقتصادي بدلونونه رامنځته شول مذهب له سیاسته بېل شو یوازي یې په شخصي ژوند اړه پیدا کړه په نتیجه کي یې د مذهب سیاسي استعمال لږ تر لږه شو د جمهوریت ریښې لا زیاتي ټینګي شوې البته د دې په پرتله په غیرصنعتي هیوادونو کي مذهب او سیاست سره تړلي دي پایله یې دا ده چي سیاسي اتوریټي مذهب ته اړتیا وېني تر څو د هغه وجود ته جواز ور وبخښي او دا هغه اتحاد دی چي په ټولنه کي د بدلون مخه نیسي او په لاره کي یې خنډونه ور اچوي.

مسلمان هیوادونه هم د غیرصنعتي کلتور سره اړه لري په ټولو مسلمانو هیوادونو کي حکومتونه د اسلام له لاري د خپل جواز دلایل وړاندي کوي او هره سیاسي ډله یا ګوند د مذهب په استعمالولو سره غواړي د خلکو ولولې راوپاروي او حکومت ونیسي په داسي هیوادونو کي نه لیدل کېږي چي یو چا دي مذهب له سیاسته بېل کړی وي او وروسته یې اصلاحات پلي کړي وي د ایران شاه له مذهب پرته د نوښت او سمون پروسه پیل کړه د هغه د صنعتي کولو او د نوښت پالیسي ناکامه شوه خلکو د نوي افکارو د منلو څخه سر غړونه وکړه مذهبي ډلو او علماوو یې د طرحي څخه ځکه مخالفت وښود چي د اسلام سره یې سر نه خوړه که د ایران شاه د سمون پالیسي او مذهب سره یو ځای کړي وای وروسته یې عملي کړي وای علماوو به په شدت سره د هغه مخالفت نه وای کړی لکه څنګه چي په سعودي عربستان کي شاهي کورنۍ کوي د سعودي شاه په ډېره چالاکي سره د خپل حکومت د پایښت لپاره د مذهب پوره استعمال کوي او په دې لړ کي یې په حکومت کي عالمان هم ګډ کړي دي هغوی نه شي کولای عام وګړي د شاه پر خلاف راوپاروي.

په زیاتره مسلمانو هیوادونو کي محدود جمهوري یا دیکتاتوري حکومتونه دي په داسي هیوادونو کي حکومتونه د خپل واک د ټینګښت لپاره د مذهبي ګوندونو غوښتني مني او هغوی ته په خپلو پالیسیو کي ځای ورکوي کله چي هلته سیاسي یا اقتصادي اصلاحات راوستل کېږي لومړی یې د اسلامي کولو پر پروسه تېروي وروسته یې عملي کوي د بېلګي په توګه په مسلمانو هیوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت د جمهوریت نظام بدل شي چې و وایي حقیقي حکومت او واک واختیار د واکمنو په لاس کې نه دی بلکې د لوی څښتن په لاس کې دی واکمنو ته بې حسابه واک او اختیار ورکړل شي بیا چې څنګه دوی وغواړي په هغه اندازه د خلکو حقوق تر پښو لاندې کوي او تېری ورباندې کوي ولې چې هغوی پخپله څه نه کوي او د بل چا پروسه عملي کوي.

دا خبره جوته شوې ده چې مسلمان هیوادونه به تر هغو پورې پرمختګ و نه کړای شي تر څو چې د غیر صنعتي ټولني څخه صنعتي ټولني ته ور داخل نه شي او تر څو چې ټولنه غیر صنعتي وي اسلام ته به د صنعتي هیوادونو له لورې جدي ګواښ متوجه وي مسلمانو هیوادونو ته دوې لارې ور پاته دي چې یا صنعتي پروسه پیل کړي تر څو د ټولني سیاسي، ټولنیز او اقتصادي وضع بدله کړي یا دا چې پر هغه پخواني حال پاته شي او هیڅ پرمختګ و نه کړي".

د سوریې محقق او فیلسوف باسم طبي چې اوس په جرمني کې ژوند کوي د "نوي اسلام کړکیچ" په نامه یې یو کتاب په ۱۹۸۸م کې خپور شو هغه په دلیل سره و ویل:

"ځینګه اړتیا ایدل کېږي چې مسلمانان دي منځلارې ته راوبلل شي".

د هغه د وینا له مخې نوې زمانه د صنعتي دور سره اړه لري.

اروپا ځکه پرمختګ وکړ چې هغه صنعتي انقلاب ومانه تر دې دمخه د اروپایانو پر ژوند مسیحیت ډېر اغېزمن و، کله چې اروپا منځلاري خپله کړه او مسیحیت د سیاست څخه تر بېلېدو وروسته هم وکولای شوای چې ژوند وکړي ځکه باسم طبي دلیل وړاندې کوي چې د صنعتي انقلاب او د ساینس او تخنیک د انکشافاتو په پایله کې عقلیت لاسبری شو مګر عیسویت مړ نه شو البته منځلاری شو او د ټولني د یوه مهم جز په توګه پاته شو.

باسم طبي دا خبره کوي چې د مسلمانو هیوادونو لپاره اړینه نه ده چې له هماغه پروسې څخه تېر شي له کومې څخه چې غربیان تېر شوي دي هغه زیاتوي چې د ساینس او تخنیک پر بنسټ چې کوم کلتور وده کوي هغه یو زراعتي (کرهنیز) او پانګوال نظام نه شي پیدا کولای هغه استدلال کوي چې د مسلمانانو لپاره مهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چي هغوی د اسلام یو داسي نظام کشف کړي چي په هغه بشپړ نظام کي مذهب د یوه جز حیثیت ولري او د اخلاقو په دایره کي داخل وي تر څو نوري ځانګي ځانواکي شي او د مسلمانو هیوادونو پر مختګ شونی شي.

په ۱۷۹۸م کي چي ناپلیون پر مصر یرغل وکړ د عربو او اروپایانو تر منځ لومړی ځل تړون پیدا شو که څه هم دغه تړون د لږ وخت لپاره و، مګر د ناپلیون په لاس د مصر نیوني عربو پوهانو ته دا نوبت ور په برخه کړ چي هغوی د اروپایانو بریالیتوب او خپلي ماتي ته په غور سره وګوري او څېړنه یې وکړي وروسته چي اروپایي هیوادونو عربان خپلي مستعمرې وګرځولې عربو ته یو ځلي بیا دا نوبت ور په برخه شو چي اروپایي تهذیب وڅېړي او ځان په پوه کړي عرب سیاستوال او مفکرین پر دې مسئله تر غور او فکر وروسته دې نتیجې ته ورسېدل چي تر هغه وخته دوی خپل وروسته پاته والی نه شي له منځه وړلای تر څو چي یې غربي ارزښتونه او نظامونه خپل کړي نه وي.

یوه مراکشی فیلسوف عبدالله لاذري د نوي عربي ټولني د تکامل څلور دورې وټاکلې لومړی دوره له ۱۸۵۰م څخه تر ۱۹۴۱م پوري وه په دې دور کي په ډېر جوش سره د غربي تهذیب د خپلولو کوښښونه وشول په دویم دور کي عربو د عثماني خلافت څخه سرغړاوی وکړ عربي ملت پالني ته وده ورکړل شوه او د جمهوري ارزښتونو د ودي کوښښونه هم وشول په ۱۹۴۸م کي په درېیم دور کي عربو په خپل منځ کي د اتحاد او یووالي لپاره هلي ځلي وکړې تر څو د هغه اوضاع مقابله وکړي په کومه کي چي اسرائیل جوړ شوي وو، او د استعماري نظام تر رنګېدو وروسته چي کوم هیوادونه خپلواک شوي وو او جغرافیایي حدودو ته یې تغیر ورکړی و، د څلورم دور مهمه پېښه د ۱۹۶۷م جګړه ده چي عربو بایلوله دې جګړې د ټولي نړۍ عرب له ناهیلۍ سره مخ کړل په عربو کي د لاچارۍ ولولې راوپارېدلې په څنګ کي یې د عربي ټولني د کمزورو اړخونو انتقادي څېړنه پیل شوه په دې لړ کي فواد عجمي یو کتاب د "د عربو خطرناکه وضعه" په نامه له کمبریج څخه په کال ۱۹۹۲م کي خپور کړ په دې کتاب کي هغه د ۱۹۶۷م عرب اسرائیل جګړه موضوع ګرځولې ده او د هغه پر نتیجو یې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث کړی دی دې جنګ د عربي نړۍ ملتپالني منځلارۍ او روښانفکرۍ ته زښت زيان ور واړاوه تر دې ناکامۍ وروسته منځلارو خپله تګلاره واړوله او بنسټپالني ته يې مخه کړه تر څو خپل واک او واکمني خوندي کړي په دې لړ کي تر ټولو ښه بېلګه دا ده چي تر جګړې دمخه يې په مصري عسکرو د فلمونو ښځينه ستورو، موسيقارانو او نڅاګرو عکسونه وېشلي وو مګر چي جګړه په ماتي سره پای ته ورسېده ژر يې د حکومت له لوري د جهاد او د رسول الله ﷺ د غزاګانو په هکله معلوماتي کتابچې و وېشلې دې جګړې د عربو ذهنونه يو دم ور واړول د هغوی له ټولني څخه يې انقلابي غورځنګونه ختم کړل پر ځای يې مذهبي خيالاتو ته وده ورکړه اغېزه يې دا شوه چي عربو پر ځای د دې چي نور لاملونه د خپلي ماتي سوب وګرځوي هغوی پر يو او بل تورونه ولګول.

فواد عجمي زياتوي چي تر ماتي وروسته عبدالحکيم عامر ځان و واژه که څه هم د ډېرو خلکو په فکر دا يوه عامه ځان وژنه وه مګر يوه مصري اديب دې ته په بله نظريه سره وکتل او ويې ليکل "ما چي دغه پېښه وځېړله د غم او درد ښکارندويي مي پکښي وليدله دا يې پيل دی آخر به زاړه ارزښتونه له منځه ځي ځای به يې نوي ارزښتونه نيسي د عبدالحکيم عامر له ځان وژني څخه ښکاري چي د ځاني ذمه واری پوښتني هم په ټولنه کي اهميت ترلاسه کړی و. دغه راز پېښي هم په مسلمانه ټولنه کي يو نوښت دی".

تر ماتي خوړلو وروسته د انقلابي او پرمختګ خوښوونکو پوهانو خيالاتو او نظرياتو و نه کړای شوای چي په عربي ټولنه کي کوم بدلون راولي خلک چي له سياسي مشرانو څخه ناهيلي شول مذهب ته يې مخه کړه تر څو د مذهب په مرسته له ناهيلۍ او وروسته پاته والي څخه ووزي او په نړۍ کي د نورو ولسونو په شان د پت او عزت څښتنان شي.

ټېل لرونکو عربي هيوادونو له دې اوضاع څخه پوره ګټه پورته کړه په هره سيمه کي يې د مذهبي غورځنګونو سره مرسته وکړه او د هغوی له لاري يې ټول عرب هيوادونه د خپلو پاليسيو منلو ته اړ ايستل.

دلته تر ناهيلۍ وروسته انقلابي عربي مفکرينو او مشرانو د فلسطين

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلواکۍ د غورځنګ ملاتړ وکړ تر څو د عربو بې حسي ختمه کړي مګر هغه وخت د دوی ټولي هیلي په خاورو ولړل شوې کله چي په ۱۹۷۰م کي اردن فلسطینیان یو مخیزه و وژل او هغوی یې کمزوري کړل د فلسطینیانو وژنه د ټولو عربو هیوادونو په خوښه تر سره شوه عربي دولتونو غوښتل چي د فلسطینیانو د خپلواکۍ غورځنګ کمزوری شي او د دوی په ولکه کي په راتلو سره د دوی شرایطو ته غاړه کښېږدي تر څو عرب دولتونه د اسرائیلو سره د فلسطینیانو د قسمت او راتلونکي په اړه خبري اتري وکړي او پخپلو هیوادونو کي انقلابي غورځنګونه وکوټي او له پښو یې واچوي.

د لبنان کورنۍ جګړو فلسطینیان نور هم له پښو واچول تر دې وروسته عربو انقلابیانو ته په عربي ټولنه کي د بدلون راوستلو هیڅ لاره پاته نه شوه د ۱۹۷۳م تر جګړې وروسته د مصر د ولسشمر انورالسادات دې پرېکړې چي اسرائیل باید ومنو نوره هم ناهیلي پیدا کړه وروسته چي کومي پېښي وشوې د هغوی په وړاندي یو په بل پسې انقلابي غورځنګونه مړه شول د "کمپ داوید" تر تړون وروسته او کله چي یې د لبنان څخه فلسطینیان وشړل سعودي عربستان او د خلیج عربي دولتونو د بنسټپالو غورځنګونو ملاتړ پیل کړ په مسلمانو هیوادونو کي یې د مذهبي ګوندونو سره مالي مرستي وکړې او هغوی یې پر پښو ودرول عربي ملتپالني چي کومه خلا رامنځته کړې وه، هغه د بنسټپالني ولولو ډکه کړه خلک په دې هیله ورسره ودرېدل چي ګوندي د ذلت او وروسته پاته والي څخه د را ایستلو کومي ژمني چي ورسره شوي دي هغه پلي شي مګر په دې پړاو کي دا پوښتنه سر پورته کوي چي د بنسټپالني توپان به عربان تر کومه ځایه یوسي آیا دوی به د ذلت او رسوایۍ له کندي څخه راووزي آیا د دوی مرامونه د زمانې د غوښتنو سره سم دي عربي مفکرین د دې خبري په څېړنه کي باور لري چي د بنسټپالني پایله به ډېر دهشتناکي پایلي راوړي مګر د دوی ګوتنیونو هیڅ ګټه نه ده کړې ځکه چي خلکو ته بله لاره پاته نه ده بې له همدغه یوې لاري.

فواد عجمي زیاتوي چي عرب په تاریخي کړکېچ کي راګیر شوي دي

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه ځواکونو له لاسه په ناوړین اخته دي چې دوی يې محاصره کړي دي عربو کوښښ وکړ چې د هغو سره د مقابلې لپاره له هغو وسلو او نخښو نښانو څخه کار واخلي چې دوی ورسره بلد دي او په کارولو يې پوهېږي يعني د هغوی مذهب مګر دا پوښتنه لا اوس پاته ده چې آيا عرب له مذهبه د يوې وسلې کار اخيستلای شي آيا دوی په دې کار کې بريالیتوب ته رسېدای شي او د زمانې د اخطارونو مقابله کولای شي؟

هسې خو د بنسټپالنې غورځنګونه په ټولو مسلمانو هیوادونو کې شتون لري مګر په اوس وخت کې مصر د دې ټولو غورځنګونو په پلاز مېنه الیش شوی دی له کومه را هیسې چې د اسلامي غورځنګونو کارکوونکو پر بهرنيو سیلانیانو بريدونه پیل کړي دي له هغه وخته د ټولې نړۍ پام دوی ته ور اوښتی دی که يوې خوا ته د مصر حکومت د هغوی په وړاندي لاچاره شوی دی او د هغوی د مخنیوي په توګه هيڅ ګام نه شي اوچتولای بلې خوا ته حکومت د خپلې لاچارۍ د ښکارندويۍ په توګه د اسلامي غورځنګ د کارکوونکو په غړغړه کولو لاس پورې کړی دی چې دغه کار پر ځای د دې چې اسلامي غورځنګونه له پښو واچوي نور يې پياوړي کوي او نوی ژوند ور بخښي.

په مصر کې تر ټولو دمخه اخوان المسلمون په نامه له تشدده ډک بنسټپال ګوند راپورته شو او د وخت په تېرېدو سره د اخوان المسلمون پالیسی واوښتله هغوی د وهنې او ټکوني پالیسي پرېښوده او د حکومت سره يې د مفاهمې لاره خپله کړه مګر دې مفاهمې کوم داسې بدلون را نه ووست چې بنسټپال ګوندونه دې ډاډه کړای شي په هیواد کې د کړکېچني اوضاع له کبله د پوهنتونو ځوانان ډېر ناهيلي شول او وپوهېدل چې حکومت په هر لحاظ سره ناکامه شوی دی هغه ځوانان چې فکر يې کاوه يوازې د شريعت نفاذ د مصر راتلونکی ځلولای او روښانه کولای شي هغوی له اخوان المسلمون څخه بېل شول خپلې کوچنۍ ډلې يې جوړې کړې تر څو په ټولنه کې بدلون راولي او د ټولنيزو او اقتصادي لانجو د هوارې لپاره د اسلام بنسټيزې ښوونې نافذې کړي په داسې ګوندونو يا تنظيمونو کې "د خپلواکۍ اسلامي ګوند"

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تکفیرالهجره"، "الجهاد" او "اسلامي غورځنګ" راځي چې کار کوونکي یې له جوشه ډک هغه ځوانان دي چې د خپلو مشرانو له سیاسته ناهیلي شوي دي د هغوی د اصلاحاتو له پالیسی څخه هیڅ ګټه نه ویني او ډېر جدي غوښتنه لري چې هر څه دي په ډېر لږ وخت کې بدل شي ځکه دوی په وهنه او ټکونه باور لري او هر څنګه چې وي او په هره بیه چې وي چوکۍ ته رسېدل غواړي.

د داسې ځوانانو د نظریاتو له رویه مصر اوس هم د جاهلیت په زمانه کې شتون لري که څه هم ډېر خلک مسلمان دی مګر د اسلام په ښوونو ډېر لږ خلک خبر دي "تکفیرالهجره" نامي ګوند باور لري چې د کفر د مرکز (مصر) څخه دي هجرت وشي یوه نېکه ټولنه دي جوړه شي وروسته دي تمامه ټولنه په دې نېکه ټولنه ګډه شي د دوی په ذهن کې د اسلام د پیغمبر محمد[4] نمونه ده چا چې له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ هلته یې یوه نېکه ټولنه جوړه کړه او وروسته مکې ته راستون شو.

دغه مذهبي ګوندونه په ښوونیزو ادارو کې په کار بوخت دي چیرې چې دوی کوښښ کوي چې نور زده کوونکي خپل ګوند ته ور وبولي د دوی له نظریاتو او ښوونو څخه خلک نه دي اغېزمن شوي تر اوسه دوی مذهب ته په روایتي نظریه سره ګوري او په مذهب کې دننه د هیڅ ډول بدلون غوښتونکي نه دي.

د بېري رابین (Berry Robin) کتاب "د مصر په سیاست کې اسلامي بنسټپالي" په ۱۹۹۰م کې خپور شو هغه په مصر کې د بنسټپالنې د یو لړ دورو څېړنه کړې ده او دا یې جوته کړې ده چې د مصر او د نورو مسلمانو هېوادونو په غورځنګونو کې څه توپیر دی د هغه د څېړنې له رویه د مصر حکومت پر روایتي ملایانو بشپړ کنترول لري له هغوی څخه د خپلو سیاسي مرامونو لپاره کار اخلي "جامعة الازهر" د اسلامي نړۍ تر ټولو لرغونی پوهنتون دی هغه د روایتي ملایانو تربیه کوونکی او روزونکی دی الازهر پوهنتون په بشپړه توګه د حکومت په پانګه چلېږي د الازهر شیخ یعني د پوهنتون مشر د حکومت له لوري ټاکل کېږي او په وار وار حکومت له هغه څخه غوښتنه کوي چې په ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي يې فتوا خپره کړي کله چي انور سادات د اسرائيلو سره د امن تړون لاسليک کړ نو يې هم د الازهر د شيخ څخه د تړون د جواز په هکله فتوا وغوښتله نتيجه يې دا شوه چي د عامو خلکو او د اسلامي غورځنګونو د ځوانانو په زړو کي د الازهر د شيخ او د الازهر د پوهنتون هيڅ قدر و عزت پاته نه شو.

د الازهر پرته د مصر حکومت د اوقافو د رياست له لاري نژدې لس زره مسجدونه په خپل کنترول کي لري امامان او مبلغين يې حکومت ټاکي هغوی ته د مالي ګټو د رسولو په نيت هر ډول اسانتياوي برابروي د وعظ او نصيحت لپاره د ټلوېزيون او راډيو سهولت ورکوي د نامتو مدرسو سره مرسته کوي او د کتابونو په خپرولو کي هم پيسې ورکوي.

دغه راز حکومت په يو لړ لارو چارو سره د نامتو ملايانو سره مالي مرستي کوي ملايان د حکومت په ملاتړ کي فتواګاني صادروي د اسلامي غورځنګونو مخالفت کوي، د رابين د څېړني له مخي په مصر کي څلور ډوله ملايان شتون لري.

۱- روايتي ملايان په دې باوري دي چي په اوسني دوديز نظام کي د دې خبري ګنجايش شته چي د تبليغ او نصيحت له لاري دي بدلون راشي.

۲- بنسټپال ځوانان د سخت دريزو اسلامي ګوندونو سره اړه لري په ښوونيزو ادارو کي په کار بوخت دي او د سرکاري ملايانو مخالفين دي.

۳- د اخوان المسلمون ملايان چي په سياست کي برخه اخلي او د قانون جوړوني له لاري غواړي په هيواد کي شريعت نافذ کړي.

۴- انقلابي غورځنګونه چي په بشپړه توګه د ټول نظام مخالفت کوي او يوازي د تشدد له لاري د اسلامي دولت جوړول غواړي.

د مصر حکومت د بنسټپالني د مخنيوي لپاره يو لړ ګامونه اخلي د اخوان المسلمون ګوند يې ملګرى دى پر تشدد باور لرونکي مخالفين غړه غړه کوي اخوان المسلمون اوس د مصر د روايتي سياست برخه ګرځېدلى دى انور سادات او حُسني مبارک دواړو پر دې پاليسۍ عمل وکړ ملايان يې پخپله کابينه کي ګډ کړه او هغوی ته يې مالي ګټه ورسوله تر څو هغوی د پيسو په نشه معتادشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وروسته د حکومت مخالفت ونه کړي او د حکومت په ګټه کار وکړي.

د مصر حکومت باور لري چي کوچني انقلابي ګوندونه ختمول آسانه کار دی ځکه چي د ولس ملاتړ نه لري او نه يې ډېر زيات نوم ګټلی دی مګر حکومت نه شي کولای په آساني سره د بنسټپالني ولولې له منځه يوسي ولي چي کوم لاملونه چي د بنسټپالانو ولولو ته وده ورکوي او دوی وهني او ټکوني ته لمسوي هغه لا شتون لري او له منځه وړل شوي نه دي.

مګر دا هم يو حقيقت دی چي د بنسټپالني غورځنګونو د مصر د سياست په بدلولو کي مهم رول لوبولی دی د رابين په وينا د مصر منځلاري او چپلاسي ګوندونه د بنسټپالانو و اوج ته رسېدني څخه ډېر وېرېدلي دي تر دې بريده چي د بنسټپالانو ډېرو نظرياتو ته يې په خپله کړنلاره کي ځای ورکړی دی دې کار بنسټپالني ته نوره وده ورکړه.

دا يوازي د مصر تراژيدي نه ده ټول مسلمان هيوادونه په همداسي برخليک اخته دي هلته د ملايانو د فشارونو له کبله سياسي ګوندونه پخپله کړنلاره کي مذهبي ټکي ور ننباسي تر څو د خلکو خواخوږي تر لاسه کړي او سياسي واک ته ورسېږي ځکه پرمختګ خوښوونکي ګوندونه هم د واک د ترلاسه کولو له لوري سره مخامخ شي او داسي ګامونه پورته کړي چي د بنسټپالني د ودي سوب ګرځي پر ځای د دې چي ولس وروزل شي هغوی ته سياسي پوهه ورکړل شي دوی واک ته د رسېدو لنډه لار خپله کړي تر څو ژر تر ژره چوکی ونيسي.

بنسټپالنه له وهني او ټکوني څخه عبارت نظريه ده او په يوه مذهب اړه لرونکې نظريه نه ده بلکي د نړی په هر مذهب او عقيده کي موجوده وي او په يوه داسي ټولنه کي د بنسټپالني ولولې هيڅ وده نه کوي چيري چي حکومت خپلواکي غرغره کړې وي او هلته پر سياسي ګوندونو او سياسي حرکاتو بنديزونه وي په ځانګړې توګه هغه ټولني چيري چي جمهوريت وي او د وينا او عمل آزادي وي هلته بنسټپالي ژر وده کوي مګر په هغه هيوادونو کي چيري چي پاچاهان يا ديکتاتوران په واک کي وي هلته د بنسټپالني غورځنګونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سختۍ سره کوټل کېږي او له منځه وړل کېږي د سعودي واکمن دعوا لري چي د سعودي عربستان دولت اسلامي دی کله چي يوې اسلامي ډلي د کعبې حرم خونه اشغال او غوښتنه يې وکړه چي په هيواد کي دي سوچه اسلامي نظام پلی شي حکومت د هغه پر ضد زښت ګامونه پورته کړل اسلام پالي يې په شدت سره له منځه يووړل همدغسي کار په سوريه کي وشو چيري چي حافظ الاسد شل زره انسانان د الحمص په ښار کي و وژل په عراق ليبيا اردن او مراکش غوندي هيوادونو کي دونه سخت بنديزونه دي چي هلته د حکومت پر خلاف معمولي مخالفت هم نه زغمل کېږي.

د بنسټپالني غورځنګونه يوازي په هغو هيوادونو کي راپورته کېدلای شي چيري چي د مخالفت د زغملو توان موجود وي او د هغه هيواد په سياسي نظام کي د دې خبري اجازه وي چي دوی سياسي ګوند جوړ کړي د چاپي پاڼو په ښه خپله لايحه او کړنلاره خلکو ته وړاندي کړي او د خپلو غوښتنو لپاره جمهوري ادارو ته ور ننوزي نتيجه يې دا ده چي په داسي هيوادونو کي بنسټپالو ګوندونو په ډېره زيړه لهجه په سياست کي خپل زور ښکاره کړ هغوی تل د بې سوادو، بې شعورو او جاهلو خلکو ولولې راپاروي د هغوی سره د دروغو وعدې کوي تر څو هغوی د ځان ملګري کړي او موږ وينو چي منځلاري ګوندونه چي تر اوسه په سياست کي لاسبري وو هغوی ورو، ورو پر شا کېږي د دې ښه بېلګه په مصر کي د اخوان المسلمون ګوند دی هغوی د دې خبري اندازه ولګوله چي نور يې د تشدد د پاليسۍ په لرلو سره په خلکو کي ګرانښت له لاسه ورکړی دوی خپل تګلاره واړوله له تشدده يې لاس واخيست د يوه جمهوري او اسلامي ګوند ښه يې خپله کړه او و يې غوښتل چي په خلکو کي خپل پخوانی شهرت تازه کړي په دې نيت هغوی د مصر تاريخ په نوې نظريه سره بيان کړ او دعوا يې وکړه چي اخوان المسلمون په مصر کي د پاچاهۍ پر ضد اوږده مبارزه کړې ده د پاچا فاروق پر خلاف يې غورځنګ پر مخ بوت او د هغه له ظلمه يې مصر وژغوره.

اخوان المسلمون د ۱۹۵۲م کال په انقلاب کي هم روښانه رول وښود چي په نتيجه کي يې جمال عبدالناصر واک ته ورسېد. له تشدده د لاس اخيستو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کبله اخوان المسلمون ملي سیاست ته ور داخل شو او د مصر حکومت ته د منلو وړ وګرځېد تر څو هغه د تشدد پر ځای د اصلاحاتو له لاري په مصر کي اسلامي نظام پر پښو ودروي.

تلسماني چي په ۱۹۸۶م کي مړ دی هغه کس و، چي دغه پالیسي یې پلې کړه هغه اخوان المسلمون دې ته چمتو کړل چي د وهني او ټکوني له تګلاري څخه لاس په سر شي او د نورو سیاسي ګوندونو سره سیاسي تړونونه لاسلیک کړي اخوان المسلمون په خاصه توګه د "وفد" ګوند سره اړیکي ټینګي کړې ولي چي وفد یو منځلاری ګوند و، په ولس او پوهانو خلکو کي یې ډېر ملاتړي درلودل د وفد ګوند سره د اخوان المسلمون ګوند سیاسي اړیکو هغه ته محبوبیت ور وباخښه او سیاسي بنسټونه یې ور ټینګ کړل پایله یې دا شوه چي سیاسي ګوندونو د ولسو د خواخوږۍ د ترلاسه کولو لپاره پخپله کړنلاره کي د مذهب ځیني اصول ور ننه ایستل او د اسلامي نظام د راوستلو لپاره هر ګوند هلي ځلي پیل کړې.

په دې هکله یو تبصره کوونکي ولیکل چي ټولو سیاسي ګوندونو بې له کومه تخصیصه په خپله کړنلاره کي د مذهب نافذولو ته اولیت ورکړی دی که څه هم تر دې دمخه ځینو ګوندونو د مذهب د نفاذ ناره د زاړه پالو ناره بلله او د مذهب سیاسي کارونه یې ښه نه بلله.

باید و وایو چي د اخوان المسلمون په څېر ګوندونه مذهب د سیاسي آلې او وسلې په توګه کاروي سیاست ته مذهبي بڼه ورکوي د جمهوري ادارو او ارزښتونو څخه ګټه پورته کوي د یو لړ ګوندونو سره اتحاد کوي او خلک دې ته اړباسي چي د مذهب په هکله د دوی نظریه ومني او د هغه د نفاذ لپاره لاره هواره کړي په دې لړ کي د منځلارۍ دعوه لرونکي ګوندونه هم د اسلام د نامه څخه ناوړه ګټه پورته کوي خلکو ته ژمني ورکوي چي په حکومت کي تر راتلو وروسته به اسلام راولي او د خلکو هر راز لانجې او کشالې به هواروي.

که څه هم بنسټپال ګوندونه د جمهوري ادارو او ارزښتونو څخه کار اخلي مګر هغوی په جمهوریت باور نه لري د دې ښه مثال موږ په الجزایر کي ولید

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيري چي "د اسلامي نجات ګوند" په انتخاباتو کي د رايو تر ګټلو وروسته اعلان وکړ چي د واک تر ټينګولو وروسته به هيڅکله هم انتخابات و نه کړي او نه به په هيواد کي جمهوري نظام روغ پرېږدي، له دې څخه جوته شوه چي بنسټپال ګوندونه په جمهوريت تر هغه وخته باور لري تر څو چي واک ته رسېږي او په جمهوري نظام کي خپلو نظرياتو ته وده ورکړي مګر چي دوی واک ته ورسېږي ژر جمهوري اداره ړنګوي ولي چي د جمهوريت په شتون کي هغوی نه شي کولای خپل زيږه او توند نظريات په خلکو ومني.

اوس پوښتنه دا ده چي آيا په جمهوري نظامونو کي بايد داسي خلکو او ګوندونو ته د کار کولو اجازه وي که نه وي چي غير جمهوري ذهن او د استبداد فکرونه لري او کړنلاره يې دا وي چي تر کاميابۍ وروسته به جمهوري نظام ړنګوي او پر ځای به يې يوه استبدادي نظريه پر پښو دروي.

**مأخذ:**

تاريخ اور دانشور
ليکوال ډاکټر مبارک علي
چاپ ۲۰۰۴م لاهور
فکشن هاوس، لاهور
(اسلام اور جديديت)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوسنی کړکېچ او مسلمان هیوادونه

نړۍ تل د کړکېچونو ښکار پاته شوې ده که یوې خوا ته ولسونه سوکالي او آرامښت غواړي بلي خوا ته واکمني ډلي او بدمخي دیکتاتوران د وینو په بهولو سره د خپلو ناولو موخو په بشپړولو بوخت دي د ولسونو او د واکمنو د ګټو تر منځ تل ټکرونه رامنځته شوي دي مګر واکمنو له چالبازیو او د حکومت د اداري د هر راز وسلو او وسایلو څخه په پراخ مټ کار اخیستی دی او د ولسونو ږغ یې په ظلم او جبر سره ارام کړی دی.

موږ چي د مسلمانانو تاریخ ګورو د واکوالو او ولسونو تر منځ ټکرونه وینو د مسلمانو هیوادونو لویه بدبختي دغه ده چي هلته داسي خلک په واک کي دي چي هر تېری ورته روا دی او په هر جبر یې د مشروعیت جامه اغوستې ده ګله چي د حکومت اداره د یوه شخص په لاس کي یرغمل شي هلته ټول ځواک او واک د یوه کس لاس ته راشي حکومتي اداره د یوه فرد مینځه شي د ناسمو پرېکړو واردېدنه عامه خبره شي د مشورې او مصلحت ځای امر او قومانده ونیسي مخالفت د دښمنۍ بڼه خپله کړي د یوه کس د جرم سزا بل ته ورکول کېږي د ځناوارکۍ پر ځای وهنه او ټکونه پیل شي په داسي اوضاع کي د دولت د اداري رول بل شي هغه اداره چي موخه یې د ولسونو په ګټه کار کول وي هغه خپل رول تر پښو لاندي کړي او د پولیسو په اداره بدله شي د واکمنو په چوپړ او د هغو د ګټو په بشپړ تیا بوخته شي.

په اوس پېر کي په ټولو مسلمانو هیوادونو کي یو هم داسي نه دی چي هلته جمهوریت وي ځناواکي وي د وګړو د رایو درناوی وي په داسي ناوړه شرایطو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي لازمه ده چي واکمن او ولسونه سره ليري وي واکمن له خلکو څخه او خلک له واکمنو څخه په بېره کي وي او د اوس دور مسلمان واک لرونکي اړتيا محسوسوي چي د خپل واک د پايښت لپاره هر راز روا او ناروا حيلې ترسره کړي د وهني او ټکوني پاليسي غوره کړي پوځ، پوليس او د تفتيش پټې اداري د خلکو او وګړو خوځښتونه څاري د مخالفت کوونکو ږغ ارامول د بند ازارونه ورکول امر نه منونکي ياغيان له هيواده شړل، شکنجه کول او وژل هغه ظلمونه دي چي ولسونه يې له پېړيو پېړيو راهيسي زغمي بلي خوا ته له ولس څخه وېرېدلي او ترهېدلي واکمنان غواړي چي د ځان د پايښت او ساتني لپاره له لوېديز او امريکا څخه هر راز اخلاقي او پوځي مرستي تر لاسه کړي دوی په خپلو هيوادو کي د لوېديزوالو د پوځي شتون څخه هم سر نه غړوي ولي چي دوی پوهېږي چي يوازي او يوازي لوېديزوال چمتو دي د دوی ساتنه وکړي واکمن پوهېږي چي پخپل ولس کي يې له پخوا څخه محبوبيت له لاسه ورکړی دی ځکه دوی اړ دي چي د بهرنيانو مرستي ته لاس ور وغزوي او پر هغوی تکيه وکړي.

که يوې خوا ته واکمنو په ولس کي محبوبيت بايللی دی بلي خوا ته غواړي چي د ولس پام له ځانه واړوي دوی د رسنيو څخه کار اخلي او په ځانګړې توګه حکومتي رسنۍ وګړو ته د هيوادپالني او ملتپالني نصيحت کوي او ولولې يې راپاروي له دغو راپارونو څخه هم موخه د خپل واک پايښت او ټينګښت دی او له رښتونو لانجو او کشالو څخه د وګړو پام اړول دي په وروسته پاته مسلمانو هيوادو کي چي واکمن د وګړو په جذباتو د لوبېدلو له کبله د اسلامي قوانينو د خپراوي اعلان کوي د اسلامي قوانينو څخه يې مرام يوازي اسلامي سزاګاني وي د دوی په نزد د اسلام قانون يوازي تر سزاګانو پوري محدود دی نتيجه يې موږ وينو چي له دغه ډول سزاګانو څخه يوازي بېوزله وګړي اغېزمن شوي دي او د ځواک څښتنان خوندي پاته شوي دي.

په کوم هيواد کي چي يوازينۍ موخه دا وي چي څنګه بايد د واکمنو له ساتنه وشي هلته خلک په دې فکر کي نه وي چي ښوونه او روزنه کومي خواته

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانه ده د وګړو روغتيا او روزګار پر څه حال دی نتيجه يې دا ده چې وګړي له معياري ښوونې او روزنې څخه وژغورل شي نه يوازې نالوستي شي بلکې په بدني او روحي لحاظ سره ناروغان شي پای دا چې يوه بې هويته او بې سرنوشته ټولنه رامنځته شي چې وګړي يې د هيواد د پرمختګ او ټولنې ته د رشد ورکولو پر ځای خپلې پټې وړتياوې له ځانه سره ګور ته يوسي.

جوته شوه چې په يوه داسې ټولنه کې چې هلته د واکمنو خيانت، بې غوري، تېری او وهنه ټکونه دود وي يو لوړ او روښانه کلتور او مدنيت نه راټوکېږي او نه په داسې ټولنه کې هنر پرمختګ کوي البته مړژوانده او له روحه تشه ټولنه پر مځکه بوج او بار شي نو چې په داسې اوضاع کې ژوند کوو هرومرو غور کوو چې څه بايد وکړو کومه پاليسي بايد خپله کړو کومه تګلاره بايد پلې کړو تر څو موږ له کړکېچونو او بحرانونو څخه ووزو په اوس دور کې چې د لانجې کوم هواری رامخته شوی دی هغه ترهګري ده کله چې ټولې لارې وتړل شي سوچ او فکر وځنډول شي او دومره وړتيا پاته نه شي چې د ستونزې بل هواری وسنجوي بيا تروزم او ترهګری ته لاس اچول کېږي يعنې ترهګري د يوې مجبوري او لاسته‌ړلې ټولنې آخرنی فعاليت وي.

مګر موږ وينو چې ترهګری کومه ګټه نه ده کړې او نه يې کشالې هوارې کړې دي ولې چې مخالف ځواکونه له ترهګری څخه نه دي ډاريدلې هغوی د پرمختللې تخنيک او پياوړي پروپاګند وسيلې په لاس کې لري او د هغو له لارې يې د ترهګری اغېزې کمې کړې دي هغه ټولنه چې په ترهګری او وېرولو کې د لانجو هواری وينې هغه دي ساينس او تخنيک ته مخه کړي د معلوماتو او تخنيک نظام دې پر ښو ودروي تر څو چې د معلوماتو نظام نه وي پرمختللې وسايل نه وي د جذباتو ښکارندويي د درد او خښم په بڼه کېږي کله چې د دې وړتيا له لاسه ورکړل شي چې مخالفين دې د دلايلو له لارې قايل کړل شي بيا تشو نارو، کج بحثی آخر پای پوچ ويلو ته ځای ور پاتېږي مګر د يو چا د قايلولو لپاره پاخه ثبوتونه رښتوني او سوچه دلايل په کار وي نيمګړي معلومات او بې ځايه جذبات په درد نه خوري او دا حقيقت بايد

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوک په لوی زړه سره ومني چې سيالي په علم او پوهه سره ده څوک چې د کمال هر څومره لوړې درجې ته رسېدلی وي هغومره به د سيالی په ډگر کې تر ټولو دمخه وي.

د فکر خبره ده چې څه وجه ده چې اروپايان د علم او کمال په ډگر کې سيال نه لري ولي د ټولي نړۍ عبقريان، نابغه، پوهان، عالمان ساينسپوهان هنرمندان او د کمال څښتنان اروپا او امريکا ته مخه کوي په خپل ورتګ او هلته تلپاته مېشتېدني سره د هغو علمي پانګه نوره هم شتمنه کوي لامل يې دا دی چې په وروسته پاته هيوادو کي په ځانګړې توګه په مسلمانو هيوادو کي فکري او ذهني خپلواکي شتون نه لري يوازي آټمي، کيميايي او بيلوژيکي وسله درلودل د پياوړتيا نخښه نه شي کېدلای او نه د دې سوب کېدلای شي چي د بشر دښمنو وسايلو په درلودلو سره دي نور هيوادونه و وېروي البته هغه وخت مسلمانان پرمختګ کولای شي کله چي د يوې ټولني په حيث دوی فکري پوخوالی او سياسي بلوغيت ولري او بله خبره دا ده چي د وروسته پاته والي يو بل سوب په مسلمانو هيوادو کي د سياست اوسنۍ ادارې ته د مذهب ور ننوتل هم دی او هغه وخت د سياست کثافت پر مذهب تاوان شي او دا پوښتنه را پيدا شي چي مذهب ولي د ستونزو په هوارې کي رول نه لوبوي او ولي وژنه، بربادي او تروررزم لا دوام لري.

که مذهب د سياست له اوسنۍ مفسدي او ککړې ادارې څخه بېل شي د مذهب سپېڅلتيا به روښانه شي او د مذهب رول به چي د وګړو د اخلاقو روزنه ده نورهم جوت کړي او پاته شوه دا پوښتنه چي ولي د واکمنو او وګړو تر منځ اوږد واټن موجود دی ولي د دواړو تر منځ د اعتماد او باور پُل نه دی غزول شوی آيا تل به په همداسي کيفيت کي لاچاره پراته يو د دې خبري ځواب دا دی چي زمانه پر يوه حال هيڅکله نه شي پاتېدلای راتلونکی وخت به هرومرو بدلون راولي سپېڅلي وګړي به د چټل سياست د بې شرمو لوبغاړو او بې کفايته واکمنو پر ضد هرومرو درېږي او له واکه به يې غورځوي مګر د دې لپاره تر ټولو دمخه ذهني چمتووالی مهم دی تر څو چي د وګړو ذهني

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سیاسي تربیه نه وي شوې تر هغه نېټې سیاسي اوښتون رامنځته کېدل ورانکاري او تباهي ده په نتیجه کي یې انارشیزم او فساد خپرېږي چي ټولنيز يووالی له منځه وړي او آخر هیواد د تجزیې لور ته بیايي.

د فکر خبره دا ده چي آیا موږ په ذهنونو کي بدلون راوستلو ته چمتو يو که نه، زموږ پوهان او فیلسوفان له راتلونکي مهاله ښې هیلي لري که څنګه...؟

**مأخذ:**

**تاریخ کی آواز**

**لیکوال ډاکټر مبارک علي**

**چاپ ۲۰۰۵م لاهور**

**فکشن هاوس، لاهور**

**(موجوده بحران اور مسلمان ممالک)**

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کي دننه مبارزه

عرب مؤرخ "رفیق ذکریا" په خپل کتاب "په اسلام کي دننه مبارزه" کي پر دې بحث کړی دی چي د نوي دور د بدلونو پر بنسټ د مسلمانانو په ټولنه کي دننه کوم نوښتونه راغلل هغه لیکي چي کله استعماري نظام ړنګ شو مسلمان هیوادونه خپلواک شول تر ټولو لویه ستونزه دا وه چي څنګه باید خپل ځانګړی وجود پاته وساتي د وجود د بقا کشاله پېچلې وه پوښتني پیدا شوې چي د مسلمانانو د ځانګړي وجود او ځانګړني او پېژندني معیار دي څه شي وګرځول شي مذهب او که ملتپالنه.

په دې ځای کي د "رفیق ذکریا" په وینا د بنسټپالانو او منځلارو ډلو په منځ کي غورځي پرځي پیل شوې او له هغې ورځي راهیسي مسلمان هیوادونه له دې کړکېچ سره لاس و ګرېوان دي چي څه باید وکړي د منځلارو سره ولاړ شي او که د سخت دریزو ګوندونو غوښتنو ته غوږ ونیسي.

منځلاري او سخت دریزي تل په ټکر کي سره پاته شوي دي نژدې ټول مذهبونه له دغه دور څخه تېر شوي دي عیسویت په خصوصیت سره د یادولو وړ دی او په عیسویت کي هم هلي ځلي شوي وې چي دغه کړکېچ هوار کړي "پاپ ګالیسوس"(۱) په دې هکله د دوو تورو نظریه وړاندي کړه چي د هغې نظرېې له رویه پاپ روحاني ځواک درلود او پاچا د دنیاوي ځواک څښتن و.

"پاپ ګالیسوس" د دوو تورو نظریې خلک ډاډه نه کړل په منځنیو پېړیو کي په ټوله اروپا کي د روحاني او دنیاوي ځواک پر سر مذهبي جګړو دوام درلود تر څو سپینه شي چي د زیات ځواک څښتن څوک دی تر منځنیو پېړیو

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په اروپا کې ساینس او ټولنیزو علومو رشد وکړ په مذهبي ولولو کې د پخوا په شان زیږتیا پاته نه شوه تر دې وروسته چې سیاسي، اقتصادي او ټولنیز حالات رامخته شول د هغو پر بنسټ دولت او مذهب سره بېل شول بیا په اروپا کې د منځلارۍ نظریه راټوکېده دې نظریې هم ډېر اړخونه درلودل د بېلګې په توګه د اروپا په جمهوري دولتونو کې د منځلارۍ نظریه د سوسیالستي دولتونو د منځلارۍ له نظریې سره توپیر لري په روسیه او نورو سوسیالستي دولتونو کې منځلارۍ د الحاد معنیٰ درلوده هغو مذهب له دولتي او ملکي ادارو څخه و ایست مګر په جمهوري اروپایي هیوادونو کې مذهب یوازې د سیاست له ډګره ووت البته د خلکو په کورني او شخصي ژوند کې مذهب د پخوا په شان خوځنده او ژوندی پاته شو.

"دونالدیوګین" د اروپایي منځلارۍ په مورد کې و ویل: "دا هغه نظریه ده چې یوه کس ته بشپړه مذهبي ځانواکي وربخښي چې هغه به د ځینو شرطونو پر بنسټ د بل چا په مذهبي چارو کې لاسوهنه نه کوي یو منځلارې دولت د هیڅ مذهب سرپرستي نه کوي او نه د هیڅ مذهب مخه نیسي".

که منځلاري د سیکولریزم په معنیٰ وفهموو ښکاري چې په اسلام کې د داسي منځلارۍ هیڅ ګنجایش نشته ولي چې په اسلام کې مذهب او دولت سره نښتي دي او په هیڅ بڼه نه شي سره بېلېدلای اوس دې اوضاع ته په کتلو سره د مسلمانو مشرانو په وړاندې ډېرې ستونزې شته مثلاً هغوی باید د نوي زمان ګوابښونو ته ځواب و وایي او څنګه باید خپلې هغه ستونزې هوارې کړي چې د هغوی په هکله د اسلام په ښوونو کې کومې روښانه لارښوونې نشته.

د روښانه لارښوونو د نشتوالي له کبله د مسلمانانو ډېر مشران پر بېلو بېلو لارو تللي دي ځیني داسي هم دي لکه "مصطفیٰ کمال اتاترک". هغه مذهب د ترکیې د وروسته پاته والي لامل وباله او پرېکړه یې وکړه چې د ترکیې د کلتور او ژوند څخه د مذهب اغیزې په بشپړه توګه له منځه یوسي پر ځای یې اروپایي سیکولر نظام پلی کړي د "اتاترک" د نظریاتو پر بنسټ نن په ترکیه کې جمهوریت او سیکولر ارزښتونه پر پښو ولاړ دي مګر اوس په ترکیه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مذهبي روحيات سر پورته کوي او پلويان يې د هيواد او د اقتصادي او ټولنيزو ستونزو د را پيدا کېدو علت سيکولر نظريات بولي.

په منځني ختيز کې د لږ وخت لپاره د عربي ملتپالني روحياتو ډېره وده وکړه مګر کله چې ملتپالو مشرانو په خپلسري ذهن سره ديکتاتوري حکومت پيل کړ او د خلکو د لانجو په هوارولو کې پاتې راغلل مذهبي ګوندونو له دې نوبت څخه ګټه پورته کړه هغوی د ملتپالو د ناکامۍ له کبله خپل غورځنګونه جوړ کړل په دې لړ کې د سوسيالستي حکومت د پاتې راتلو له کبله په "الجزاير" کې مذهبي ډلو نوم وګاټه دغه راز که يوې خوا ته په مصر کې "انورسادات" او "حُسني مبارک" و نه توانېدل هيواد له اقتصادي توپانو څخه راوباسي ناهيلي خلکو مذهبي ګوندونو ته مخه کړل بلې خوا ته د اسرائيلو په لاس د پرله پسې ماتې خوړلو او د اروپايانو د بې غورى او نه لېوالتيا له کبله عربو ته بله لار نه شوه پاتې چې مذهبي ډلو ټپلو ته ورنه شي او په هغوی کې خپله پېژندنه وپلټي تر څو خپلې ستونزې هوارې کړي په دې لړ کې بايد و ويل شي چې د ايران اسلامي انقلاب نور هم اسلام پالو عربو ته ذهني قوه ورکړه.

د منځني ختيز په پرتله د افريقا په مسلمانو هيوادونو کې وضع بل ډول ده سوډان د شمالي افريقا مسلمان هيواد دی عربو تر اېل کولو وروسته د هغوی ژبې او مذهب ته تغير ورکړ او د هغوی پخوانۍ شناخت يې ور ختم کړ له هغه وخته سوډان په عربو پورې تړلی دی او سوډان د خپل عربيت د ثابتولو لپاره کوښښونه کوي چې تر نورو زيات مذهبي رول ولوبوي په افريقا کې نور مسلمان هيوادونه هم شته لکه موريتانيا، سينيګال، نايجيريا، سوماليا او نايجر په تېر مهال کې دغه هيوادونه عربو ته دې نيولي بلکې د مسلمانو تبليغ کوونکو له لارې هغوی خپل زاړه مذهب ته خدای په امانې و ويله او مسلمانان شول د دې لپاره هغوی خپل پخوانې قبيلوي ارزښتونه هم نه دي پرې ايښې بلکې هغه يې د اسلام سره يو ځای کړل په هغه ټولنو کې په مذهبي چارو کې منځلاري ليدل کېږي او د هغوی په مغزو کې د زغم توکي ليدل کېږي څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ټولنو په استعماري نظام کې په ډېره آساني سره نوي ارزښتونه او نوي اداري خپلې کړې.

"رفيق ذکريا" په خپل کتاب کې د هند د مسلمانانو په هکله ډېر ناهيلی کوونکی انځور وړاندې کوي هغه ليکي د هند مسلمانان په هند کې د کېدونکو بدلونو په وړاندې بېخي ناخبره دي د هغوی وړتياوي پر ختمېدو دي او د هند په سياست او د ژوند په نورو برخو کې د ګډون کولو پر ځای د مذهبي ګوندونو سره اړيکي ټينګوي او د هند په سياسي ډګر کې کمزوري کېدونکي دي نوموړی زياتوي چې په هندوانو کې د مذهبي تنګ نظرۍ غورځنګونو سرونه پورته کړي دي او د مسلمانانو د وجود لپاره خطر ګرځېدلي دي مسلمانانو ته په کار دي چې د منځلارۍ د ولولو ښکارندويي وکړي او د منځلارۍ اداري ټينګې کړي او د هندوانو د مذهبي تنګ نظرۍ ځواب دې د مذهب له لارې نه ورکوي ځکه چې د مسلمانانو ستونزې نورې ور زياتوي او له يوې سترې تباهۍ سره يې مخامخ کوي.

"فريډ هاليډې" او "حمزه علوي" نومي مؤرخينو د منځنې ختيز او د جنوبي آسيا د هيوادونو د وضعې په هکله د يو لړ محققينو مقالې راغونډې کړې دي او د دې خبرې جاج يې اخيستی دی چې د استعماري نظامونو تر ړنګېدو وروسته کوم کوم بدلونونه راغلل او څنګه نوي اقوام راپورته شول د څه ډول سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ستونزو سره مخامخ شول او پر کومو بنسټونو يې خپلې ستونزې هواري کړې.

په دې مقالو کې يې ليکلي دي چې په نوموړي هيوادونو کې سياسي او اقتصادي بدلونونه يوازې په ښارونو کې راغلل، نه په کليو بانډو کې، په ښارونو کې پر پښو ولاړو سياسي او ټولنيزي ادارو په ټولنه کې بدلونونه رامنځته کړل تر خپلواکېدو وروسته ټولو دولتونو د خپل شتون د ټينګښت لپاره يوې نظريې ته اړتيا درلوده تر څو وکړي ملاتړي کړي په ترکيه کې يې اتاترکي نظريه، په مصر کې يې جمال ناصري نظريه په سوريه او عراق کې يې د بعث ګوند نظريه په اسرايلو کې يې د صهيونيت نظريه او په ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران انقلاب په ډېرو ځانګړتیاوو کې له نورو پاڅونو څخه بېل دی هغه په ټولنیز او اقتصادي لحاظ سره په یوه داسې ټولنه کې راغی چې تر روسي او چینایي ټولنو مخته وه د ایران د انقلاب مرکز په ښارونو کې و، مګر د چین، کیوبا او ویتنام انقلابونه په کلیوالو سیمو کې راغلل او ښارونو ته ولېږدېدل په ایران کې زوړ پاچاهي نظام د مارشونو او کاربندیزونو له لارې له منځه یووړل شو د وسله وال پاڅون له لارې نه، او په بریالیتوب کې یې د هیڅ بهرني هیواد لاس نشته.

آیا ایران به وتوانېږي چې خپلې ستونزې هوارې کړي، تر کومه بریده به وکړای شي. د دې ځواب د راتلونکي وخت سره دی البته تر اوسه یې خلک یوازې په تشو نارو راګیر کړي دي مګر تر ډېره شونې نه ده چې خلک د لوږې پر ضد کر کې ته وهڅوي او ځان ته یې راجلب کړي د ګاونډیو هیوادونو سره خوندورې اړیکې نشته البته اوس په ایران کې د مشرتابه له لوري داسې هڅې پیل شوې دي چې د ملایانو رول ور کم کړي او ایران چې د کومو ستونزو سره مخ دی هغه د حقیقت خوښونې له لارې حل کړي که حکومت په خپل کار کې بریالی شو په هیواد کې یو مثبت بدلون راتلای شي که نه وي اوضاع به تر پخوا ډېره خرړه پړه شي او په نتیجه کې به یې ګډوډې رامنځته شي.

**ماخذ:**


تاریخ کے روشنی

لیکوال ډاکټر مبارک علي

چاپ ۲۰۰۵ لاهور

فکشن هاوس، لاهور

(اسلام کے اندر جد و جهد)


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسلمانو ټولنو څېړنه

زموږ په ټولنه کي زیاتره داسي ګمان کېږي چي لوېدیزوال ختیزپوهان د اسلام او د مسلمانانو دښمنان دي او د هغوی د څېړنو مرام اسلام ته زیان رسول دي که څه هم په ځینو مواردو کي په دې خبره کي څه ناڅه رشتینوالی لیدل کېږي مګر د ټولو ختیزپوهانو په هکله داسي نظر درلودل ناسم برېښي.

په اروپا کي د اسلام څېړنه له پوهنتونو څخه پیل شوه تر ټولو دمخه پر اسلام څېړنه هغه خلکو پیل کړه چي د عیسویت د خپراوي لپاره یې کار کاوه په دې کي د هغوی مرام دا و، چي د یوه مذهب په حیث د اسلام کمزوري اړخونه په ننښه کړي او د عیسویت د تبلیغ او خپراوي په لړ کي ګټه ورڅخه پورته کړي بلې خوا ته لوېدیزوالو د استعماري نظام، تجارتي او سیاسي مرامونو په لړ کي هم له ختیزپوهني څخه ډېره ګټه پورته کوله چي د لوېدیزوالو ختیزپوهانو د اسلام څېړنه هم د ختیزپوهني د یوې برخي په توګه ورڅخه اغېزمنه شوه.

څنګه چي د وخت په تېرېدو سره استعماري نظام له پښو لوېده د اسلام په هکله د ختیزپوهانو په نظر کي هم بدلون راتلی په دې بهیر کي په اروپا او امریکا کي د ختیزپوهانو یوه داسي ډله له پوهنتونو څخه را و وتله چي له سیاسي مقصدونو څخه ډېره لیري وه او په خپلواکه فضا کي یې په رشتینوالي سره د اسلام څېړنه وکړه.

په لومړنۍ زمانه کي لکه څنګه چي د ختیزپوهني تحقیق او څېړني د سیاست سره اړه درلوده ځکه ختیزپوهانو پر سیاسي تاریخ هم تحقیق وکړ مګر د وخت په تېرېدو سره د تحقیق مخه له سیاسته د کلتور او ټولنیزو اړخونو خوا ته ور واوښتله او په نوي تحقیق کي پر هغو موضوعاتو بحث کېږي چي د مسلمانو ټولنو په روحیاتو د پوهېدلو توان رابخښي.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوس زمانه کې د علم حدود ډېر پراخ شوي دي د یوه ځېړونکي لپاره دا شونې نه ده چې هغه دې د یوې ټولنې پر ټولو اړخونو په ژورتیا سره لیکنه وکړي هر کله چې د یوه بشپړ او ژور تاریخ د لیکلو نیت وي د یو لړ ځانګو ماهرینو ته ویل کېږي چې هغوی دې پر خپلو خپلو موضوعاتو لیکنه وکړي مګر په داسي ډول په بشپړ تاریخونو کې کمزوري اړخونه دا وي چې په یوه نظریه سره نه وي لیکل شوي هر ماهر خپله موضوع پخپله نظریه سره لیکلې وي چې کله ناکله موضوع اوړدوي او واقعات په وار وار پکښې تکرارېږي.

د دې ټولو ستونزو پر ته دا ځلي پروفیسر "ایرالاپیدوس" د مسلمانو ټولنو د یوه بشپړ تاریخ د لیکلو یوه تجربه وکړه چې پیل یې د اسلام له پیله کېږي تر ۱۹۸۳م پورې، په دې کې لیکوال پر سیاسي، ټولنیزو او کلتوري اړخونو څېړنیزه لیکنه وکړه هغه دا خبره جوته کړه چې هره مسلمانه ټولنه په کلتوري لحاظ سره له بلې مسلماني ټولنې څخه بېله پاته شوې ده که څه هم مذهب د هغوی په منځ کې د اتحاد د یوې پرزې په حیث موجود و. مګر د ټولنو نور کلتوري اړخونه له یو او بل څخه بیخي بېل وه او په هره ټولنه کې د اسلام یو بېل تصور شته.

د دې کتاب یوه ځانګړتیا دا ده چې د هغو څېړنو پایلې یې هم پکښې راوړي دي چې پر اسلام شوي دي لیکوال پر ثانوي مأخذ تر باور کولو وروسته د هغه په رڼا کې د بېلو بېلو هیوادونو د اسلامي ټولنو د تکامل بیان هم کړی دی پروفیسر "ایرالاپیدوس" نومي محقق پر اسلام د شوي نیوکو او اعتراضاتو ځواب هم ویلی دی دغه نیوکې دوه ډوله وې یو هغه چې تش د تعصب پر بنسټ پر اسلام بد رد ویل شوي وو او دویم ډول نیوکې هغه وې چې په مأخذاتو د نه پوهېدلو له کبله راپیدا شوي وې د بېلګې په توګه تر اوسه په لوېدیز کې دې نظر شهرت درلود چې اسلام یې د تورې په زور خپور شوی دی په غرب کې د مسلمانانو فاتحینو په هکله داسې تصویر په مغزو کې پرته ده چې په یوه لاس کې یې لڅه توره وي او په بل لاس کې یې قرآن وي او خلک په وهلو او رټلو سره مسلمانان کوي مګر اوس د نوي تحقیقاتو په رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لوېدیځوالو محققینو دا نظر په سختۍ سره رد کړی دی او ثابته کړې یې ده چې د اسلام په خپرولو کې د جنګونو پر ځای امنیت زیات رول لوبولی دی او د امن په دور کې اسلام زیات خپور شوی دی او ثابته شوې ده چې مسلمانو حکمرانانو یوازې د حکومت کولو سره لېوالتیا درلوده هغوی د خلکو د مسلمانولو سره کومه دلچسپي نه درلوده همدا وجه ده چې د عباسیانو په حکومت کې په منځنی ختیز کې ډېري سیمي داسي وې چې وګړي یې مسلمانان نه وو مسلمانان یوازي په ښارونو کې اوسېدل او په کلیو بانډو کې خلکو پر خپلو مذهبونو عمل کاوه او د خلکو د مسلمانېدو پروسه هغه وخت پیل شوه کله چې عباسي خلافت د را پرزېدو په درشل کې شو په نوې اوضاع کې پر خلکو سیاسي، ټولنیز او اقتصادي فشارونه راغلل له دې کبله خلک مسلمانان شول په دیارلسمه مېلادي پېړۍ کې د خلکو د مسلمانېدو پروسه بشپړه شوه او د منځني ختیز ډېر کې خلک مسلمانان شول.

لیکوال د مذهب د الېشولو په لړ کې دوو تمایلاتو ته ګوته نیولې ده یو دا چې کله عربو او ترکانو یو لړ هغه هیوادونه ونیول چې مسلمانان نه وو هغوی پر ته له دې چې خلک اسلام ته راوبولي هلته خپل سیاسي واک ټینګ کړ، بل دا چې کله د ابل شوي هیواد لوړه طبقه مسلمانه شوه هغوی خپل کلتوري پاته شوني (میراث) په اسلام ور ګډ کړل په نتیجه کې یې په هغه هیوادونو کې د اسلام کلتوري کالبوت الیش شو د بېلګې په توګه اندونیزیا، هند او د افریقا په یو لړ هیوادونو کې اسلام د یوه وحدت په بڼه پاتې نه شو بلکې په هر هیواد کې یې بڼه بدلېدله او د ځایي کلتور توکي پر عربي کلتور غالب شول مګر په هغه هیوادونو کې چیري چې مسلمانه واکمنه ډله په اقلیت کې وه هلته د هغوی روحیه د سخت دریځۍ څخه ډکه وه او هغوی د ځایي کلتور د خپلولو سره سخت مخالفت او مزاحمت وښود یوازې هلته سیمه ییز کلتور د اسلامي یا عربي کلتور برخه وګرځېد چیري چې واکمن او ابل شوي قومونه سره ګډ شول او د یوه مذهب منونکي شول له دې څخه په ټولنو کې زغم او روښانفکري پیدا شوه.

د کتاب په بله برخه کې لیکوال پر خپلواکو مسلمانو دولتونو بحث کړی دی

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي څنګه هلته ديني عالمان او صوفيان ور ګډ شول په دې لړ کي چي په پارس کي صفويانو واک تر لاسه کړ هغوی د سياسي مقاصدو په نيت د مذهب د نامه څخه په بشپړه توګه ګټه پورته کړه او د پارس پر سني اکثريت يې په زور او جبر سره شيعه مذهب وتپه پايله يې دا شوه چي پاچا هم د سياسي او هم د مذهبي واک څښتن شو هغه په جبر سره حکومت وکړ دغه مثال د نوي ايران په هکله هم رشتيا کېږي چيري چي يو ځلي بيا سياست او مذهب سره يو ځای شوي دي او د ديکتاتوری روحيات يې پيدا کړي دي.

د کتاب په پای کي ليکوال پر دې بحث کوي چي څنګه مسلمان هيوادونه د اروپا تر اغېزو لاندي راغلي دي هغه زياتوي چي د استعمار په ولکه کي تر راتلو وروسته په مسلمانو هيوادو کي دوه ډوله ولولو وده وکړه يوه ډله د ملايانو وه چي د بهرنيو ځواکونو د ايستلو لپاره يې جهاد اعلان کړ او د بيا راژوندي کولو د غورځنګونو له لاري يې وغوښتل چي اسلام پخپله خالصه او لومړنی بڼه کي نافذ کړي او بله ډله د هغه باسوادو او پوهانو خلکو وه چي د استعماري ځواکونو په پوهتونونو کي يې زده کړي کړي وې هغوی غوښتل چي اسلام ته دي د منځلاری او نوښت جامه ور واغوندي تر څو د استعماري ځواکونو سره مقابله وکړي، اوس دغه کيفيت په ټولو مسلمانو هيوادونو کي وجود لري چي بايد د نوي زمانې غوښتنو ته څنګه ځواب و ويل شي د بيا را ژوندي کولو د غورځنګونو له لاري او که د نوي نظرياتو د خپلولو له لاري...؟

**ماخذ:**

تاریخ اور دانشور
ليکوال ډاکټر مبارک علي
چاپ ۲۰۰۴ لاهور
فکشن هاوس، لاهور
(مسلمان معاشروں کا مطالعہ)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هند مسلمانان

د هند دریو سیمو ته اسلام په بېلو بېلو بڼو راغی جنوبي هند ته اسلام عربو سوداګرو راوړ مګر دوی د سیاسي قوت د نه درلودلو له کبله د اسلام د خپرولو په لړ کې دومره اغېزمن ثابت نه شول ډېر لږ خلک مسلمانان شول د لوېدیز هند د سیند سیمي ته اسلام د عربو بریالیو په ورتګ سره راغی دغه وخت د اسلام لومړنی او ساده زمانه وه او فقهي مسلکونه لا نه وه پیدا شوي.

تر عربو وروسته د سیند او پنجاب په سیمو کې اسماعیلیانو تبلیغ پیل کړ هغوی د سني اکثریت په سیمو کې د یوه مذهبي اقلیت په حیث په پټه خپل اسماعیلي عقاید خپرول او دوی په دې کار کې ډېر مخته ولاړل دوی پوهېدل چې د یو چا عقیدې ته تغیر ورکول اسانه کار نه دی وخت نیسي هغوی ډېره موده خپل تبلیغ ته دوام ورکړ ورو، ورو یې خپل مذهب بدل کړ او آخر دې پړاو ته ورسېدل چې د ملتان په سیمه کې سیاسي قوت ترلاسه کړي او هلته خپل حکومت جوړ کړي

په درېیم پړاو کې تُرکان او افغانان هند ته ورغلل له ځانه سره یې اسلام هم ور وړ تُرکانو چې د اسلام کوم تصور له ځانه سره هند ته ور وړ هغه د عربو له تصوره بېل و، په دغه وخت په مسلمانانو کې ډېري فقهي ډلي پیدا شوي وې که څه هم د منځنی آسیا تُرکانو، افغانانو او پارسیانو اسلام منلی و، مسلمانان شوي وو مګر هغوی د عربي کلتور پر ضد زښتي مبارزې کړي وې په دې لړ کې شعوبیه فرقې نه یوازې خپل لرغوني ارزښتونه او قدرونه ژوندي وساتل بلکې هغه یې په اسلام ګډ کړل د هغه برخه یې وګرځول د عربو په مقابل کې یې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیا پاته وساتله لرغوني آریایي دودونه، افسانې او کلتور یې ختم نه کړل دغه ټول خصوصیات یې د اسلامي تهذیب برخه وګرځول.

د منځنۍ آسیا خلک (افغانستان او تُرکستان) د حنفي مسلک منونکي وو هغوی پر خپله عقیده ډېر ټینګ ولاړ وو هند ته د راتلونکي واکمنو سره چې به کوم دیني عالمان ورسره وو هغو ډېر سخت نظر درلود د اسماعلیانو په رنګه هغوی له نرمۍ او مصلحت څخه بېخي کار نه اخیست څنګه چې یې واکمن ملاتړي وو او دوی هم په واک کې ګډون درلود ځکه د هغوی روحیه قوي وه همدا وجه وه چې په هند کې هغوی له لومړي سره د هندو مذهب له ارزښتونو او قدرونو مخالف وو هغوی هندوانو ته د کافر او مشرک خطاب کاوه په ډاګه یې ویل چې واجب القتل دي له دې پرته دوی د نورو مسالکو د مسلمانانو په هکله هم ښه نظر نه درلود مثلاً د شیعه ګانو او اسماعیلیانو په هکله.

محمودغزنوي سني عقیده لرونکی مسلمان و، هغه د ملتان د اسماعیلي حکومت سره ډېر جنګونه وکړل او د هغوی سیاسي قوت یې ور مات کړ وروسته په پنجاب کې غوري سلطنت پر پښو ودرېد هلته سُني عالمانو هڅه وکړه چې د ملتان او سیند څخه د اسماعیلیانو اغیزي ختمي کړي په نورو سیمو کې د ماتي خوړلو له کبله د ګجرات په سیمه کې اسماعیلیانو پناه اخیستې وه هلته هم مځکه پر تنګه شوه او نورو سیمو ته تیت او پرک شول.

په پارس کې د صفوي واکمن شاه اسمعاعیل واک ته تر رسېدو وروسته په ټول هیواد کې د هغه ملاتړو د شیعه مسلک تبلیغ پیل کړ او د هغه په سرپرستي کې د هیواد اکثریت شیعه ګان شول او هند ته د شیعه ګانو ورتګ د مغولو په دور کې پیل شو په هغه وخت کې چې همایون له پارسه بیرته راغی. د جهانګیر په زمانه کې د نورجهاني کورنۍ په دربار کې ډېر زور پیدا کړ او ورسره سم شیعه امیرانو هم په دربار کې اهمیت ترلاسه کړ له دې څخه په دربار کې د سني او شیعه امیرانو په منځ کې تاوتریخوالی زیات شو مګر څنګه چې قدرت د سنیانو په لاس کې و، او د وګړو ډېر کې هم د سني مسلک سره اړه درلوده ځکه د پارس په رنګه دلته په مذهب کې کوم بدلون رانغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي مذهبي روحيات سر پورته کوي او پلويان يې د هيواد او د اقتصادي او ټولنيزو ستونزو د را پيدا کېدو علت سيکولر نظريات بولي.

په منځني ختيز کي د لږ وخت لپاره د عربي ملتپالني روحياتو ډېره وده وکړه مګر کله چي ملتپالو مشرانو په خپلسري ذهن سره ديکتاتوري حکومت پيل کړ او د خلکو د لانجو په هوارولو کي پاته راغلل مذهبي ګوندونو له دې نوبت څخه ګټه پورته کړه هغوی د ملتپالو د ناکامۍ له کبله خپل غورځنګونه جوړ کړل په دې لړ کي د سوسيالستي حکومت د پاته راتلو له کبله په "الجزاير" کي مذهبي ډلو نوم وګاټه دغه راز که يوې خوا ته په مصر کي "انورسادات" او "حُسني مبارک" و نه توانېدل هيواد له اقتصادي توپلو څخه راوباسي ناهيلي خلکو مذهبي ګوندونو ته مخه کړل بلې خوا ته د اسرائيلو په لاس د پرله پسې ماتې خوړلو او د اروپايانو د بې غوري او نه لېوالتيا له کبله عربو ته بله لار نه شوه پاته چي مذهبي ډلو ټپلو ته ورنه شي او په هغوی کي خپله پېژندنه وپلټي تر څو خپلي ستونزي هواري کړي په دې لړ کي بايد و ويل شي چي د ايران اسلامي انقلاب نور هم اسلام پالو عربو ته ذهني قوه ورکړه.

د منځني ختيز په پرتله د افريقا په مسلمانو هيوادونو کي وضع بل ډول ده سوډان د شمالي افريقا مسلمان هيواد دی عربو تر ايل کولو وروسته د هغوی ژبې او مذهب ته تغير ورکړ او د هغوی پخوانۍ شناخت يې ور ختم کړ له هغه وخته سوډان په عربو پوري تړلی دی او سوډان د خپل عربيت د ثابتولو لپاره کوښښونه کوي چي تر نورو زيات مذهبي رول ولوبوي په افريقا کي نور مسلمان هيوادونه هم شته لکه مورتانيا، سينيګال، نايجيريا، صوماليا او نايجر په تېر مهال کي دغه هيوادونه عربو ته دې نيولي بلکي د مسلمانو تبليغ کوونکو له لاري هغوی خپل زاړه مذهب ته خدای په امانې وويله او مسلمانان شول د دې لپاره هغوی خپل پخوانۍ قبيلوي ارزښتونه هم نه دي پرې ايښې بلکي هغه يې د اسلام سره يو ځای کړل په هغه ټولنو کي په مذهبي چارو کي منځلاري ليدل کېږي او د هغوی په مغزو کي د زغم توکي ليدل کېږي څکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ټولنو په استعماري نظام کې په ډېره آساني سره نوي ارزښتونه او نوي اداري خپلې کړې.

"رفیق ذکریا" په خپل کتاب کې د هند د مسلمانانو په هکله ډېر ناهیلی کوونکی انځور وړاندي کوي هغه لیکي د هند مسلمانان په هند کي د کېدونکو بدلونو په وړاندي بېخي ناخبره دي د هغوی وړتیاوي پر ختمېدو دي او د هند په سیاست او د ژوند په نورو برخو کي د ګډون کولو پر ځای د مذهبي ګوندونو سره اړیکي ټینګوي او د هند په سیاسي ډګر کي کمزوري کېدونکي دي نومړی زیاتوي چي په هندوانو کي د مذهبي تنګ نظری غورځنګونو سرونه پورته کړي دي او د مسلمانانو د وجود لپاره خطر ګرځېدلي دي مسلمانانو ته په کار دی چي د منځلاری د ولولو ښکارندويي وکړي او د منځلاری اداري ټینګي کړي او د هندوانو د مذهبي تنګ نظری ځواب دي د مذهب له لاري نه ورکوي ځکه چي د مسلمانانو ستونزي نوري ور زیاتوي او له یوې ستري تباهۍ سره یې مخامخ کوي.

"فرید هالیډې" او "حمزه علوي" نومي مؤرخینو د منځني ختیز او د جنوبي آسیا د هیوادونو د وضعي په هکله د یو لړ محققینو مقالې را غونډي کړي دي او د دې خبري جاج یې اخیستی دی چي د استعماري نظامونو تر ړنګېدو وروسته کوم کوم بدلونونه راغلل او څنګه نوي اقوام راپورته شول د څه ډول سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخامخ شول او پر کومو بنسټونو یې خپلې ستونزي هواري کړې.

په دې مقالو کي یې لیکلي دي چي په نومړي هیوادونو کي سیاسي او اقتصادي بدلونونه یوازي په ښارونو کي راغلل، نه په کلیو بانډو کي، په ښارونو کي پر پښو ولاړو سیاسي او ټولنیزي ادارو په ټولنه کي بدلونونه رامنځته کړل تر خپلواکېدو وروسته ټولو دولتونو د خپل شتون د ټینګښت لپاره یوې نظریې ته اړتیا درلوده تر څو وګړي ملاتړي کړي په ترکیه کي یې اتا ترکي نظریه، په مصر کي یې جمال ناصري نظریه په سوریه او عراق کي یې د بعث ګوند نظریه په اسرایلو کي یې د صهیونیت نظریه او په ایران

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران انقلاب په ډېرو ځانګړ تیاوو کې له نورو پاخونو څخه بېل دی هغه په ټولنیز او اقتصادي لحاظ سره په یوه داسې ټولنه کې راغی چې تر روسي او چینایي ټولنو مخته وه د ایران د انقلاب مرکز په ښارونو کې و، مګر د چین، کیوبا او ویتنام انقلابونه په کلیوالو سیمو کې راغلل او ښارونو ته ولېږدېدل په ایران کې زوړ پاچاهي نظام د مارشونو او کاربندیزونو له لارې له منځه یووړل شو د وسله وال پاخون له لارې نه، او په بریالیتوب کې یې د هیڅ بهرني هیواد لاس نشته.

آیا ایران به وتوانېږي چې خپلې ستونزې هوارې کړي، تر کومه بریده به وکړای شي. د دې ځواب د راتلونکي وخت سره دی البته تر اوسه یې خلک یوازې په تشو نارو راګیر کړي دي مګر تر ډېره شونې نه ده چې خلک د لوېدیز پر ضد کر کې ته وهڅوي او ځان ته یې راجلب کړي د ګاونډیو هیوادونو سره خوندورې اړیکې نشته البته اوس په ایران کې د مشر تابه له لورې داسې هڅې پیل شوې دي چې د ملایانو رول ور کم کړي او ایران چې د کومو ستونزو سره مخ دی هغه د حقیقت خوښونې له لارې حل کړي که حکومت په خپل کار کې بریالی شو په هیواد کې یو مثبت بدلون راتلای شي که نه وي اوضاع به تر پخوا ډېره خړه پړه شي او په نتیجه کې به یې ګډوډې رامنځته شي.

**ماخذ:**


تاریخ کے روشنی

لیکوال ډاکټر مبارک علي

چاپ ۲۰۰۵ لاهور

فکشن هاوس، لاهور

(اسلام کے اندر جد و جهد)


Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسلمانو ټولنو څېړنه

زموږ په ټولنه کې زیاتره داسې ګمان کېږي چې لوېدیزوال ختیزپوهان د اسلام او د مسلمانانو دښمنان دي او د هغوی د څېړنو مرام اسلام ته زیان رسول دي که څه هم په ځینو مواردو کې په دې خبره کې څه ناڅه رشتینوالی لیدل کېږي مګر د ټولو ختیزپوهانو په هکله داسې نظر درلودل ناسم برېښي.

په اروپا کې د اسلام څېړنه له پوهنتونو څخه پیل شوه تر ټولو دمخه پر اسلام څېړنه هغه خلکو پیل کړه چې د عیسویت د خپراوي لپاره یې کار کاوه په دې کې د هغوی مرام دا و، چې د یوه مذهب په حیث د اسلام کمزوري اړخونه په ګوته کړي او د عیسویت د تبلیغ او خپراوي په لړ کې ګټه ورڅخه پورته کړي بلې خوا ته لوېدیزوالو د استعماري نظام، تجارتي او سیاسي مرامونو په لړ کې هم له ختیزپوهنې څخه ډېره ګټه پورته کوله چې د لوېدیزوالو ختیزپوهانو د اسلام څېړنه هم د ختیزپوهنې د یوې برخې په توګه ورڅخه اغېزمنه شوه.

څنګه چې د وخت په تېرېدو سره استعماري نظام له پښو لوېده د اسلام په هکله د ختیزپوهانو په نظر کې هم بدلون راتلی په دې بهیر کې په اروپا او امریکا کې د ختیزپوهانو یوه داسې ډله له پوهنتونو څخه را و وتله چې له سیاسي مقصدونو څخه ډېره لیرې وه او په خپلواکه فضا کې یې په رشتینوالي سره د اسلام څېړنه وکړه.

په لومړنۍ زمانه کې لکه څنګه چې د ختیزپوهنې تحقیق او څېړنې د سیاست سره اړه درلوده ځکه ختیزپوهانو پر سیاسي تاریخ هم تحقیق وکړ مګر د وخت په تېرېدو سره د تحقیق مخه له سیاسته د کلتور او ټولنیزو اړخونو خوا ته ور واوښتله او په نوي تحقیق کې پر هغو موضوعاتو بحث کېږي چې د مسلمانو ټولنو په روحیاتو د پوهېدلو توان رابخښي.

Scanned with CamScanner

په اوس زمانه کي د علم حدود ډېر پراخ شوي دي د يوه څېړونكي لپاره دا شونې نه ده چي هغه دي د يوې ټولني پر ټولو اړخونو په ژورتيا سره ليكنه وكړي هر كله چي د يوه بشپړ او ژور تاريخ د ليكلو نيت وي د يو لړ ځانګو ماهرينو ته ويل كېږي چي هغوى دي پر خپلو خپلو موضوعاتو ليكنه وكړي مګر په داسي ډول په بشپړ تاريخونو كي كمزوري اړخونه دا وي چي په يوه نظريه سره نه وي ليكل شوي هر ماهر خپله موضوع پخپله نظريه سره ليكلې وي چي كله ناكله موضوع اوږدوي او واقعات په وار وار پكښي تكرارېږي.

د دې ټولو ستونزو پر ته دا ځلي پروفيسر "ايرالاپيدوس" د مسلمانو ټولنو د يوه بشپړ تاريخ د ليكلو يوه تجربه وكړه چي پيل يې د اسلام له پيله كېږي تر ۱۹۸۳م پوري، په دې كي ليكوال پر سياسي، ټولنيزو او كلتوري اړخونو څېړنيزه ليكنه وكړه هغه دا خبره جوته كړه چي هره مسلمانه ټولنه په كلتوري لحاظ سره له بلي مسلماني ټولني څخه بېله پاته شوې ده كه څه هم مذهب د هغوى په منځ كي د اتحاد د يوې پرزې په حيث موجود و، مګر د ټولنو نور كلتوري اړخونه له يو او بل څخه بيخي بېل وه او په هره ټولنه كي د اسلام يو بېل تصور شته.

د دې كتاب يوه ځانګړتيا دا ده چي د هغو څېړنو پايلي يې هم پكښي راوړي دي چي پر اسلام شوي دي ليكوال پر ثانوي مأخذ تر باور كولو وروسته د هغه په رڼا كي د بېلو بېلو هيوادونو د اسلامي ټولنو د تكامل بيان هم كړى دى پروفيسر "ايرالاپيدوس" نومي محقق پر اسلام د شوي نيوكو او اعتراضاتو ځواب هم ويلى دى دغه نيوكي دوه ډوله وې يو هغه چي تش د تعصب پر بنسټ پر اسلام بد رد ويل شوي وو او دويم ډول نيوكي هغه وې چي په مأخذاتو د نه پوهېدلو له كبله راپيدا شوي وې د بېلګي په توګه تر اوسه په لوېديز كي دې نظر شهرت درلود چي اسلام يې د تُوري په زور خپور ...دي په غرب كي د مسلمانانو فاتحينو په هكله داسي تصوير په مغزو كي ...ېده چي په يوه لاس كي يې لڅه تُوره وي او په بل لاس كي يې قرآن وي ...ك په وهلو او رټلو سره مسلمانان كوي مګر اوس د نوي تحقيقاتو په رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لوېدیځوالو محققینو دا نظر په سختۍ سره رد کړی دی او ثابته کړې یې ده چې د اسلام په خپرولو کې د جنګونو پر ځای امنیت زیات رول لوبولی دی او د امن په دور کې اسلام زیات خپور شوی دی او ثابته شوې ده چې مسلمانو حکمرانانو یوازې د حکومت کولو سره لېوالتیا درلوده هغوی د خلکو د مسلمانولو سره کومه دلچسپي نه درلوده همدا وجه ده چې د عباسیانو په حکومت کې په منځني ختیز کې ډېرې سیمې داسې وې چې وګړي یې مسلمانان نه وو مسلمانان یوازې په ښارونو کې اوسېدل او په کلیو بانډو کې خلکو پر خپلو مذهبونو عمل کاوه او د خلکو د مسلمانېدو پروسه هغه وخت پیل شوه کله چې عباسي خلافت د را پرزېدو په درشل کې شو په نوې اوضاع کې پر خلکو سیاسي، ټولنیز او اقتصادي فشارونه راغلل له دې کبله خلک مسلمانان شول په دیارلسمه مېلادي پېړۍ کې د خلکو د مسلمانېدو پروسه بشپړه شوه او د منځني ختیز ډېر کې خلک مسلمانان شول.

لیکوال د مذهب د الیشولو په لړ کې دوو تمایلاتو ته ګوته نیولې ده یو دا چې کله عربو او ترکانو یو لړ هغه هیوادونه ونیول چې مسلمانان نه وو هغوی پر ته له دې چې خلک اسلام ته راوبولي هلته خپل سیاسي واک ټینګ کړ، بل دا چې کله د اېل شوي هیواد لوړه طبقه مسلمانه شوه هغوی خپل کلتوري پاته شونې (میراث) په اسلام ور ګډ کړل په نتیجه کې یې په هغه هیوادونو کې د اسلام کلتوري کالبوت الیش شو د بېلګې په توګه اندونیزیا، هند او د افریقا په یو لړ هیوادونو کې اسلام د یوه وحدت په بڼه پاته نه شو بلکې په هر هیواد کې یې بڼه بدلېدله او د ځایي کلتور توکي پر عربي کلتور غالب شول مګر په هغه هیوادونو کې چیرې چې مسلمانه واکمنه ډله په اقلیت کې وه هلته د هغوی روحیه د سخت دریځۍ ځخه ډکه وه او هغوی د ځایي کلتور د خپلولو سره سخت مخالفت او مزاحمت وښود یوازې هلته سیمه ییز کلتور د اسلامي یا عربي کلتور برخه وګرځېد چیرې چې واکمن او اېل شوي قومونه سره ګډ شول او د یوه مذهب منونکي شول له دې ځخه په ټولنو کې زغم او روښانفکري پیدا شوه.

د کتاب په بله برخه کې لیکوال پر خپلواکو مسلمانو دولتونو بحث کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي څنګه هلته ديني عالمان او صوفيان ور ګډ شول په دې لړ کې چې په پارس کې صفويانو واک تر لاسه کړ هغوی د سياسي مقاصدو په نيت د مذهب د نامه څخه په بشپړه توګه ګټه پورته کړه او د پارس پر سني اکثريت يې په زور او جبر سره شيعه مذهب وتپه پايله يې دا شوه چې پاچا هم د سياسي او هم د مذهبي واک څښتن شو هغه په جبر سره حکومت وکړ دغه مثال د نوي ايران په هکله هم رشتيا کېږي چيري چې يو ځلي بيا سياست او مذهب سره يو ځای شوي دي او د ديکتاتورۍ روحيات يې پيدا کړي دي.

د کتاب په پای کې ليکوال پر دې بحث کوي چې څنګه مسلمان هيوادونه د اروپا تر اغېزو لاندي راغلي دي هغه زياتوي چې د استعمار په ولکه کې تر راتلو وروسته په مسلمانو هيوادو کې دوه ډوله ولولو وده وکړه يوه ډله د ملايانو وه چې د بهرنيو ځواکونو د ايستلو لپاره يې جهاد اعلان کړ او د بيا راژوندي کولو د غورځنګونو له لاري يې وغوښتل چې اسلام پخپله خالصه او لومړنۍ بڼه کې نافذ کړي او بله ډله د هغه باسوادو او پوهانو خلکو وه چې د استعماري ځواکونو په پوهتونونو کې يې زده کړې کړي وې هغوی غوښتل چې اسلام ته دې د منځلارۍ او نوښت جامه ور واغوندي تر څو د استعماري ځواکونو سره مقابله وکړي، اوس دغه کيفيت په ټولو مسلمانو هيوادونو کې وجود لري چې بايد د نوي زماني غوښتنو ته څنګه ځواب و ويل شي د بيا را ژوندي کولو د غورځنګونو له لاري او که د نوي نظرياتو د خپلولو له لاري...؟

**ماخذ:**

تاریخ اور دانشور

ليکوال ډاکټر مبارک علي

چاپ ۲۰۰۴ لاهور

فکشن هاوس، لاهور

(مسلمان معاشروں کا مطالعہ)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هند مسلمانان

د هند دریو سیمو ته اسلام په بېلو بېلو بڼو راغی جنوبي هند ته اسلام عربو سوداګرو راوړ مګر دوی د سیاسي قوت د نه درلودلو له کبله د اسلام د خپرولو په لړ کي دومره اغېزمن ثابت نه شول ډېر لږ خلک مسلمانان شول د لوېدیز هند د سیند سیمي ته اسلام د عربو بریالیو په ورتګ سره راغی دغه وخت د اسلام لومړنی او ساده زمانه وه او فقهي مسلکونه لا نه وه پیدا شوي.

تر عربو وروسته د سیند او پنجاب په سیمو کي اسماعیلیانو تبلیغ پیل کړ هغوی د سني اکثریت په سیمو کي د یوه مذهبي اقلیت په حیث په پټه خپل اسماعیلي عقاید خپرول او دوی په دې کار کي ډېر مخته ولاړل دوی پوهېدل چي د یو چا عقیدې ته تغیر ورکول اسانه کار نه دی وخت نیسي هغوی ډېره موده خپل تبلیغ ته دوام ورکړ ورو، ورو یې خپل مذهب بدل کړ او آخر دې پړاو ته ورسېدل چي د ملتان په سیمه کي سیاسي قوت ترلاسه کړي او هلته خپل حکومت جوړ کړي

په درېیم پړاو کي تُرکان او افغانان هند ته ورغلل له ځانه سره یې اسلام هم ور وړ تُرکانو چي د اسلام کوم تصور له ځانه سره هند ته ور وړ هغه د عربو له تصوره بېل و، په دغه وخت په مسلمانانو کي ډېري فقهي ډلي پیدا شوي وې که څه هم د منځنی آسیا تُرکانو، افغانانو او پارسیانو اسلام منلی و، مسلمانان شوي وو مګر هغوی د عربي کلتور پر ضد زښتي مبارزې کړي وې په دې لړ کي شعوبیه فرقې نه یوازي خپل لرغوني ارزښتونه او قدرونه ژوندي وساتل بلکي هغه یې په اسلام ګډ کړل د هغه برخه یې وګرځول د عربو په مقابل کي یې خپله

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیا پاته وساتله لرغوني آریایي دودونه، افسانې او کلتور یې ختم نه کړل دغه ټول خصوصیات یې د اسلامي تهذیب برخه وګرځول.

د منځنۍ آسیا خلک (افغانستان او تُرکستان) د حنفي مسلک منونکي وو هغوی پر خپله عقیده ډېر ټینګ ولاړ وو هند ته د راتلونکي واکمنو سره چې به کوم دیني عالمان ورسره وو هغو ډېر سخت نظر درلود د اسماعلیانو په رنګه هغوی له نرمۍ او مصلحت څخه ښځي کار نه اخیست څنګه چې یې واکمن ملاتړي وو او دوی هم په واک کې ګډون درلود ځکه د هغوی روحیه قوي وه همدا وجه وه چې په هند کې هغوی له لومړي سره د هندو مذهب له ارزښتونو او قدرونو مخالف وو هغوی هندوانو ته د کافر او مشرک خطاب کاوه په ډاګه یې ویل چې واجب القتل دي له دې پرته دوی د نورو مسالکو د مسلمانانو په هکله هم ښه نظر نه درلود مثلاً د شیعه ګانو او اسماعیلیانو په هکله.

محمودغزنوي سني عقیده لرونکی مسلمان و، هغه د ملتان د اسماعیلي حکومت سره ډېر جنګونه وکړل او د هغوی سیاسي قوت یې ور مات کړ وروسته په پنجاب کې غوري سلطنت پر پښو ودرېد هلته سُني عالمانو هڅه وکړه چې د ملتان او سیند څخه د اسماعیلیانو اغیزي ختمي کړي په نورو سیمو کې د ماتي خوړلو له کبله د ګجرات په سیمه کې اسماعیلیانو پناه اخیستې وه هلته هم مځکه پر تنګه شوه او نورو سیمو ته تیت او پرک شول.

په پارس کې د صفوي واکمن شاه اسمعاعیل واک ته تر رسېدو وروسته په ټول هیواد کې د هغه ملاتړو د شیعه مسلک تبلیغ پیل کړ او د هغه په سرپرستي کې د هیواد اکثریت شیعه ګان شول او هند ته د شیعه ګانو ورتګ د مغولو په دور کې پیل شو په هغه وخت کې چې همایون له پارسه بیرته راغی. د جهانګیر په زمانه کې د نورجهاني کورنۍ په دربار کې ډېر زور پیدا کړ او ورسره سم شیعه امیرانو هم په دربار کې اهمیت ترلاسه کړ له دې څخه په دربار کې د سني او شیعه امیرانو په منځ کې تاوتریخوالی زیات شو مګر څنګه چې قدرت د سنیانو په لاس کې و، او د وګړو ډېر کې هم د سني مسلک سره اړه درلوده ځکه د پارس په رنګه دلته په مذهب کې کوم بدلون رانغی

Scanned with CamScanner

شیعه لږکیو د سني ډېرکیو د سختیو له کبله د بغاوت روحیات درلودل او تل به یې د هغو خلکو سره ملاتړ کاوه چې د بدلون په راوستلو سره یې د سنیانو قدرت له منځه وړی.

د هند مسلمانه ټولنه له دوو قشرونو څخه جوړه شوې ده یو قشر هغه خلک دي چې له بهره ورغلي هلته مېشت او تلپاته استوګن شوي دي بل قشر هغه سیمه ییز خلک دي چې پخوا یې د هندوانو د بېلا بېلو ټبرونو سره اړه درلوده وروسته مسلمانان شول د داسې خلکو په هکله پوښتنه راپیدا کېږي چې آیا د دوی په مسلمانولو کې مسلمانو واکمنو برخه اخیستې ده او که دغه کار یوازې دیني عالمانو او صوفیانو کړی دی؟

په هند کې د اسلام خپراوي هغه وخت اهمیت ترلاسه کړ کله چې مسلمانو واکمنو هلته خپل حکومت جوړ کړ داسې بریښي چې واکمنو له دې سره لېوالتیا درلوده چې سیمه ییز خلک دې مسلمانان شي تر څو د دوی په سیاسي واک کې زیاتوب راشي مګر په دې لړ کې هغوی نه غوښتل چې د اسلام په خپرولو کې له زوره کار واخلي وېرېدل چې هسې نه د بغاوت په کولو سره مو له واکه وغورځوي ځکه چې د هندوانو شمېر بېخي ډېر وو.

بلې خوا ته واکمنو دا غوښتل چې په هندوانو کې دې یوازې هغه پلې مسلمانانې شي چې په سیاسي توګه اغیزې لري دغه راز به د حکومت په ټینګولو کې کار وکړي البته تر څو چې د عامو خلکو اړه وه حکومت او دین ډېر سره لیرې وو.

د معاصرو تاریخونو څخه نه څرګندېږي چې دیني عالمانو دې تبلیغ ته دومره مخته پیولي وي که څه هم کله نا کله به یې پر حکومت فشار اچاوه چې پر کفارو دې سختي وکړي هغوی دې ذلیل او خوار کړي مګر شهادتونه بیا چې هغوی په عامو خلکو کې د اسلام په خپرولو کې هیڅ کار نه دی کړی د دې لامل دا وو چې په هندي ټولنه کې روایتي په بیړ وېش موجود وو له کبله د کښته طبقې خلک د مسکنت ژوند تېراوه. جهالت او بدبختۍ په ضرب پیرن او چټل او سپېڅل په ټولنه کې یې د انسان په حیث ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود څکه مسلمانو واکمنو هم هغوی په همداسي حالت کي پرې ایښي وو او کومي اړیکي یې ورسره ټینګي نه کړې.

ځیني خلک د صوفیانو په هکله داسي فکر کوي چي هغوی په هند کي د اسلام په خپراوي کي ډېره برخه درلوده دا یوه غټه تېروتنه ده حقیقت داسي نه دی د دي تېروتني او غولوونکي فرضیې ایجادوونکي د صوفیانو عقیدتمندان دي چي تل د خپلو پیرانو په کارنامو کي له مبالغې ځخه کار اخلي که نه وي صوفیانو هم د اسلام په خپرولو کي کومه لېوالتیا نه ده ښودلې مثلاً په هند کي د دهلي د سلاطینو په لومړي دور کي معین الدین چشتي اجمیري، قطب الدین بختیار کاکي، نظام الدین اولیاء او نور ډېر لوی لوی صوفیان چي په کومو سیمو کي اوسېدل هلته د مسلمانانو شمېر ډېر لږ و، که د پورتنیو صوفیانو د عقیدتمندانو فرضیه سمه او پر ځای وي بیا خو په کار و، چي د اړونده سیمو ټول وګړي مسلمانان وای یا اکثریت مسلمانان وای او نه د تاریخي شواهدو ځخه داسي معلومات لاس ته راځي چي د هغوی له رویه دي هغوی هندوانو ته د مسلمانېدو تبلیغ کړی وي د مثال په توګه د نظام الدین اولیاء په هکله دا یو تاریخي حقیقت دی چي د هغه په لاس یوازي یو سړی مسلمان شو له دې ځخه روښانه شوه چي دا یوه ناسمه فرضیه ده چي په هند کي د اسلام په خپرولو کي د صوفیانو د تبلیغ ډېر مهم رول و.

په هند کي د اسلام د خپرېدو لاملونه نور دي، خلکو هغه وخت په مسلمانېدو پیل وکړ کله چي په هند کي د مسلمانانو حکومت ټینګ شو نوي مسلمانېدونکو غوښتل د یوه ټینګ مسلمان حکومت په شتون کي خپل منصبونه. جاګیرونه او جایدادونه خوندي کړي یا دا چي په مسلمانېدو سره په حکومت کي منصبونه یا حکومتي نوکري ترلاسه کړي د نورو هندوانو له لوري چي په له ټولني ځخه وشړل شول هغو به هم اسلام ته مخ ور ګرځاوه او مسلمانېدل به. د کښته درجې خلک په دې هیله مسلمانان شول چي ښایي په ټولنه کي د هغوی ټولنیز مقام لوړ شي او دوی هم د عزت وړ وبلل شي په ډېر شمېر خلک د اسلام د ښوونو ځخه په اغېزمن کېدو سره مسلمانان شول

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي دود هم و، چي يوه سياسي بندي مذهب بل کړ يعني له هندو څخه مسلمان شو هغه ته يې بخښنه کوله او له قيده يې آزاداوه مطلب دا چي ډېر لاملونه وه چي سيمه ييز خلک ورو، ورو مسلمانان شول.

د هند تر نيولو وروسته د واکمنو او د هغو د ملاتړ کوونکو رايه د هندوانو په هکله ښه نه وه، د برياليتوب احساس دوی ته دا وخت نه ورکاوه چي د هندوانو د کلتور يا د هغوی د مذهب په هکله کوم پاخه معلومات لاس ته راوړي پايله يې دا شوه چي هغوی هندو مذهب ته د خپلو ارزښتونو او قدرونو په رڼا کي وکتل او د سرسري جاج اخيستلو وروسته يې د هندوانو په هکله داسي فکر وکړ چي بت پرستي، د رقص و موسيقی سره مينه، په درمسالونو کي د جنسي اړيکو انځورنه، بې حسابه مذهبي مېلې، تېلې په لکو معبودان، د نارينه د جنسي عضو عبادت، د غوا په شمول نژدې د هر شي عبادت د هندو مذهب هغه خصوصيات دي چي بېخي له اخلاقه لوېدلي دي او تش خرافات او کفريات دي.

مسلمانانو ته دا پوښتنه ور پيدا نه شوه چي د هندوانو د مذهب تکامل څنګه وشو او د هندو مذهب رسمونه کله او څنګه پيل شول مسلمانانو چي د هندوانو رسمونو لکه د مېړه تر مرګ وروسته د هغه سره د مايني ژوندۍ سوځل، د ګنګا په چټلو اوبو کي د ګناهونو پرېوللو په نيت لمبېدل، د غوا بولي څېښل او يو لړ نورو رسمونو ته وکتل نور يې د هندوانو څخه زړه تور شو هغوی د هندوانو د مذهبي کتابونو، د هغوی د معبودانو او مذهبي افسانو په هکله معلومات نه درلودل ځکه يې فکر وکړ چي په هندوانو کي کوم پيغمبر نه دی تېر شوی او خدای د دې قوم اصلاح نه ده کړې ځکه چي نه په ارزي دغه راز مسلمانانو د هندوانو بت پرستي د عربو د جاهليت د زمانې د بت پرستی سره پرتله کړه هغوی په دواړو ټولنو کي يو شان او سره ورته اخلاقي بېلارۍ وپلټلې وروسته له واکمنو څخه وغوښتل شول چي د هندوانو بتان دي مات کړي د هغوی درمسالونه دي ونړوي تر څو د هندوانو اخلاقي حالت سم شي لکه په لومړي دور کي چي مسلمانانو په مکه کي د قريشو د مشرکانو اخلاق ور سم کړي وو او د مکې تر نيولو وروسته يې د هغوی بتان ور مات کړي وو.

Scanned with CamScanner

په منځنۍ آسیا کې د منګولانو تر تاړاکونو وروسته په ډېر لوی شمېر سره دیني عالمان هند ته وکوچېدل دغه عالمان د عقیدې له مخې سنیان او په فقهي چارو کې ډېر سخت وو هغوی په هند کې تر مېشتېدو وروسته د هند مسلمان پاچاهان دې ته اړ کړل چې د دې په ایسته دي هندوانو ته د ذمیانو په سترګه نه ګوري ولې چې ذمیان یوازي اهل کتاب دي هندوان اهل کتاب نه دي دوی دي یا و وژل شي یا دي مسلمانان کړل شي او که نه شي کولای چې مسلمانان یې کړي نو ذلیل او خوار دي یې کړي.

(سید نورالدین مبارک غزنوي وفات ۱۲۳۴م) د پاچاهانو د وجایبو په بیان کې وایي: "که پاچا د کفارو د ډېروالي له کبله نه شي کولای چې ختم یې کړي هغوی دي سپک کړي نه دي یې پر پړ.دي چې په عزت سره ژوند وکړي".

پاچا "غیاث الدین بلبن" خپل زوی خان شهید ته د نصیحت په کولو سره وویل: "دا د پاچا کار دی چې کفر، شرک، بت پرستي او کفار له منځه یوسي او که نه شي کولای چې له منځه یې یوسي نو دي یې خوار او زار وساتي".

"جلال الدین خلجي" پر دې خبره افسوس کاوه چې د هندوانو هره ورځ ډول په غاړه وي باجه وهي او روان وي د جمنا رود پر غاړه خپل مذهبي عبادت ته ځي "جلال الدین خلجي" ویل که زما وس کار کولای ما به دوی ته هیڅ اجازه نه وای ورکړې چې پان یې خوړلای سپین کالي یې اغوستلای یا یې د مسلمانانو په وړاندي په تونده لهجه خبري کولای.

د "علاؤ الدین خلجي" په زمانه کې یوه عالم "شمس الدین ترک" د حدیثو په سوو کتابونه هند ته راوړل او له ملتانه یې پاچا ته داسي ولیکل:

(خبر شوی یم چې د هندوانو ښځې او کوچنیان د مسلمانانو د دروازو مخ ته فقرونه غواړي، اې د اسلام پاچا! پر تا دي آفرین وي چې ته د محمد صلی الله علیه وسلم د دین داسي ساتنه کوې).

دیني عالمان پر دې خبره سره یو وه چې هندوان باید کمزوري وساتل ... کې د "علاؤ الدین خلجي" د دور نامتو عالم "قاضي مغیث" و ویل ... وان به تر هغو د مسلمانانو امر منونکي نه شي تر څو چې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکینان او بېوزله نه شي.

هغه و، چي مسلمانو واکمنو د هندوانو په هکله داسي پالیسي غوره کړې وه چي هغوی ټل د غلامۍ احساس وکړي مګر د ذمي والي د ذلت احساس موجود و، او د ذمي لپاره اړینه وه چي هغه دي د تحویلولو لپاره پخپله د ذمي پیسې راوړي، "شیخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني" په یوه لیک کي ولیکل"له کفارو چي کومه جزیه اخیستل کېږي مرام یې د کفارو رسوایي او ذلت دی".

د سلاطینو په دور کي هندوانو حق نه درلود چي د خپل مذهب تبلیغ وکړي هغوی د نړېدلي درمسال د بیرته ترمیمولو او د نوي درمسال د جوړلو حق نه درلود د هندوانو پر مېلو یې محصولات لګولي وو مسلمان د هندو ښځي سره واده کولای شوای مګر هندو د مسلماني ښځي سره واده نه شوای کولای.

یوازي مسلمانان وو چي د هند په ټولنه کي یې ځانګړی مقام درلود که نه وي تر دې دمخه چي څه اقوام هند ته راغلي وو ټول د هند په ټولنه کي جذب شوي او حل شوي وو مګر مسلمانانو تر دې اوږدې مودې وکولای شوای خپل وجود بېل وساتي د دې لامل دا دی چي مسلمانانو له منځنۍ آسیا افغانستان او پارس څخه تر ورتګ وروسته هم د خپلو پلارنیو سیمو سره اړیکي و نه شلولې او د هغه ځایو له مذهبي غورځنګونو او افکارو څخه اغېزمن کېدل له دې پرته مذهب هغه قوت و، چي هندوان او مسلمانان یې یو له بله لیري ساتل مسلمانانو هم توپیر غوښت هغوی وېرېدل چي په هندو اکثریت ورګډ نه شي او خپله ځانګړتیا له لاسه ور نه کړي.

په هند کي مسلمانه ټولنه پر دوو برخو وېشلې وه اوله برخه هغه وه چي د بریالیو په حیث هند ته راغلل او د حکومت تر جوړېدو وروسته هم پرله پسې د هغوی د لېږدېدني لړۍ له افغانستان او منځنۍ آسیا څخه ور پیل شوې وه دغه مسلمانان د اقتصادي وضعي د ښه کولو لپاره هند ته ور مات وو او بله برخه هغه سیمه ییز خلک وو چي د لوړي طبقې د هندوانو د ناسم سلوک او یو لړ نورو لاملونو له کبله مسلمانان شول او د مسلماني ټولني برخه وګرځېدل دغه راز مسلمانه ټولنه له سیمه ییزو او بهرنیو مسلمانانو څخه جوړه شوې وه مګر د ځایي او مهاجر تصور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت په تېرېدو سره تغیر پیدا کاوه ولې چې په لومړني دور کې چې کوم مسلمانان هند ته ورغلل هغوی د اوږدې مودې تر تېرولو وروسته سیمه ییز عادتونه او خوی و بوی غوره کړل او د هندي چاپېریال برخه شول که څه هم د ځایي او بهرني تصور اوس هم پاته و، کله چې "مغولو" پر هند برید وکړ او واک ته ورسېدل د هند زړو واکمنو ډلو هغوی بهرنیان وبلل او د هغوی برید یې بهرني تاړاک وباله د دې پر بنسټ د "راجپوتانو" سره ملګري شول د "مغولو" پر ضد یې جنګونه وکړل د "کنواهې" په جګړه کې "میواتیان" او "افغانان" په ګډه د "مغولو" پر ضد و جنګېدل تر دې بریده چې د "هلدیګاټ" په جنګ کې "افغانان" د "راجپوتانو" سره ملګري د "مغولي" امپراتور "جلال الدین محمد اکبر" پر خلاف وجنګېدل.

همدې توپیر ته په کتلو سره مغولو د قدرت تر ګټلو وروسته افغانانو او نور سیمه ییزو مسلمانانو ته په حکومت کې برخه ور نه کړه ولې چې هغوی د دهلي پاچاهي د هندوانو څخه نه بلکې د افغانانو څخه د جنګ تر کولو وروسته اخیستې وه هغوی فکر وکړ چې افغانانو له موږ څخه ماته خوړلې ده ځکه ور تیا نه لري چې زموږ سره سیالي وکړي یوازې دغه نه بلکې په هر قدم کې مغولو پر افغانانو بد ویل چې ولې یې ځانونه د عادتونو په اعتبار سره هندیان کړل.

په ټول مغولي دور کې د سیمه ییز او بهرني مسلمان تصور موجود و، کوم خلک چې له منځنۍ آسیا او افغانستانه هند ته ورتلل هغوی به تل په هند کې پر میشتو مسلمانانو ټوکې کولې چې خپل خوی او بوی یې له لاسه ورکړی دی او هندیان شوي دي نوي ورغلي مسلمانانو ځانونه د کلتور له مخې تر پخوانیو مسلمانانو لوړ احساسول.

کله چې یو څوک له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته ولاړ شي د هغه لپاره اسانه وي چې هغه دې ځان په نوې ټولنه کې ور ګډ کړي ولې چې هغه نه شي کولای د نوي ټولنې له کلتوري قوتونو سره مقابله وکړي مګر چیرې چې هجرت کوونکي په شمېر کې زیات وي په هغه صورت کې هغوی په نوې ټولنه کې هم د خپل کلتور د ټینګولو هڅې کوي د دې پر ته که په نوې سیمه کې

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي وسيلې لري وي په سيمه ييزو او په بهرنيانو کې ټکر پيل شي سيمه ييز وګړي ورغلي خلک د ځان دښمنان احساسوي او فکر کوي چې نوي ورغلي بهرنيان د قوت په استعمالولو سره د هغوی د ځمکو، باغونو، څناورو، ځنګلونو او معدنونو د لاندي کولو خيال لري.

په نوي ورغلي او سيمه ييزو خلکو کې دويم ټکر د تهذيب او کلتور وي نوي ورغلي د خپل ځانه سره د خپل هيواد ټول يادونه ور وړي د دوی رواجونه، کلتوري او ټولنيز ارزښتونه مزلونه ورسره کوي کله چې په نوي هيواد کې هغوی پر خپل کلتور عمل کوي او ساتي يې په لومړي سر کې کلتوري ټکر ډېر سخت وي مګر د وخت په تېرېدو سره دواړي ټولني يو د بل کلتوري ارزښتونه ومني او د دواړو ټولنو له ګډېدو څخه يو نوی تهذيب راپورته شي لکه په هند کې چې د آريايانو د ګډېدو په نتيجه کې يو بېل تهذيب رامنځته شوی و، مګر که په ګډون کوونکو ټولنو کې يوې ټولني ځان لوړ احساساوه او د يوازيوالي خوا ته يې زور واهه او داسي هڅې يې کولې چې هغه ټولې نخښې نښانې له منځه يوسي چې دوې ټولني سره يوځای کوي په داسې صورت کې د ټولنو په منځ کې ټکر د تل لپاره پاته شي او پوره نسلونه د دې ټکر قربانيان شي مګر ټکر او کشکمش له منځه نه ځي په داسې ټولنو کې هنر نه راټوکېږي ټولنيز کنګل والی له منځه ځي د تعصب او تنګ نظرۍ جوش تهذيبي او کلتوري پرمختګ په ټپه ودروي.

په هند کې چې کوم هندوان مسلمانان شول هغوی مذهب اليش کړ مګر کلتوري او تهذيبي ارزښتونه يې وا نه ړول، په نتيجه کې په هغوی کې هم د هندوانو رسمونه پاته شول او هم د مسلمانانو رسمونه ور ګډ شول څنګه چې سياسي ځواک د بهرنيو مسلمانانو په لاس کې و، او سيمه ييزو مسلمانانو خپل کلتور د اسلام برخه و نه ګرځاوه هغوی د بهرنيو مسلمانانو په مقابل کې ځانونه کمتر او کښته احساس کړل بل پلو ته ديني عالمانو هم تل د هغوی پر هندويي رسمونو نيوکې کولې هغوی يې پوره مسلمانان نه بلل او هغوی ته يې په نيمګړي مسلمانانو خطاب کاوه.

وېل کېږي چې د کښته درجې هندوان څکه مسلمانان شول چې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتل نوي ټولني ته تر ګډېدو وروسته ټولنيز حيثيت او درجه لوړه کړي هغوی تر مسلمانېدو وروسته ځانونه د کښتي درجې خلک نه احساسول غوښتل يې چې د سيمه ييزو رواجونو او دودونو څخه خلاصون ومومي او ځانونه په بهرنيو مسلمانانو ور ګډ کړي هغوی پر خپله پخوانی ځانګړتيا پښېمانه و، او غوښتل يې چې د بهرنيو مسلمانانو په رنګه نومونه غوره کړي د دې يو ښه مثال هغه هندوان دي چې تر مسلمانېدو وروسته به يې د خپل نامه سره د شيخ توری زيات کړ ډېرو نوي مسلمان شوي قومونو د خپلي ټولنيزي رُتبې د لوړولو لپاره د مسلمانانو قومونو نومونه غوره کړل لکه راجپوتان چې ځانونه يې خانان (۱) يا خانزاده ګان بلل د کښته ذات هندوانو دومره جرأت نه شوای کولای چې يوه لوړ قوم ته ځان منسوب کړي هغوی ځانونه مسليان وبلل.

په سيند کي ډېرو قبيلو تر مسلمانېدو وروسته خپل نسب عربو قبايلو ته ورساوه دغه راز يې خپله ټولنيزه رُتبه لوړه کړه مثلاً "تهيم" ځانونه "آل تميم" وبلل، "موريه" ځانونه "آل مغيره" وبلل او داسي فکر يې کاوه چې عباسيان، صديقيان، فاروقيان او عثمانيان دي بلوڅانو "محمد بن هارون" ته خپل نسب ورساوه "سمه" قبيلې د "عکرمه بن ابي جهل" کورنۍ ته خپل نسب ورساوه "سومرو" قبيلې دعوه وکړه چې د عباسيانو له پلازميني سامرې څخه راغلي دي څکه سومرو دي.

که يوې خوا ته په ټولنيزه او کلتوري توګه د خپل حيثيت تر بدلولو وروسته د ځايي مسلمانانو ريښې له خپلي خاوري او کلتور څخه وختلې بلې خوا ته بهرني مسلمانانو د هغوی دې بدلون ته هرکلی و نه وايه په سپکه سترګه يې ورته وکتل او په ټولنه کي د هغوی برابرۍ ته قايل نه شول کومو بهرنيو مسلمانانو چې د ځايي مسلمانو ښځو سره ودونه وکړل او د هغوی څخه چې يې کوم اولادونه پيدا شول هغوی ته هم په کښته سترګه وکتل شول د ځايي او د بهرني مسلمانانو له ګډون څخه چي کوم نسل پيدا شو هغه په جنوبي هند کي مېشت شو او د عربو نوايطو په نامه ونومول شول دغه خلک

---

(۱) خان په هند کې پښتانه ته ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "راس کماري" په ختیزه سیمه کي اوسېدل دلته ځینو عربو نوایطو د "تامل" ښځو سره ودونه وکړل له هغه چي کوم ګډ نسل پیدا شو هغه ته یې "لبي" و ویل عربو نوایطو "لبي" تر ځان کښته بلل.

په "کارومنډل" دور ته په عربي کي معبر وایي هلته چي کوم عرب مېشت شول د هغوی د سیمه ییزو مسلمانانو او هندوانو څخه سخته کرکه کېدله.

د "سکندر لودي" پر تخت په کښېنستلو کي تر ټولو لویه ستونزه دا وه چي د هغه مور د ځایي مسلمانانو له کورنۍ څخه وه افغان امیرانو نه خوښوله چي د یوې "زرګري" مور زوی دي پر تخت کښېني، په سیند کي د مظفرخان ترخان مور د "جاریجه" قبیلې څخه وه ځکه امیرانو نه پرېښود چي پاچاشي او د هغه مخالفت یې وکړ دغه د میرزا باقي ترخان مور هم د سیند ځایي ښځه وه هغه یې د ملنډو په طرز په دربار کي سیندۍ هلک باله.

د دهلي د سلاطینو د زمانې مؤرخ "ضیاءالدین برني" چي د پاچاهانو کوم حالات بیان کړي دي له هغوی څخه معلومېږي چي د مسلمانانو په ټولنه کي د حسب و نسب او د لوړي کورنۍ تصور څومره پوخ شوی و، د حسب او نسب پر بنسټ بهرنیو کورنیو د حکومت ټول لوړ منصبونه اشغال کړي وو او هر ډول ګټي یې پورته کولې ځکه هغوی غوښتل چي دغه نظام دي پر پښو ولاړ وي هغوی اهلیت او صلاحیت د نسب په مقابل کي له منځه وړه او یوازي یې هغه چاته د مخته تلو نوبت ورکاوه چي نسل، نسب او ذات یې لوړ وي د مثال په توګه د "شمس الدین التمش" په دور کي وزیر "نظام الملک جنیدي" د "قنوج" د خواجګۍ لپاره "جمال الدین مرزوق" پاچا ته ور ووست په دې وخت کي په دربار کي یو امیر "خواجه عزیز" ناست و، هغه چي "جمال الدین مرزوق" ته وکتل نو یې و ویل.

به دست دون مده خامه که گردون را مجال افتد

به سنگی که در کعبه است سازد سنگ استنجا

ژباړه: د کمصل په ګوتو کي قلم مه ورکوه، که د کمصل وس ورسېد د حجر اسود (توره ډبره) به د استنجا لوټه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا چې معلومات وکړل ربښتیا هم کم اصل و، که څه هم وزیر یې سپارښت کړی و، چې ډېر پوه او هوښیار خطاط دی مګر پاچا څوا ورځخه بده کړه چې د کمصلو د هنر له کبله زما د حکومت رنګ بدېږي تر دې وروسته پاچا امر وکړ چې د هغه په حکومت کې چې څه کمصل خلک لوړو چوکیو ته رسېدلي دي هغه ټول دې پسې واخیستل شي تر تفتیش وروسته پته ولګېده چې ۳۲ کسه کمصل دي دوی ټول یې د حکومت له دندو څخه وشړل.

د "شمس الدین التمش" دغه پالیسي "غیاث الدین بلبن" هم جاري وساتله هغه د "امروهې" د خواجګۍ منصب څکه "کمال مهیار" ته ور نه کړ چې د هغه پلار هندو غلام پاته شوی و، د "کمال مهیار" په هکله و ویل شول چې ډېر باسواده، لایق او هنر لرونکی انسان دی مګر د کمصل ذات سره اړه لري "غیاث الدین بلبن" ویل: زه هیڅکله نه شم کولای چې یو کمصل یا نااهل انسان په هغه حکومت کې راسره ګډ کړم چې خدای ما ته په انعام کې راکړی دی، د نوموړي پاچا په هکله د هغه معاصر مؤرخ "ضیاءالدین برني" په ډېر ویاړ سره د "غیاث الدین بلبن" په هکله لیکي:

(هغه د پاچاهۍ په ټوله دوره کې چې ځلوېښت کاله وه د هیڅ رئیس(۱)، بازاري(۲)، مفرد(۳)، کمصل(۴)، ټوکي(۵) او رذیل انسان سره خبره و نه کړه).

محمد تغلق چې د خپلو امیرانو د زور د ماتولو لپاره ځایي مسلمانانو ته کوم منصبونه ورکړل د هغوی پر سر د ده سره زښت مخالفت وښودل شو معاصر مؤرخ "ضیاءالدین برني" د هغو خلکو نومونه په خپل کتاب کې راوړي او د داسي احساساتو ښکارندویي کوي چې د هغه زماني د هند د مسلمانانو ذهني کچه یې ښودله، هغه ولیکل:

(د بد اهل د زوی نجبا مطرب رُتبه یې ډېره لوړه کړې ده... دغه راز یې

---

(۱) د کښتنۍ درجې چارواکی.

(۲) د کښتنۍ درجې سوداګر لکه بنجاره، دوکاندار.

(۳) [illegible] چې د هیڅ امیر په مشرۍ کې نه وي او یوازې وي.

(۴) نوي مسلمان یا هغه هندو چې مسلمان شوی وي.

(۵) [illegible] د مسخرو کوونکی.

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "عزیز خمار" د هغه د ورور "فیروز دلاک"، "منکا الشیر"، "مسعود خمار"، "ګدا باتهوان" او نورو کمصلو ته لوړ منصبونه ور کړي. "شیخ بابو فلک بچه جولا" یې خپل ځنګ ته کښېنولی دی "پیرا باتهوان" ته یې چې د هند تر ټولو رذیل او سپک انسان دی د دیوان وزارت ور سپارلی دی ـــ د "احمد ایاز" غلام "مقبل" ته یې د ګجرات وزارت ور کړی دی.

د مغولو په زمانه کې د بهرني او ځایي مسلمان توپیر پاته و. دغه توپیر له اروپا څخه راغلي سیلاني "برنیر" هم حس کړ او دې لیکل چې له منځنۍ آسیا څخه راغلي خلکو رنګونه سپین دي او ځایي مسلمانان غنم رنګه او تور دي دغه شي د دواړو تر منځ توپیر ساتلی دی سپین پوستي مسلمانانو خلفونه غنم رنګو او تور پوستو مسلمانانو لوړ ګڼلي او هغوی ته یې په سپکه سترګه کتلي دي. ته یه کتلو سره امیران او د لوړې طبقې خلک کوښښ کوي چې د کشمیري ښځو سره ودونه وکړي تر څو اولادونه یې سپین رنګي وي.

قدرت د بهرنیو مسلمانانو په لاس کې و. هغوی د نورو قومونو په هکله افسانې خپرې کړي وې او د هغوی د ځانګړو تیاوو په پاکلو سره یې هغوی ته د حکومت یو له ځانګې ور کړې وې د بېلګې په توګه د منځنۍ آسیا څخه د حکومت لوی منصبونه اشغال کړي وو افغانان او ترکان عیسایي او ... کېدل لښکر له دوی څخه جوړ شوی و. عربو او عثماني ترکانو ته یې ... ورسپارلي وو حبشیان خواجه سرایان وو کشمیریان ... حرام ... کېدل او نوي مسلمانېدونکي ته یې هیڅ منصب نه ور کاوه دې ټولو کړنو څخه ... و چې بهرني مسلمانان قدرت په لاس کې ولري او نور اقوام ځني محکوم ...

په هند کې د مسلمانانو ټولنه په اشرافو او اجلافو تر وېشل کېدو وروسته ټوټې ټوټې شوې وه اشراف هغه خلک وو چې له بهره ور غلي وو په هند کې به حکومتونه جوړ کړي وو په هغو کې یوه ډله د مغولو وه ځکه چې په هند کې دوی واک ته رسېدلي وو دوی هم اشراف بلل کېدل وروسته مغول د میرزا نامه سره وبلل شول.

په اشرافو کې یوه ډله د سیدانو هم وه چې هغوی د هند په مسلمانانو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو زیات ددرناوي وړ او سپېڅلي بلل کېدل او د عزت په توګه یې شاه ورته ویل دوی ته کراماتي افسانې منسوبې وې او داسي فکر کېده چي ساداتو ته خدای ډېر ستر قوت ورکړی دی د دوی دعاوي او ښېراوي د خدای په دربار کي ژر منل کېږي او پر دوی اور اثر نه کوي دوی تاویزونه، څاښتونه او لیکل شوي دعاګاني په خلکو ځینېلې واکمنو یې هم درناوی کاوه او په حکومت کي مذهبي منصبونه دوی ته ورکول کېدل که به یوه سید جرم وکړ هغه بخښل کېده زیاتره واکمنو د هغوی د وژلو څخه ډډه کوله.

دغه درناوي او عزت د ساداتو خیالات ور لوړ کړه هغوی د ټولني څخه بېل شول ودونه یې یوازي پخپلو منځو کي سره کول تر څو دوی خپاره او کمزوري نه شي په ښارونو کي د نورو مسلمانو څخه په بېلو محلتونو کي اوسېدل هدیرې یې هم بېلي وې تر څو خلک دروړونه ور وړي او ځوک چي د مرادو لپاره زیار تونو ته ورځي د دوی هدیرې ته ورشي.

ساداتو دوې ګټي کولې هم یې دروړونه ټولول هم یې درناوی کېده پای یې یې دا شو چي د منځنۍ آسیا څخه د ساداتو په نامه بې شمېره کورنۍ هند ته ور ماتي شوې او په هند کي مېشتي شوې مثلاً د "کلوړا" د پاچاهۍ په دور کي یوازي د سیند په "ټټه" ښار کي د سیدانو دوولس غټي کورنۍ میشتي وې له دې څخه پرته د سیدانو کوچنۍ کورنۍ هم هلته ځای پر ځای شوي وې سیدان په حکومتونو کي د قاضي، صدر، مفتي او شیخ الاسلام منصبونو ته رسېدلي وو غټې جایدادونه او جاګیرونه یې درلودل په دوی کي زیاتره پیران وو خلکو دروړونه او سوغاتونه ورته راوړل زیاتره کښتګرو او بزګرو د خپل فصل څلوېښتمه برخه دوی ته ور کوله.

څنګه چي افغانانو هم په هند کي حکومت کړی دی او د مغولو په آخري دور کي په ډېر لوی شمېر سره هند ته ورغلل هغوی هم خپل نسلي لوړوالی سیاست او جنګونو له لاري ټینګ کړ دغه راز هغوی هم د نورو بهرنیو مسلمانانو په شان له ځایي مسلمانانو لیري اوسېدل کومي ټولنیزي او کلتوري اړیکي یې نه ورسره ساتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قومونو لوړوالی او کښته والی له پخوا څخه د هند په ټولنه کې موجود و، او په هند کې یې د کُف او سیالۍ تصور رامخته کړی و، په خاصه توګه یې د واده په لړ کې دې ته ډېر پام کاوه تر څو په راتلونکي نسل کې یې خرابي را نه شي د لوړ او کښته ذاتونو تصور ته مسلمانانو هم هند ته تر ورتګ وروسته ارزښت ورکړ د هیڅا لپاره شونې نه شوه چې هغه دې خپل ذات پرېږدي د بل ذات خلکو د هغه دغه حرکت نه نامه څکه په مسلمانانو کې د ذات سره وفادارۍ ډېر ارزښت ترلاسه کړ.

بهرنیو مسلمانانو د خپلې پېژندنې لپاره د خپل نامه سره د خپلو پلارنیو ښارونو نومونه لیکل لکه: سمرقندي، بخاري، بلخي، غزنوي، غوري، ګردېزي، مدني، قریشي او شیرازي په دغه خلکو کې چې د بخارا څخه کوم خلک راغلي وو هغو ټولو ځانونه سیدان بلل پخپله بخاري توری د سید په معنیٰ ګرځېدلی و، داسې فکر کېده چې د بخارا ټول اوسېدونکې سیدان دي او هلته بې له سیدانو بل هیڅوک ژوند نه کوي څنګه چې بهرني مسلمانانو پوځ او د حکومت غټې چوکۍ اشغال کړې وې څکه په هغوی کې اړونده خویونه لیدل کېدل لکه بهادري، غښتلتیا، علمیت، سخاوت، زړه سواندي او داسې نور...

ځايي مسلمانان زیاتره دستګر دانان، کښتګر، مزدوران، جولاګان، خیاطان، قصابان، دلاکان او کارګران وو دا هغه کسبونه ووچې دوی تر مسلمانېدو دمخه هم کول او چې مسلمانان شول هم یې دغه کسب جاري وساته د بهرني او ځايي مسلمانانو تر منځ زبردست توپیر موجود و، د خواریکښۍ او زیار کښۍ له کبله هغوی ته په سپکه سترګه کتل کېدل که به بهرنی مسلمان مسکین شو هغه د لوړې مرګ خوښاوه مګر پورتني کسبونه یې نه غوره کول څکه چې وېرېدل هسې نه په ټولنه کې یې مقام کم شي او په سپکه سترګه ورته وکتل شي.

ځايي وګړي چې مسلمانان شول بهرنیو مسلمانانو هغوی هیڅ هم د قدر وړ و نه بلل او تل یې هغوی وروسته پاته ساتل په ځینو سیمو کې تر دې بریده د تعصبه ډکه رویه کېدله چې د کښته ذاتو مسلمانانو نه شوای کولای په خوراکو او ناسته و، ولاړه کې د اشرافو مسلمانانو پیښې وکړي لکه هندوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برهمنانو چي پر سوډرانو(۱) رنګارنګ بندیزونه لګولي وو دغه راز بندیزونه پر ځایي او کمذاته مسلمانانو لګېدلي وو د "سهارنپور" په سیمه کي وضع دي برید ته رسیدلې وه چي د امیرانو او اشرافو له لوري پر کښته مسلمانانو دغه ډول بندیزونه وو.

۱- هغوی حق نه درلود چي پلو یا غورمه پخه کړي ځکه چي دغه د لوړي طبقې خواړه دي.

۲- هغوی حق نه درلود چي د لوړي طبقې خلکو ته مېلمستیا او ست وکړي ولي چي د ست کولو حق یوازي د لوړي طبقې خلک لري.

۳- هغوی حق نه درلود چي د خپلو کوچنیانو نومونه یې د لوړي طبقې د خلکو د نومونو په شان ایښي وای هغوی یوازي داسي نومونه ایښودلای شوای لکه، (تورک، خر، ګرندی او داسي نور...).

۴- هغوی ته اجازه نه وه چي د لوړي طبقې خلکو ته دي د "السلام علیکم" په ویلو سره سلام ور واچوي هغوی باید یوازي آداب یا بندګي و وایي.

له دې څخه معلومېدله چي په هند کي هیڅکله په مسلمانانو کي یووالی نه و، او تل دوی د ټولنیز توپیر په خانو کي وېشلي وو د هندوانو په څېر دوی هم وېشلي وه د لوړ او کښته تصور پکښې راسخ و، هغه خلک چي د روښانه راتلونکي مهال په هیله مسلمانان شول تر څو په نوې ټولنه کي د هغوی درناوی وشي مګر د بهرنیو مسلمانانو له لوري دوی ته لوړ مقام ور نه کړل شو که څه هم ډېرو نوي مسلمانانو ځانونه د دوی په شان بهرني مسلمانان کړه نسبونه یې بدل کړل بخاریان سیدان، خانان او تُرکان شول مګر ټولنیزه رُتبه یې بیا هم پورته نه شوه او هماغسي د هندو توب او بت پرستی د زمانې غوندي سپک پاته شول.

هند ته چي کوم خلک ور مات شوي وو په هغوی کي اکثریت د پوځیانو، شاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو، پیرانو، درویشانو، فقهاوو او دیني عالمانو وو، هغوی

---

(۱) سوډران یا شودران د هندوانو د څلورو ټبرونو څخه یو هغه ټبر دی چي تر نورو ټبرونو کښته بلل کېږي د هغوی په هکله په هندوانو کي دا عقیده موجوده ده چي سوډران د برهما (د هندوانو تر ټولو لوی معبود) د پښو څخه پیدا شوي دي. (ژباړن)

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوړې طبقې سره اړه درلوده هند ته تر ورتلو وروسته د حکومت لوړو منصبونو ته ورسېدل څنګه چې دوی د لوړې طبقې او د واکمنې ډلې حکومتي چارواکي وو ځکه دوی په ښارونو کي اوسېدل دغه راز دوی د هند د ښارونو بڼه ور بدله کړه او په هند کې یې د منځنۍ آسیا کلتور ته زیاته وده ورکړه.

واکمنې ډلې د خپلو یو لړ اړتیاوو د پوره کولو لپاره کارخانې جوړولې چې هلته مریانو او مزدورانو کار کاوه او د واکمنو ډلو لپاره یې جامې، لوښې، زېور او نور ډول ډول سامانونه جوړول د واکمنو ډلو او امیرانو خوی او بوی او عادتونو په ښارونو کې یو لوړ کلتور پیدا کړ چې د کلیو څخه یې توپیر درلود د دې کلتور بنسټ پر هغه پیسو او شتمنیو ولاړ و، چې له کلیو باندو څخه ښارونو ته راغلې وې د کلیو باندو او لیرې پرتو سیمو خلکو خپل زیات تولیدات ښارونو ته لېږل مګر ښارونو د مالچې په بدل کې هغوی ته هیڅ نه ورکول که یې ورکول بېخي لږ یې ورکول د کلیو او لیرې پرتو سیمو خلکو اړتیاوې د بېوزلۍ او مفلسۍ له کبله ډېرې محدودې وې هغوی په خپلو سیمو کې ګزاره کولای شوای البته د هغوی تولیداتو د ښارونو په پرمختګ کې ډېر رول لوباوه.

په ښارونو کي پاچاهانو او امیرانو باغونه، کلاګانې، مسجدونه، مقبرې او مینارونه جوړول د هغوی د ساعت تېرې توکي نڅا، شعر، موسیقي او د شرابو محفلونه وو د ښار د اوسېدونکو خواړه او جامې هم د کلیو د اوسېدونکو څخه بېل وو.

په هغه زمانه کي چې لا په هند کي یوازې هندوان اوسېدل هم د کښته ذاتونو خلک په کلیو کي اوسېدل ډېر لږ ښارونو ته ورتلل مګر کله چې مسلمانان هند ته ورغلل هغوی مزدورانو او چوپړ وهونکو ته اړتیا درلوده ځکه هغوی د کښته ذاتونو خلکو ته اجازه ورکړه چې ښارونو ته دې راشي دغه راز د ښارونو وګړي ډېر شول او په ښارونو کي د مزدورانو نېستي له منځه ولاړه.

په ښارونو کي بهرنیو مسلمانو واکمنو د ځایي کلتور څخه بېخي بېل کلتور ته وده ورکړه په کلیو کي یا هندوان اوسېدل یا ځایي مسلمانان چې له هندوانو څخه مسلمانان شوي وو دغه راز خلک د یوه کهول په بڼه اوسېدل هغوی زاړه

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمونه او ارزښتونه پاته ساتلي وو او په ډېرو رسمونو او رواجونو کې په دوی او هندوانو کې کوم خاص توپير نه و، د ځايي مسلمانانو دې خصوصيت بهرني مسلمانان له دوی څخه ليري کړل ځايي مسلمانانو د خپلي خاوري سره اړيکي درلودې هغوی د خپل کهاله د رواجونو سره تړلي وو او په فکري لحاظ د هغوی اړيکي د هند د ارزښتونو سره نښتي وې کله چي مسلمانان شول شول او د يوې داسي اوضاع سره مخ شول چي په جسمي لحاظ سره په هند کي اوسېدل مګر په روحي لحاظ سره د بهرنيو مسلمانانو په څېر هغوی خپل مرکز له هنده دباندي وپلټه.

سره له دې چي ځايي مسلمانانو غوښتل په ټولنه کي مساوي مقام لاس ته راوړي مګر پاته راغلل بهرنيو مسلمانانو د هغوی ټولنيزه رتبه ور لوړه نه کړه بلي خوا ته په مسلمانېدو سره هغوی د خپل تېر مهال څخه هم پرې شوي وو له دې کبله هغوی د کمترۍ په احساس اخته شول او ټول ذهني او هنري وړتياوي يې په مغزو کي وچي شوې همدا لامل دی چي په پوره اسلامي دوره کي هيڅ ځايي مسلمان، نوموتلی شاعر، اديب، ديني عالم، فقيهه، جنرال، سپه سالار، وزير او منصبدار نه شو او نه کوم بل لوړ منصب ته ځايي مسلمان وتوانېد چي ورسېږي.

په داسي اوضاع کي د مسلمانانو په ټولنه کي دوه ډوله اغيزي پيدا شوې يو دا چي دوی د هند د خاوري سره هيڅ مينه نه درلوده او هند ته يې د کفر او شرک د خاوري په سترګه کتل ولي چي د هغه خاوري ډېر کي هندوان وو مسلمانانو فکر کاوه چي د هند په مشرکانه او کفري چاپېريال کي د خپل مذهب د ساتني لپاره بايد په ډېر پام سره ګامونه واخلي ځکه هغوی د هند خاوري څخه بېل او نابلده شول او اړيکي يې له پيله د هنده سره و نه نښلولې شوای د دې يې د خواخوږۍ مرکز له هنده دباندي په خپلو پلارنيو سيمو کاوه له دې څخه يو روماني او افسانوي خوش فهمي پيدا شوه د هند يوه ديني عالم په خپله وصيت نامه کي وليکل:

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(موږ اجنبیان یو زموږ پلار او نیکه هند ته د اجنبیانو په توګه راغلي وو زموږ لپاره عربي ژبه او عربي نسب دواړه د وياړ لامل دي تر څو چي مو وس کار وکړي موږ باید د عربستان خوی او بوی له لاسه ور نه کړو څکه چي عربستان د نبي صلی الله علیه وسلم د زوکړي ځای دی او باید د عجمو له رسمونو او د هندوانو له عادتونو څخه ځانونه لیري وساتو).

نوموړی دیني عالم په خپله وصیت نامه کي بهرني مسلمانانو ته د وینا په کولو سره وايي چي عجمي رسمونه او د هندوانو عادتونه دواړه بد دي باید لیري ړرڅخه و اوسو تر دې وروسته هم داسي انګېرل کېدله چي د هند خاوره د مسلمانانو تلپاته هیواد نه دی دلته دوی یوازي استوګن شوي دي.

کله چي اړتیا ولیدل شوه چي باید په بنګالي ژبه مذهبي کتابونه وژباړل شي تر څو د بنګال مسلمانانو ته ورسپېرې په دې مسئله کي ډېرو دیني عالمانو نېه وکړه چي د هندوانو په "دیوناګري" لیکدود د دیني کتابونو په لیکلو سره دوی نه غواړي چي ګناه کاران شي دا د دیني کتابونو ډېره لویه بې ادبي ده ولي چي د هندوانو ژبه ناپاکه او ناولې ده.

د "حاجي محمد" په نامه یوه مذهبي عالم نه غوښتل چي د هندوانو په لیکدود کتاب ولیکي هغه ولیکل که څه هم نه غواړم مګر خلکو ته د پوهې د رسولو کوښښ کوم که څوک زما هندی لیکدود و ویني نو مخ دي نه ورڅخه ګرځوي کر که دي نه راڅخه کوي، یوه بل دیني عالم "عبدالنبي" و ویل: "په زړه کي وېرېږم چي خدای راڅخه خوابدی نه شي چي ما د مسلمانانو مذهبي کتابونه په بنګالي ژبه ولي ولیکل؟"

له داسي افکارو څخه په مسلمانانو کي بې اتفاقي پیدا شوه که څه هم منف دوی سره نژدې کول مګر په دوی کي ټولنیز توپیر دومره پیاوړی و، چي دوی هیڅکله سره نژدې نه شول د دوو بېلو بېلو افکارو په درلودلو سره د مسلمانې ټولنې د وګړو اړیکي د هند د خاوري سره ټینګي نه شوې وطن او ټولنه سره بېل شول او د وطن سره تړلی د خوندیتوب احساس له منځه ولاړ د دوی د کلتور ریښې په مځکه کي ښخي نه وې هغوی د اجنبیت په احساس سره د ټولنې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه نه درلوده د هغوی په وړاندي تر ټولو لوی مرام دا و، چي په اقتصادي لحاظ سره ځانونه پیاوړي کړي او وس و توان یې کار وکړي چي بل هیواد ته هجرت وکړي او هند پریږدي.

په دغه دور کي ډېر مذهبي غورځنګونه راپورته شول هغوی غوښتل چي مسلمانان دي د هندوانو سره هیڅ ډول اړیکي نه ساتي هغوی فکر کاوه چي د هندوانو سره اړیکي مسلمانان کمواکي کوي غورځنګونو کوښښونه وکړل چي مذهب په خپله رُکه (خالصه) بڼه وساتل شي په هند کي هر ځلي مذهبي غورځنګونه پورته شوي دي یو هم ټولنیز، اقتصادي یا سیاسي غورځنګ نه دی پورته شوي چي وروسته پاته طبقو ته مرسته ورسوي او هغوی په راپورته کړي له دې څخه معلومېږي چي د هند مسلمانان د هند له خاوري څخه بېل شوي وو او په هغوی کي د ټولنیز او اقتصادي بهبود هیڅ تصور موجود نه و.

لکه څنګه چي د هند د مسلمانانو واکمنو ډلو په افغانستان او منځنی آسیا اړه درلوده څکه هغوی په فکري لحاظ سره د هند کلتور غیر اسلامي باله او په کښته احساسولو سره یې و نه مانه او تل یې هلي ځلي کولې چي خپل بهرنی کلتور ژوندی وساتي د دې لپاره هغوی داسي کتابونه لوستل چي د دوی د پلارني ټاټوبي کیسې او افسانې پکښي راغلي وې لکه، لیلا و مجنون او شیرین وفرهاد چي له کوچنیوالي څخه یې د ماشومانو په ذهنو کي ور اچولې د دې پر ته حافظ، رومي، سعدي، جامي او فردوسي هغه شاعران وو چي کتابونه یې هندي مسلمانانو لوستل او زړونه یې په خوشالول.

مشهور دیني عالم "مولانا عبید الله سندي" یو ځای داسي لیکي:

(کله چي یو هندی مسلمان بل مسلمان هیواد ته ولاړ شي هلته د خپل هندي توب څخه کر که حس کړي او د هغه په ذهن کي دا خبره راسخه شي چي هندي توب او اسلام دوه بېل توکي دي کله چي یو هندی ځان مسلمان بولي هندي توب له ذهن څخه ایستل مهم بولي د دې سبب معلومول ډېر ستونزمن دی چي مسلمانان د نورو مسلمانو هیوادونو دیني عالمانو او د امامانو ... او د هغوی د ښوونو څخه اسلام زده کوي له دې څخه دا نتیجه راوزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د هغوی په ذهنونو کي په شعوري او غیر شعوري توګه دا خبره روښانه کېږي چي د اسلام او د هغه د ښوونو ټول مرکزونه له هنده بهر دي).

د پورتنیو افکارو په درلودلو سره د هند مسلمانو واکمنو ډلو خپلي اړیکي له هنده بهر په خپل پلارني ټاټوبي کي ساتلي وې او د ځایي مسلمانانو سره یې هیڅ ډول اړیکي نه درلودې او کله چي د حکومت د بدلولو اړتیا ولیدل شوه هغوی یوه بهرني هیواد ته سترګي ور واړولې همدا وجه وه کله چي افغان امیران د ابراهیم لودي څخه ناخوښه شول هغوی ظهیرالدین بابر ته پر هند د یرغل کولو بلنه ورکړه تر څو هغه د حکومت په بدلولو کي د دوی سره مرسته وکړي او تخت دوی ته په لاس ورکړي.

د دوی خیال خام و، ډېر کم داسي شوي دي چي یو بهرنی ځواک قدرت لاس ته راولي او هغه یې بل چا ته ور وسپاري ځکه کله چي بابر د هند افغان پاچا ابراهیم لودي ته ماته ورکړه او حکومت یې ونیو نو یې منځنی آسیا ته د بیرته تلو خیال پرېښود.

د دې دویم مثال د "احمد شاه بابا" دی چي هغه ته هم پر هند د یرغل کولو بلنه ورکړل شوه تر څو د مرهټیانو زور ور اوبه کړي دغه راز د مېسور واکمن ټیپو سلطان هم د انګرېزانو پر ضد د ترکیې د خلیفه څخه د مرستي خواست وکړ او د ۱۸۵۷م تر بغاوت وروسته مسلمانانو هیله درلوده چي د پارس پاچا به د دوی سره مرسته وکړي وروسته په افغانستان کي د نادر شاه په دوره کي هم د هند د مسلمانانو په نمایندګي ډېر دیني عالمان افغانستان ته په دې نیت ولاړل چي د افغانستان پاچا به د دوی سره له هنده د انګرېزانو په شړلو کي مرسته ورسره وکړي مګر افغانستان خپلي سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ستونزې درلودې ځکه یې سر په ونه ګرځاوه.

له پورتنیو حوالو څخه برېښي چي د هند مسلمانو واکمنو ډلو پر ځان باور نه درلود ځایي مسلمانانو ته یې د کښته طبقې د مسلمانانو خطاب کړی و، له هغوی څخه یې هر ډول اړیکي شلولي وې که دوی پر ځای د دې چي بهرنیو ځواکونو ته بلنه ورکړي په خپلو کي سره یو موټي شوي وای مرهټیان

Scanned with CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سیکان یې د خان ملګري کړي وای او د انګرېزي استعمار سره یې مقابله کړې وای نه یوازي به یې انګرېز د هند له خاوري شړلی وای بلکي د هند په مسلمانه ټولنه کي به هر ډول ډله ییز توپیر هم له منځه تللی وای دغه راز به د هند مسلمانانو ستري صدمې نه لیدلای او پر شو بر خو به نه وېشل کېدلای.

## مأخذ:

برصغیر میں مسلمان معاشرے کا المیہ
لیکوال ډاکټر مبارک علي
چاپ ۲۰۰۵م لاهور
فکشن هاوس، لاهور
(مسلمان معاشره)

Scanned with CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**